


# د مور ناپایه مینه

## د لنډو کیسو او کیسه‌گیو ټولگه

محمدصفر خواریکښ

# د مور ناپایه مینه

## د لنډو کیسو او کیسه‌ګیو ټولګه

محمدصفر خواریکښ

۱۴۰۵ل/۲۰۲۶ز

**د کتاب پېژندنه**

سرلیک: د مور ناپایه مینه

لیکوال: محمدصفر خواریکښ

د چاپ نېټه: ۱۴۰۵ل/۲۰۲۶ز

د چاپ وار: لومړی

ډیجیټال جوړښت: محمد قاسم آسمایي

ډیجیټال نشر: د راه پرچم انتشارات

راه پرچم ناشر اندیشه های دموکراتیک

www.rahparcham1.org

د کیسو او کیسه‌ګیو دا ټولګه خپلې خوږې مورجانې ته چې د ناپایه مینې سیورې یې پر سر لرم او د دوعا اغېز یې تل محسوسوم، ډالۍ کوم.

# نیولیک


څو کرښې د دې اثر په باره کې ........................................ I
سریزه................................................................ ۱
ویرژلې خندا.......................................................... ٥
بختوره ............................................................. ١٥
مُلا له بامه ننداره کوله ... ............................................ ۲۱
"لاسوندونه"........................................................... ۲۳
سره ټیکله ............................................................ ۲۹
رب دې چینار که (کړه) ...!.............................................. ۳۳
د مېرې ګلان........................................................... ٤١
ولېدې چیناره... ........................................................ ٤٥
چغان ابۍ.............................................................. ٤٩
ړنده ګوته ............................................................. ٥۳
بې اوبو سېلابونه......................................................... ٥٧
په تبۍ تور مخونه ........................................................ ٦١
د ګرګر د ژوند وروستۍ شپه ورځ .......................................... ٦٥
«زه خو د ګاډي کرایه نلرم!» ............................................. ٧١
په جګړه کې مینه......................................................... ٧٥
په وینو ککړه جغرافیه...................................................... ٩٥
نرمې خبرې، کاڼې زړه .................................................... ٩٩

مات رباب............................................................ ۱۰۷
«...موسکا دې له زړه نده!» .......................................... ۱۱۱
د مور ناپایه مینه ........................................................ ۱۱۷

# څو کرښې د دې اثر په باره کې

د محترم محمدصفر خواریکښ له قلم سره له څو لسیزو راهیسې اشنا یم. له لیکنو نه مې یې نه یوازې گټنه کړې، بلکې خوند مې هم ترې اخیستی دی. نوموړی یو زیات‌کاری لیکوال دی چې په بیلابېلو برخو کې یې په ښکلي قلم نظم او نثر لیکي او وطنوالو ته یې زیات اثار وړاندې کړي دي.

د لیکوال د نورو اثارو په لړ کې دا اثر هم ځانگړی ځای او ارزښت لري؛ ځکه نه یوازې دا چې د وطن او خلکو د موجوده ژوند شرایط او حالات یې انځور کړي، بلکې د خپل ولس ډېر ویرژلې او دردونکې پېښې د کیسو او کیسه‌گیو په بڼه په ښکلي او خوندور نثر بیان کړې دي.

لیکوال پدې توگه که له یوې خوا د جگړې ناوړه پایلې رسوا کړي او د خدای او رسول له لارې د بې‌لارې شویو او انسان‌دوښمنه، ظالمو جگړه مارو څیرې معرفي کوي؛ له بل پلوه یې دغه ناوړه پېښې او غمیزې په تاریخ کې ثبت کړې دي.

د کتاب د منځ‌پانگې او کیسو له لوستلو جوتېږي چې د زیاترو کیسو اصلي سوژې رښتینې او پېښې یې په یوه مشخصه او پېژندل شوې سیمه او څرگنده نېټه کې ترسره شوې دي، چې هره غمیزه مالوم او پېژندل شوي قربانیان او عیني گواهان لري.

د بېلگې په توگه د کیرالې د چړاو ستر ناورین په «ویرژلې خندا» او «چغان ابۍ» په کیسو کې په داسې ویرژلې بڼه بیان شوې دي چې له جلادانو پرته د سالمو انسانانو سترگې لمدوي او زړونه یې دردوي.

همدا راز په «بختوره»«سره ټیکله»، «ملا له بامه نندارە کوله» او «د گرگر د ژوند وروستۍ شپه او ورځ» کیسو کې بیلابېلې ویرژلې پیښې

بیان شوې دي.

د دې ټولګې د زیاترو کیسو بله ځانګړنه داده چې ویرژلې پای لري. په ډیرې خواشینۍ او تأسف سره چې له دې ډول غمیزو زمونږ هیواد د څلورو لسیزو خونړي پیر کې ښارونه او کلي، بازارونه او لارې هیڅ یو خوندې نه ول.

څه باید وکړو، له بده مرغه د وطن او خلکو برخلیک مو داسې دی چې د دردونو او غمیزو لیکوال هغه بیان کړی دی.

د منلي لیکوال لپاره لا زیاته حوصله او توان غواړم.

په درنښت

محمدقاسم آسمایی

# سریزه

پوره باور لرم چې، د دې کتاب‌گوټي ډېره‌کی اوس‌مهالي لوستونکي د جګړو ځپلي او ټپي ټپي افغانستان د وروستۍ نیمې پېړۍ له ویرژلیو پېښو، نه یوازې دا چې خبر دي بلکې دردېدلي او غمېدلي هم دي. د پښتو ګړنه ده چې: «د جنګ خبرې خوږې، خو ساعت یې تریخ دی.» د جګړو د ډګر یو ژورنالیست مصطفی دانش چې د خپل ژوند له خطر سره‌سره یې له آسیا تر افریقا په جګړو کې ښکېلو بېلابېلو هېوادونو ته سفرونه کړي، د جګړو فجایع او د جګړه‌مارو جنایتونه یې لیدلي دي وایي: «د جګړو داستان د انسانانو فاجعه ده.»

له جګړې زېږېدلي ناورین په درد و غم او ویرژلو پایلو یې افغانان له بل هر چا ډېر ښه پوهېږي. دوی نږدې پنځه لسیزې د جګړو په اور کې سوي او د متخاصمو ډلو د ټوپک‌سالارانو او ټوپک‌یانو جنایتونه او بې‌رحمۍ یې پخپلو سترګو لیدلي او په بدنونو یې حس کړي دي. کله چې په جګړه کې د بمبارشویو او یا په رندو توغندیو لګېدلیو کورونو کې له نړۍ نه د بې خبرو تنکیو او تې‌پورې یا د میندو په نسونو کې نازېږېدلي په وینو لیت‌پیت ماشومان او د میندو راوتلي کولمې، توټې ټوټې اندامونه، له پېژندلو وتلي او نه مالومېږي چې په کوم بدن پورې اړه لري ګورو، که یوه ذره هم وجدان او عاطفه ولرو نو پوهېږو چې هیڅ جګړه عادلانه نه ده.

دا چې کیسه ویل او کیسه لیکل له اوږدو کلونو راهیسې د انسانانو په فرهنګي ژوند کې دود درلود او هیڅ قوم او ملت ترې بې برخې نه دی پاتې. د ځینو لیکنو پر بنیاد د کیسه ویلو او کیسه لیکلو د پېل نښې د مصر، چین، بابل، هند او یونان په تمدنونو کې لیدل شوې دي، نو

ویلای شو چې کیسه لیکل د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې زړې ریښې لري.

اوس مهال هم داستاني ادبیات د ادبي ډولونو یو په زړه پورې ډول دی، کیسه‌ییز ادبیات پخپله هم بېلابېل ډولونه لکه کیسه، لنډه کیسه، کیسه‌ګۍ او رومان لري.

ما هم د "لوپې لوبې" د جنایتو په لړ کې پر افغان ولس د تپل شوې نیابتي جګړې د ویرژلو پېښو رښتیني انځورونه د کیسو او لنډو کیسو او کیسه‌ګیو په اډانه کې کړې ده. د لنډو کیسو او کیسه‌ګیو دا ټولګه چې د دغو جګړو د وینو، اور او باروتو د لوخړو په رنګونو انځور شوې، نو د «د مور ناپایه مینه» سرلیک چې د یو نه بښونکي چړاو رښتینې کیسه ده ورته غوره کړ.

د «د مور ناپایه مینه» د لنډو کیسو او کیسه‌ګیو دا ټولګه چې تاسو یې د لوستلو اراده کړې ده؛ له یوې نیمې پخوانۍ لنډې کیسې سربېره زیاته برخه یې د "جهاد" په نوم د افغانستان د جمهوري نظام او زموږ په هېواد کې د شوروي اتحاد د سرو لښکرو خلاف، بیا د افغانانو د خپل‌منځي تنظیمي جګړو او د امریکا د متحدو ایالتونو په سرغنه‌توب د ناټو د یرغلګرو خلاف د جګړو په سیوري کې لیکل شوې دي. او د دې ټولګې له لیکلو نه زما هدف د جګړو غندل او د جګړه‌مارو د کرغېړنو موخو، جنایتونو او خیرنو څېرو رسواکول دي.

ادبیات د ټولنې هغه هنداره ده، چې نه یوازې څېره ښيي بلکې پټ زخمونه هم ښکاره کوي. ما هم هڅه کړې چې د خپل قلمي توان سره سم نه یوازې د خپلې ټولنې انځور وړاندې کړم بلکې له سترګو پناه پېښې هم د داستاني ریالېزم په اډانه کې د کیسو مینه والو لوستونکو ته وړاندې کړم. زما له انده ریالیستي داستانونه او کیسې هغه څراغونو ته ورته دي چې په تیارو کې ځلېږي. دا څراغونه ستونزې نه زېږوي،

بلکې په ټولنه کې شته ستونزې خلکو ته په ګوته کوي. کله چې خلک پر واقعیتونو  په ښه توګه وپوهول شی، نو د خپل فردي او ټولیز برخلیک په اړوند ښه تصمیم نیولای شي. د یادونې وړ ده چې پدې ټولګه کې د جګړو د ناورین پر ویرژلو انځورونو سربېره، د ریالېزم مینه‌والو لپاره د بېوزله افغان ولس د ورځني او ستونزمن ژوند او د ناوړه دود ځینې رښتینې انځورونه هم د لنډو کیسو په بڼه کښل شوي دي.

محمدصفر خواریکښ

# ویرژلې خندا

د بالښتونو لاریون[1]

د جلاوطنۍ له ترخه ژوند وروسته مې د پلرني ټاټوبي په لیدو سترګې روښانه شوې وې. له خپل هسکېرلي ولس، جګرهځپلي هېواد او د هغه له کاڼو بوټو سره پخوانۍ مینه مې د پردېسۍ ناخوالو څوچنده زیاته کړې وه. د بیا پردېسېدو له اندېښنې مې سترګې سره نه ورتلې، غوښتل مې هر وطنوال او د وطن کاڼي بوټي په مَړو سترګو وګورم، د شپې مې هم دآسمان له ستورو سترګې نه اوښتې. ځکه دې آسمان هم له پردېس آسمان سره توپیر درلود، ما په ټوله پردېسۍ کې نه دا رنګ له ستورو او پېرونو ډک آسمان لیدلی و او نه مې د شنه آسمان لاندې په آزاده هوا کې د نارنج ګل په وږمو کې د سپوږمۍ رڼا ته کټ اچولی و، نو شپې به مې رڼې تېرې شوې.

یوه ورځ د درمل اخیستو په نیت د اسدآباد ښار یو درملتون ته لاړم. ما لا د درملو غوښتنه نه وه کړې چې په سړک کې مې د ولایت د چارواکو په ګډون پر یوه ډله خلکو سترګې ولګېدې چې د کیرالې له لور نه راروان وو، د درملتون له خاوند نه مې د دغه کسانو د ډلهییز راتګ لامل وپوښته.

دی چې پخپله هم د دغه کلي و، په نیولي غږ یې وویل: «نن د کیرالې د نرینه ټولوژنې ۳۳مه کلیزه ده، د دغه ناورین د شهېدانو په یاد او ارواو ته یې د دوعا لپاره آغاړه (د اسدآباد ښار ترمنځ له سیند پورې غاړه) د کیرالې په کلي کې د شهیدانو د ډېرۍ خواته جومات کې غونډه

[1] دا کیسه د کیرالې د ناورین د۳۳م تلین په مهال لیکل شوې ده.

شوې وه.»

د ده له خبرې سره ماته ټول هغه ملګري، ټولګيوال، خپلوان او هغه کيراليان چې پېژندل مې او په دغه ټولوژنه کې يې د سور ګرګر د قاتلانو په بولنده ټټرې په ګوليو سورۍ شوې وې، څه مړه او څه ټپيان د بلدوزر مخ ته غورځولي او د خاورو ډېرۍ يې پرې جوړه کړې وه، سترګو ته ودرېدل. له درمل اخيستو پرته دغه ډله‌ييز مړستون ته لاړم.

د شهيدانو اروا ته د دوعا په مهال مې پام شو چې د مړستون د ډېرۍ ښخ ته يوه بوډۍ ناسته ده، په يو لاس يې يو پنډوکی په ټټر پورې ټينګ نيولی او په بل خاورې کنې او خاندي. ما پخپل ټول عمر کې د لومړي ځل لپاره پر قبر د ژړا په ځاي خندا وليده، نو وار د واره مې په بېچاره بوډۍ د لېونۍ ګومان وکړ، خو چې ورنيږدې شوم ګورم چې د بوډۍ کړه‌وړه د لېونيو ندي؛ خو له ډېره غمه يې د سترګو چينې وچې شوي دي. غمجنه او ويرژلې بڼه لري نو د خندا او قوتې د کيندلو لامل مې ترې وپوښته.

بوډۍ ترور د ځواب پر ځاى پوښتنه رانه وکړه، ويې ويل:

- ته څوک يې؟ خبرې خو دې زموږ د خلکو دي، خو څېره دې لږه بدله ښکاري.
- ما وويل: زه خو د همدې پورې غاړه کلي يم. نوم مې رېدى دى، نو څېره مې څنګه بدله ده؟
- بچې اوس خو د زوړ او ځوان مخونه يو شان په ويښتو کې پټ دي. پېژندل هم ګران شوي دي. خو ستا ږيره لږه بونډۍ ده، خو لکه چې نوم مې دې د خپل ځوانيمرګ زوي له خولې نه اورېدلى و.

بوډۍ ترور سوزنده سوړ اوسېلی وکړ او د خپل زوي په هکله يې وويل:

- «هغه دې خداى (ج) وبښي له سبق سره يې ډېر شوق و چې

کله به د مکتب او مکتبیانو خبرې کېدې، ستاسو د څو کسانو نومونه به یې خامخا یادول.»

داسې را مالومه شوه چې ترور د خپل زړه درد راته بیانوي، نو له ویرژلو اوسېلیو سره غبرګ یې وویل:

- «یوازې یو زوی مې و، په ډېرو کړاوونو مې غټ کړی و، نه مې غوښتل چې د سترګو نه مې پناه وي. دولس کاله مکتب یې په ډېره سختۍ چې کور او سارا دواړه ور په غاړه وو خلاص کړ. ورته ومې وېل:
«نور بس دی، خوب دې په ځان حرام کړی، رنګ‌بدی شوی یې. پدې کلي کې د ډېرو خلکو زامنو مکتب نه دی ویلی. تا خو لا دولسم خلاص کړ نور بس دی. زویه! هغه خو ستاسو خبرو داسې لیونی کړی و چې راته ویل به یې: مورې دا مې ارمان دی چې فاکولته خلاصه کړم. تا دې راته خدای ژوندۍ لري یوه ورځ به درباندې د فاکولتې نه د خلاصیدو زېری وکړم.»
ویل به یې: «ولې مورجانې هوښیار زوی دې نه خوښېږي؟ ما پرېږده چې نور سبق هم ووایم.»
ماورته ویل: «په ساه څه باور دی، زما به نور څومره عمر پاتي وي غواړم په خپل ژوند درته کور ودان کړم.»
ځواني‌مرګ به ویل: «ابې‌جانې زه خو لا د ښځې نه یم، اول به ځان سړی کړم، بیا به ستا د نږور غم کوو.»
ورته ویل مې: «د پردۍ لورګانې خو به تاته نه وي ناستې، ده به ویل: ابې جانې قحطي خو یې هم نه راځي.»
«قاتي (قحطي) خو یې نه راځي، خو د انځرګل مالیم (معلم) صېب لور مې ډېره خوښه شوې، په ښایست کې خو

بېجوړې ده، مکتب ته هم ځي ستا وړ ده. ډېرې جرګې پرې کېږي داسې نه چې چاته يې ورکي.
بچی! زموږ د مور او زوي به هره ورځ دا باس (بحث) و. د زړونو مالک هم زما زړه ته وکتل، د ده د نيمو شپو په سبق ويلو کې يې برکت واچوه او فاکولتې ته کامياب شو. بيا چې به ده هر څه ويل چې؛ اوس هم لا د واده وخت ندی، تاليم (تعليم) خومې ندی خلاص. ورسره نه مې منله. سمدستي مې په انځرګل اُستاد جرګې شورو کړې. الله دې هغه ته زما له ځوانيمرګ زوي او دې ټولو شهېدانو سره اته واړه جنتونه ورکړي، ويې نه ځوورلم زما د خوارې خپلوۍ ته راضي شو. ماليم صېب به راته ويل: «ته نېکمرغه يې چې خدای داسې نېک او هوښيار زوي درکړی، زه هم د خپل لور لپاره تر ده بل ښه څوک نه وينم.»

ترور چې پوهنځي ته د شاملېدو او د انځرګل معلم صېب نوم واخيست، پوه شوم چې دا د شهيد باتورجان مور ده. نور پوه نه شوم چې څنګه بې اختياره مې زړه کې بودۍ ترور ته د مور د درناوي ولولې راوپارېدې او له پنډوکي وزګار لاس مې ورله د هغې د باتورجان په شان ښکل کړ. يوه شېبه يې زه هم له هغه په لاس کې پنډوکي سره يوځای پخپل ټټر پورې ونيولم، د سترګو چينې يې را ماتې شوې.

د ا د هغه باتورجان مور وه چې د عمراخان لېسه کې يې زدکړې کولې، هغه مهال چې به کله موږ د پوهنتون په چوټيو کې کور ته راغلو، ده به هرومرو زموږ خواته ځان رارسوه. زموږ د همدوره انډيوالانو د هر يو له مسلک سره برابرې پوښتنې به يې کولې. ترڅو چې به يې قانع کوونکی ځواب نه و اورېدلی نو د پوښتنو لړۍ به روانه وه.

دا مهال چې د دې مړستون ډېرۍ ته ناست د هغه له بورې مور سره غږېږم. د خيال نيلی مې پنځه - شپږدېرش کاله شاته تللی. تنکی ځوان

باتورجان راته مخامخ ولاړ دی. د ده د پوښتنو لړۍ او زما د سترګو چینې یو راز جاري دي. زه لا د تېروخت انځورونو له ځان سره وړی وم چې د ترور ویرژلو ساندو د تېروخت له خیال نه بېرته د ډله‌ییز مړستون ډېرۍ ته ودرولم. ترور د خپل زړه ګنډه پرانیسته او د ځوانيمرګ شهید نوره کیسه یې پېل کړه:

- «بچې، زما د بدبختې سوال به خدای قبول کړی و، هغه جلال‌آباد کې فاکولته شورو کړه، نو کله‌ناکله به د جومې (جمعې) په شپو کور ته راته. له وروستي ځل راتګ نه یوه جومه (اوونۍ) مخکې مې ورته وویل: باتورجانه زویه دې راتلونکې پنجشنبې له به خامخا راځې چې خوره کوندۍ دې ده.»

ترور لدې خبرې سره سوړ اسوېلی وایست او زیاته یې کړه:

- « هغه شېبه ولې خدای ګونګه نکړم چې دی مې راغوښته. باتور جان وویل: ولې به نه راځم چې مور مې د خپلې نږور کور ته بیایي.
زویه، په ډېره بې‌صبرۍ مې د هغه د راتګ ورځې شمارلې، پنجشنبه وه چې راغی. زړه مې ساز شو، غاړه یې راکړه، لاسونه یې راله ښکل کړل. په غوږ کې را ته وویل: زما بزرګې مورې ته څه پوهېدې چې مرغلره (د معلم صېب لور) زما خوښېده.
ورته ومې ویل: تراوسه دې د سبق په بانه (پلمه) نه، نه ویل او اوس هسې زما د خوشالۍ لپاره وایې چې خوښېده دې.

***

مور دواړو د شپې تر ډېر ناوخته د سبانۍ خورې کوندۍ او بیا د واده خبرې وکړې.

پوه نشوم چې څه وخت مې سترګې سره ورغلې وې چې، د ټوپکو او ماشیګڼو ډزو راویښه کړم. که څه هم په وروستیو شپو کې خو د ډزو له غږونو سره چې لږ له وړاندې به راتلل عادت شوي وو، خو د دغه شپې ډزو راله خوب له سترګو وتښتوه. ټولې راته یادې دوعاګانې مې ویلې او له ځانه مخکې به مې د هغه ځوانيمرګ خواته چوف کولې. سهار نږدې و چې ډزې سړې شوې. د جومې سهار و، ما سباناری تیار کړ، د ځوانيمرګ باتور په دې جامو کې مې ورته پرتوګاښ واچوه.

هغه په ټټر پورې نیولی پنډوکی یې راوښود او بېرته یې په ټټر پورې داسې نږدې کړ لکه خپل د تي ماشوم. اوخپې خبرې ته یې دوام ورکړ:

- ما دسترخوان وغوړوه او هغه لا ځان نه و کنګال کړی چې د کور په دروازه کې د عسکرو شورماشور شو، دروازه یې په زور ټیل وهله او را ننوتل.

زما په چیغو باتورجان په لامده ځان، خبرن کالي واغوستل او په منډه له تشنابه راووت. د ده له راوتو سره بیا عسکر او ضابط د دسترخوان سرته رارسېدلي وو، هغه ته یې ټوپکې را واړولې، سوال و جواب ته یې پری‌نښود. ویل یې: د پُل خوا ته مو ټول خلک راټول کړي قومندان صېب ورته خبرې کوي.

باتورجان ورته وویل: خبرو ته څوک د ټوپک په زور څوک نه ورغواړي.

ظابط په غوسه وویل: د اشرار بچیه ته لا ما ته لار ښایې. زوي یې راته د ټوپکو په کونداغونو ووهه. ما چغه کړه: الله مو تباه کړه څه بوره بدنامه یې درله کړې چې وهئ یې. یو تن زه په سر ووهلم، بېهوښه ولېدلې وم. خدای پوهېږي چې

ځومره وخت به تېر شوی و، چې سترګې مې وغړېدې په مخ مې وينې بهېدې د کور هر څه ګډوډ شوي وو.
ما لکه لېونۍ لوڅې پښې، سرتور سر د پله خوا ته منډه کړه خو د قاتل عسکرو د کلي جومات ته اخوا پرې‌نښودم. جومات کې د ښځو او ماشومانو ژړاګانې او چغې وې، چا قران‌شريفونه لاسونو کې نيولي وو، او چا د جومات دروازه کې ولاړو منصبدارانو ته زارۍ کولې محشر جوړ و. له ۱۲- ۱۱ کلنو نه پورته ټول نارينه يې دې پټې کې چې اوس پرې د خاورو ډېرۍ جوړه ده را ټول او چارماري کړل. د ټېپانو کوکې فريادونه او په جومات کې د ايسارو ماشومانو او ښځو ژړا واويلا آسمان ته رسېده. په دې دنيا قيامت جوړ و، خو د دغو لېوانو سترګې سرې شوې وې، په ژونديو ټپيانو يې بلدوزر ورسم کړ او تر خاورو يې لاندې کړل، خاورې ډېر وخت خوځېدې څوک يې خواته نه ورپرېښودل.

ترور سوړ او ويرژلی اوسېلی وکړ او وې ويل:

- بچی له ډېره غمه مرګ نشته، که وی نو د کيرالې ټولې مېندې به له هماغه ورځې يوه هم ژوندۍ نه وای پاتې.

ترور غلې شوه، په لاس کې نيولی پنډوکی يې د وروستي ځل لپاره ښه شېبه په خپل ټټر پورې ونيو، بيا يې لکه خپل د غېږې ماشوم ښکل او په هغه خپل لاس کيندلې قوتي کې يې کېښود او په دواړو لاسونو يې پرې خاورې را واړولې.

ما لا د پنډوکي په هکله پوښتنې ته ځان نه و جوړ کړی، چې ترور پخپله د پنډوکي او د ښخولو له راز نه داسې پرده پورته کړه:

- زويه دا د باتورجان ځوانې‌مرګ هغه جامې دي چې د شهادت په سهار يې ظالمانو اغوستلو ته پرېنښود. ما پوره ۳۳ کاله له

ځان سره گرځولی وې. دغه ټوله موده کې مې د دې شهیدانو ډېرې ته دوعاګانې کړي دي او له پاک خدای نه مې د هغو قاتلانو تباهي غوښتې ده.

ما وپوښتله:

- ترورجانې نو اوس دې ولې ښځې کړې، نوره یې په گرځولو ستړې شوې که څنگه؟
- نه، زویه! خدای(ج) په خپلو کارونو ښه پوهېږي. ببگاه به مې ټوله شپه چې څنگه سترگې پټې شوې نو همدا یو خوب به مې لیده، چې دلته د پله خوا ته له لرې (لېرې) ډېره گڼه گوڼه ده او په سپینو، شنو، اسماني، تورو او ان سرو رنگونو کې په زرگونو بالښتونه ښکاري، دا بالښتونه خوځنده او زرگونو خلکو چې ښځې هم ورسره وې په لاسونو کې نیولي وو. د خلکو د گڼه گوڼې یو سر دلته او بل یې دومره وړاندې و چې ما یې اخیر نشو لیدلی. زه دې خوا ته را روانه وم، خو چې رانږدې شوم گورم چې د دغه ټولو خلکو ټترونه او سرونه په گولیو سوري دي، وینې ترې بهېږي ، خو بالښتونه یې په لاسونوکې نیولي او پر یو تن راچاپېر شوي او هریو خپل بالښت د دغه سړي په خوله بردي. کله چې بالښتونه دغه سړي ته نږدې کېږي نو په سرو سکروټو بدلېږي. هغه تر بالښتونو لاندې تریکې وهي، لاس او پښې غورځوي، غلی شي ساه ورکړي. د بالښتونو کسان بېرته شاته شي، ده کې بیا ساه وگرځي راکېږي. خو بیا نور کسان له بالښتونو سره رامخته شي بالښتونه سرې سکروټې شي، بیا همدغه سړی د خلکو د بالښتونو لاندې تریکې وهي، لاس او پښې غورځوي، بیا بېدمه شي ساه ورکې بالښتونه شاته لاړ شي.

زویه، د بالښتونو بله ډله لا نه وه را رسېدلې چې په دې

ګڼه‌ګوڼه کې مې په باتورجان سترګې ولګېدې چې د نورو کیرالیانو منځ کې په همدې جاموکې (ښخ کړي پنډوکي ته اشاره وه) ولاړ دی او راته خاندي. ورمنډه مې کړه په غېږ کې مې ونیو په سر او سترګو مې ښکل کړ، یوځای مې ورسره په کټ کټ وخندل. دا مې ۳۳ کاله وروسته لومړنۍ خندا وه هغه هم په خوب کې.

ای پاکه خدایه! څه وخت به رانه ساه اخلې؟ څومره به ښه وی چې ببګانی خوب تر قیامته اوږد شوی وی. زویه، د باتورجان نه مې ټپوس وکه، چې دا ببچاره څوک دی چې دا ډلې ډلې خلک راځي او د ده په خوله بالښتونه ږدي؟

ویې ویل: مورجانې دا ببچاره نه دی، په ده پسې چې دا د بالښتونو لاریون را روان دی، دا د دې لسګونو زرو خلکو قاتل دی. هغه چې زه یې درنه روان کړم او ته یې په کونداغونو ووهلې د ده جلادان وو.

- نو بیاولې یې په ګولیو نه ولي؟

- مورجانې ده خپل هغه اُستاد په بالښت وژلی چې لاسونه به یې ورښکلول. د اُستاد حق له مور او پلار نه کم ندی. ده د پلار په خوله بالښت ایښی او وژلی یې دی، نو الله (ج) ده ته دا جزا ټاکلې چې د قیامت تر ورځې به یې په همدې بالښتونو چې د ده په مخ سکروټې کېږي وژني، د بیا وژلو لپاره به یې واروار ژوندی کوي. دا په ابدي عذاب اخته دوزخي دی.

ترور بیا لکه د لېونۍ کټ کټ ویرژلې خندا وکړه، ویې ویل:

- زویه خبرو مې سر نیولی او سوالونه مې د خدای په دربار کې قبول شوي دي.

پای

# بختوره

بختوره همدا شېبه له هديرې کور ته رارسېدلې وه. ښکلې شهلا سترګې يې چې لا له ډېرې ژړا نمجنې وې، داسې ښکارېدې لکه د رڼو اوبو په چينه کې نرګس. د پېکي ماشوم[۱] زوي شمشاد ته يې له شکرۍ د سوړ سوکړک يو ټوک ورکړ او د سوال شړومبې يې ورته په جام کې واچولې. د ټې ماشومه لور ډېوه يې خپل په اوښکو لوند ټټر ته ورنيږدې کړه، تې يې ورکړ خو د ماشومې خوله ته د مور له وچې سينې په وسو وسو يو يو څاڅکی رسيده. په شکرۍ کې نور دومره څه نه وو چې خپله يې پرې شخوند وهلی وی.

ستړې وړې يې په کوټه کې ستن ته تکيه ووهله. د بې‌کسۍ او بې وسۍ اوښکو يې ګرېوان وچېدو ته نه پرېښود. زوي يې له موره ګرد تاوېده خپله لمن يې په تنکيو لاسونو نيوله او د مور اوښکې يې وچولې، د سوکړک د ټوک يوه څنډه يې د مور خولې ته ونيوله. بختورې ته خپل خاوند انځرګل نبغ په نبغه سترګو ته ودريد چې کله د شمشاد د زيږد په مهال سخته ناروغه او له خپلو لاسو ولېدلې وه، انځرګل ورته په خوله کې خواړه ورکول. ديوې شېبې لپاره يې پر وچو شونډو ترخه موسکا تېره شوه. زوي يې په ټنډه او سترګو ښکل کړ او وېې ويل: د پلار په شان سړی شې خو د هغه غوندې لنډ عمر دې خدای (ج) نه درکوي.

بختوره چې د خپلو ماشومانو د ناځرګند راتلونکي برخليک په اړوند

[۱] * د پيکې ماشوم: ړومبی ماشوم، زموږ د هيواد په ځينو سيمو کې به پېغلو نجونو له واده وروسته هم تر هغه وخته پېکی نه بيلاوه چې ماشوم به يې نه و زيږېدلی. نو لومړي ماشوم به يې د پيکي ماشوم باله.

چورتونو کې ډوبه وه، د کور په غولي کې یې د پښو ښکالو تر غوږه شوه.

کور چې د پنډغالي د نورو بېوزلو کډوالو د کورونو په څېر کومه لرگینه دروازه نه درلوده، د پناهي لپاره یې د دروازې پر ځای د زړو بوجیو جوړه کړې پرده پرته وه. بختورې له کوټې نه غولي ته وکتل. که څه هم د ماښام خړه خپره شوی وه، خو سړی یې وپېژند چې د پنډغالي د جومات مُلا دی.

دا مُلا د بختورې د کوچنۍ لور د زېږېدو وروسته د ماشومې په غوږ کې د اذان کولو لپاره انځرگل له ځان سره کور ته راوستی و. خو ملا چې کله خونې ته د ماشوم غوږ کې د اذان لپاره ننوت سترگې یې په بختورې کې ښخې کړې. بختوره د ښکلا له اړخه د الماسو هغه غمي ته ورته وه چې په کنډواله کې پروت وي. لکه د هوسۍ ښکلې سترگې، گلاب گلاب اننگي، گرده مرده زنه چې شنو خالونو یې په بېوزلې کې هم ښکلا ته د لسو ضریب ورکړی و، د پنډغالي پدې ختېن کور کې لکه د لمر ځلېدله.

ملا له هوس په ډکو سترگو وار وار د انځرگل له سترگو پټ په غلچکي نظر بختورې ته کتل. کله چې بختورې خپله نوې زېږېدلې لور له خپلې غېږ نه انځرگل ته ورکوله، له سر نه پړونې وښوید. ملا چې د بختورې په تېتر او سپینې غاړې سترگې ولگېدی؛ لکه پیشو چې مستې وگوري، خپلې شونډې یې وڅټلې.

د ملا ایمان دومره سست او فکر یې گډوډ شو؛ چې د اذان ویلو په مهال یې دوه ځل په اذان کې تېروتنه وکړه. له همدغې شیبې وروسته ملا د انځرگل لپاره د خپل ککړ ذهن په گنده کرونده کې د بختورې د ترلاسه کولو په موخه د انځرگل د له منځه وړلو تخمونه کرل او رېبل.

بختورې دا ملا دوه ځله لیدلی و. لومړی ځل یې د لور له زېږېدو وروسته ماشوم ته په غوږ کې د اذان په مهال. دویم ځل د انځرگل له

شهادت نه یوه میاشت مخکې له هغه سره یوځای دلته راغلی و، هغه مهال یې د بختورې خاوند ته د"جهاد" ثوابونه بیانول.

مُلا به هم لکه مغرور خانان او ملکان چې بې‌وزله خلکو ته خپل پوره نوم نه اخلي، له کبره انځرګل، انځری باله ویل به یې: «انځریه! شتمن خو به د خدای(ج) په لار کې د مال په لګښت هم جنتونه وګټي خو، ته د الله(ج) په لار کې د صدقې او خیر خیرات لپاره هیڅ هم نلرې، په مزدورۍ کې دومره اخته یې چې د لمانځه وخت هم درته په سخته میلاوېږي. که پدې حال پاتې شې، ستا خو به قبر د مارانو او لړمانو ډک وي. ته او جنت خو ناشونې خبره ده. ته یوازې په"جهاد" سره کولای شې چې په هغه دنیا کې له شتمنو هم لوړې مرتبې او د جنت ماڼۍ وګټې. لاړ شه د یو تنظیم نه ټوپک واخله او د الله(ج) په لار کې"جهاد" ته ملا وتړه!»

انځرګل خپلو ماشومانو ته وکتل وېې ویل: « مُلا صېب زه که یوه ورځ مزدوري ونکړم ماشومان مې له لوږې مري.»

مُلا چې د هوس شیطانان یې پر اوږو ناست وو، غاړه تازه کړه وېې ویل: «خدای(ج) چې دا خولې راکړې، خواړه یې هم راکوي. بل دا چې د تنظیم امیر هم خپل"مجاهدین" تش لاس نه پرېږدي. هسې چې "جهاد" ته دې ملا ماته ده پلمې مه جوړوه.»

له دغو خبرو وروسته انځرګل ته یوه ځورونکې اندېښنه په زړه کې ولوېده، بیا یې چا په شونډو موسکا ونه لیده. مُلا چې بله ورځ کله بیا ورسره مخامخ شو ورته ویل یې:

«د کمپ خلک وايي: انځری بې‌لمانځه دې جومات ته نه راځي، که "جهاد" ته هم لاړ نشې، دا خلک به دې یوه ورځ د بې‌لمانځه په نامه له کمپ نه وشړي.»

انځرګل به چې هره ځل له مُلا سره مخامخېده مُلا به ورته تل همدا د ”جهاد” سرينده غږوله. نو دی به بيا لکه د سودايانو له ځان سره بوګنېده او د بې‌لماځه له نوم او د جنت له نعمتونو د محرومېدو ډار يې خوب تښتولی او خواړه پيکه کړي وو.

يوه ورځ چې د ماښام خړه لګېدلې وه، انځرګل له ټوپک سره کور ته راغی. کوچنۍ لور ډيوه يې له مور نه واخيسته خپله غېږ کې يې ونيوله او شمشاد يې هم ټټر پورې په پلارنۍ مينې کلک ونيوه، دواړه يې په وار وار ښکل کړل. مېرمن يې چې انځرګل سره ټوپک وليد وارخطا شوه، پوښتنې ته يې خوله جوړوله چې هغه ورته وويل:

«بخت بي بي جانې يو څه راوړه چې وږی يم.» ده به له مينې بختوره، بخت بي بي جانه بلله.

بختورې چې سترګې له انځرګل بلخوا نه اړولې په ديګچې کې له غرمې پاتې سابه يې په نغري تاوده کړل او له سوکړک سره يې د انځرګل مخ ته په کاسه کې راوړل.

خو د خوراک په مهال يې مړۍ له ستوني په ډېره سختۍ تېرېده، مېرمن او دواړو بچو ته يې په ځير ځير کتل. ستونی يې ډک او سترګې يې نمجنې وې. بختورې ته يې په غريو نيولي غږ وويل:

«حق دې راوبښه!»

بختوره چې انځرګل سره يې د مُلا خبرې اورېدلې وې، هک‌پک پاتې شوه، ژر يې ټوپک ته، بيا خپل خاوند او ماشومانو ته وکتل. په ژړا يې وويل:

«د خدای دپاره زما پدې ټوله دنيا کې څوک دي؟ ما په پردي وطن او د دې ښامارانو منځ کې چاته پرېږدې؟ زه به په يو سر له ماشومانو سره کور او سارا څنګه سمبال کړم؟»

د انځرګل سترګې لمدې شوې، سوړ اوسېلی یې وکړ او د خپل پیوندي واسکټ نه یې دوه زره کلداري راویستې،د بختورې مخ ته یې کېښودې. د هغې نمجنو سترګو ته یې د وروستي ځل لپاره له کتلو وروسته، خوارځواکې ماشومان بیا غبرګ په غېږ کې ونیول. په دواړو خواو یې وار وار ښکل کړل او د ماښام تیاره کې له کوره ووت د تنظیم دوتر ته لاړ.

***

اوس انځرګل د کلي په هدیره کې تر تورو خاورو لاندې پروت دی او د کمپ د جومات مُلا د هغه له کونډې سره د هغه په کور کې ولاړ دی.

بختورې ته وایي: مېړه دې د خدای په لار کې شهید شو خدای (ج) دې شهادت قبول کړي. ځوانه، جانه تورسرې یې د کمپ خلک درپسې سل رنګه خبرې کوي. «د خلکو خولې د خدای پاک نغارې دي»، سبا به یې داسې بدنامه کړې یې چې خلک به دې په کاڼو ولي.

ځوانې ښځې ته د هر چا سترګې وراوړي، په یوازې ځان پردي وطن کې د ماشومانو نفقه پیداکول سخت کار دی. له ما سره نکاح وتړه د بچو نفقه به دې هم درکوم او له بدنامۍ نه به هم خلاصه شې.

بختورې په شېطان لعنت ووایه او د مُلا په مخ یې لاړې تو کړې.

مُلا پخپلې سپینې لونګۍ له خپل مخ نه د بختورې تو کړې لاړې پاکې کړې او د داړونکي لېوه غوندې یې پر بختوره برید وکړ، له لاس یې ونیوله په کښولو کښولو یې کوټې ته دننه کړه. بختورې که هرڅومره نارې سورې وکړې، ډېرو ژړاګانو یې غږ کېنولی و، آواز یې له خپلو ماشومانو پرته بهر چا نه اورېده.

سبا ښاښت مهال د شمشاد د لوبو ملګري ماشومان له زړو ټوټو نه جوړ شوي پنډوس سره، په شمشاد پسې راغلل چې یوځای د کورونو مخته شاړه ځمکه کې لوبه وکړي. شمشاد ته یې څو غږونه وکړل، چا

ځواب ورنکړ کوټې ته ورننوتل خو په چیغو او نارو بیرته په منډو راووتل، د پنډغالي خلک یې خبر کړل.

خلک راغلل ګوري چې بختوره بېحجابه مړه پرته وه. هغه لکه د شیدو سپین او نازک مخ او ګلابي اننګي او سپینه غاړه اوس داسې مالومیده لکه د رنګریز له نیلي خوم چې یې رنګ اخیستی وي. ګاونډې سپینږیري پرې ژر ټیکرې واچوه او په پرده یې کړه. د بختورې په مخ د وهلو او په غاړه د زندۍ نښې ښکارېدې، د شمشاد پر سر هم وینه سره شوې وه او د جسد څنګ ته یې په وینو ککړه ډبره پرته وه، خو کوچنۍ نتکۍ لا ساه اخیستله.

د کمپ کډوالو د قبر او کفن غم وخوړ چې د جنازې د لمانځه لپاره یې جومات ته کس ولېږه، جومات کې طالبانو وویل: مُلا صیب، د ماښام او ماخوستن په لمانځه کې هم نه و. له پرون ماښام راهیسې جومات ته ندی راغلی.

پای

## مُلا له بامه ننداره کوله ...

د سړک نه شل دېرش قدمه وړاندې تنکی ماشوم چې له ټټر یې وینې بهېدلې، پروت و. لږ وراخوا ترې، یوه ټپي پېغلوټې نجلي پرته وه؛ چې خواته یې له تنې لوبدلې پښه او د مات منګي لامده او په وینو ککړ کودي هم پراته وو.

نجلۍ چې پر ځمکه د خپلو ټپونو له درده لکه مار پر ځان تاوېدله، د«وی وی زما ادکه وروره!» کوکې یې تر آسمانه رسېدې. کاڼي بوټي یې ژړول خو یرغلګرو پوځیانو ورته دومره بې تفاوته کتل، لکه د هالیود جنګي فلمونو ته چې ګوري.

د امریکایي زغره والو پوځي ګاډو له کاروان نه یو ژباړن ورغږ کړ:

«ولې دې دا ماشوم د دې ګاډو خواته راولېږه؟»

نجلۍ بیا چیغه کړه: «د خدای لپاره ویې ژغورۍ! ولې مو پرې ډزې وکړې؟»

ژباړن لکه د امریکایي په خوله چې غږېږي:

«دا زموږ خوا ته راروان و، له ځان چولو مخکې یې وویشت.»

نجلې د ټپونو د دردونو له زوره په ژړا او فریاد ناره کړه:

«د خدای په خاطر... دا پنځه کلن ماشوم دی، ځان به ولې چوي، زما ورور دې، زما محرم دی. وی وی زما ادکه وروره!»

نجلۍ د سختو دردونو او زګېروېو په بدرګه خپلو خبرو ته په بنده بنده ژبه دوام ورکړ:

«ما له ګودر اوبه وړلی، ورور مې له ځان سره راوست. زما لاس یې

خوشې کړ، ویل یې د ګاډو سیل کوم. څو چې زه ورته رسېدم ستاسو د ګاډو خواته بم والوت، زه په ځمکه راوغورځېدمه تاسو زما په ماشوم ورور ډزې وکړې. ده خو مېږی هم نه دی ازار کړی.

دا خو زموږ د کلي د مُلا په وینا زما شرئي مارم (شرعي محرم) دی، له ځان سره یې ګرځوم. زموږ مُلا ښځو ته بې له شرئي مارم نه له کور وتل بند کړي او ګناه یې بولي.»

نجلۍ چې د سړک د غاړې په ماین یې پښه برابر شوې وه - لا په توده وینه کې وه او تر دې دمه په ځان نه وه پوه شوې - په وروستۍ سلګۍ کې یې وویل: «خدایه ورور مې وژغورې! که نه د مور زړه به مې وچوي.»

دا مهال مُلا د جومات له بامه د چاودنې ننداره کوله .

کونډې مور یې د غبرګو بچو له ښخولو وروسته له هدیرې نه کورته رانغله، ټوله شپه یې د دوه تازه قبرونو تر منځ، له سویو ساندو سره د اوښکو پرځای وینې تویولې او مُلا چې تازه یې په پنجابي وسمې بږیره سره کړې وه، په جومات کې له ماین سره ورسپارل شوې کلدارې شمېرلې.

پای

## ”لاسوندونه“

څو تنه د پاخه عمر بندیانو چې درې کسه يې د اسدآباد د دمکلي مېښبه ګوجران وو، د اوړي د سوځنده لمر له تودوخې ځانونه بچ کړي وو او د زندان د لوړ دیوال سیوري ته ناست وو. دوی له يو بل سره په ټيټ غږ، د خپل بدمرغه ژوند او په ناحق تورونو د بندي کېدو او د ګرويګنو او تحقيق په بهير کې د اګسا[1] د مامورينو د بېرحمانه چلند کيسې کولې. د اړتون د لويې دروازې څورونکې غږ د دوی د خبرو لړۍ وشلوله، پام يې د دروازې خواته واوښت. دا مهال سرتېرو دوه کسان چې زړې جامې يې په تن وې د اړتون په لويه دروازه را دننه کړل. د راننوتو په مهال يې دروازې ته په نږدې خونه کې د اړتون د آمر دوتر ته وسپارل.

د دواړو نويو راوستل شويو بنديانو د بدني پلټنې په مهال د هر يو کس په جيبونو کې ټول‌ټال پنځه نيم سوه او پنځه سوه پاکستانۍ کلدارې وې. له جيبنو سرېيره يې د دواړو کسانو پنډوکې هم وسپړل. د دوی د هر يو په ګنډه کې د چيټ او خاصې څو څو متره ټوکر، يوه يوه دړۍ (پنځه کيلو ګرامه) ګوړه، د دوی خپله يوه يوه جوړه مښودې جامه او د يوکس په ګنډه کې د ماشوم د لوبو يوه کوچنۍ ارزان‌بيه نانځکه هم وه.

د زندان آمر چې په نانځکه يې سترګې ولګېدی، له بې تجربه‌ګۍ پدې ګومان پخپلو څوړندو برېتو کې وموسېده چې ګواکې کومه د جاسوسۍ

---

[1] اګسا: استخباراتي اداره، د (افغانستان ګټو ساتونکې اداره) لنډيز

اوزار يې لاس ته ورغلی. فکر يې کاوه ښايي په نانځکه کې به د جاسوسۍ کوچنی اوزار ځای په ځای شوې وي، نو په بیړه يې پر مځکه وویشته. پاکستانۍ ډېسي نانځکه وه وار د واره ټوټه ټوټه شوه. د نانځکې له ماتېدو سره سم د يو کس نوي بندي له خولې د «آخ صیبه! د وړې لور سره مې د نانځکې وعده کړې وه.» چغه ووته.

د زندان آمر په غوسه کې وویل: د اشرار زويه تا به نورې هم ډېرې وعدې کړې وي. نورې وعدې به دې هم پخپله د توتي غوندې له خولې راوباسې.

وروسته بيا آمر له دوی نه د تحقيق او گروېږنې په مهال داسې پوښتنې پيل کړې:

«ووايه څوک يې، له کوم ځايه راغلی، ولې يې زندان ته راوستلی يې؟»

دواړو غبرگ وویل: «صیبه! موږ يو د کټار او بل د گمبیر [1] ياستو.»

د زندان آمر بريدمن په غوسه ورته وویل: «د چنگړيانو غوندې شور مه جوړوئ يو يو کس خپله خبره وکړئ.»

دواړو بنديانو يو بل ته وکتل. اسلم چې له رحمدل مشر وو، وويل: «صیب! زما نوم اسلم دی د کټار يم، موږ دواړه پېښور ته د مزدورۍ دپاره تللي وو.» له خبرې سره سم دواړو غبرگ په لوگيو تورو لاسونه او خيرن نوکان د زندان آمر ته وښودل.

آمر پر ميز پرتې د سيگرټو له قوتۍ نه يو سيگرټ راواخيست، ويې لگوه او د لاس د گوتو منځ کې يې ونيو، د چلم غوندې يې کش کړ، له پزې او خولې دواړو يې دومره لوگي وايستل چې د دغه کوچنۍ خونې ټوله فضا يې ونيوله. له دوه درې ټوخيو وروسته يې په بټو سترگو د

[1] کټار او گمبير د کونړ ولايت دوه غرنۍسيمې دي.

اسلم ملګري ته مخ واړوه، په غوسه يې ورته وويل: «څناوره په خبره نه پوهېږې که څنګه؟ ما درته وويل چې يو يو کس خپله خبره وکړئ.»

اسلم وويل:

«صيبه! ده خو خبرې ندي کړي يوازې خپل چاودلي تور لاسونه يې دروښودل موږ پوه نه شوو ماپ (معاف) مو کړه.»

آمر رحمدل ته مخ اړوي ورته وايي ته ووايه.

رحمدل:

«صيبه نوم مې رامدل دی د ګمبير يم. زه هم غريبۍ پسې تللی وم.»

خپل دواړه لاسونه چې تناکې يې پخې شوې وې او نوکانو کې يې د ګانۍ د لوګيو او خيرو نښې پرتې وې، يو ځل بيا د زندان آمر ته ښکاره کړل.

آمر ورته وايي:

«د جاسوس بچو د غريبۍ پلمې کوئ، موږ دلته ستاسو لپاره انقلاب کړی دی. تاسو پاکستان ته ځئ.»

اسلم په خبره کې وردانګي او وايي:

«صيبه! ستاسو د پاچايي خو دا دوه - درې مياشتې لا نه کېږي او زموږ کال وشو چې غريبۍ پسې ورک وو.»

آمر نور هم په غوسه کېږي، له څوکۍ پاڅېږي پر اسلم د سوک داسې کلک ګوزار کوي، که رحمدل شاته نه وی نيولی نو په ځمکه غورځېده.

آمر د سوک له ګوزار وروسته د سترګو لاندې خپل موټې ته ګوري د غرور احساس کوي چې ګواکې په يو سوک سړی په ځمکه غورځولی شي، وايي:

«د امیږ زوی! زموږ خلقي نظام ته پاچاهي وایي. موږ پاچاهي نسکوره کړه، زور، ظلم او استبداد مو ختم کړ، د کارګرانو، بزګرانو او زیارایستونکو لپاره مو خلقي نظام راوست، رانده یاست که کاڼه؟ نه ګورئ چې موږ لګیا یاستو بې ځمکو دهقانانو ته ځمکې ویشو.»

اسلم:

- «صیبه موږ هم غریب دهقانان یاستو. ته به خبر یې چې په کټار او ګمبیر کې څوک دومره ځمکې نلري چې په غله دانه یې ګوزاره وشي. که مزدوري او خواري ونکړو نو اولادونه مو د ولږې (لوږې) مري. په موږ رحم وکړه، موږ خو پخپله ګناه نه پوهیږو.»

آمر:

- «په پاکستان کې یې درله غوږونه ښه ډک کړي دي، دا کلدارې او دا چیټ ټوټې له وطن سره ستاسو د خیانت ښکاره نښې ندي نو څه دي؟»

هلکه شمشیره!

د آمر د دوتر په دروازه کې ولاړ بریتور سرباز ځواب ورکړ:

- «صیب څه امر دی؟»

آمر:

- «دا دواړه محبس ته دننه کړه، کله چې په خپله ګناه پوه شول بیا به ورسره ګورو. زه د خوړګتې په خبرو راولم، اسلمی او رامدلی به څه وي.»

***

اسلم او رحمدل د ولایت د یوې ملکي ادارې امر د خپل دوتر له برنډې د اسداباد بازار کې لیدلي وو او خپل دوتر کې یې له لنډو پوښتنو او ورسره غوټکۍ او جیبونو د لټولو په بهیر کې د دوی جیبونو کې د پاکستانۍ کلدارو په پیدا کېدو سره سملاسي دوی پاکستان ته د جاسوسۍ په تور پخپل امر محبس ته لېږلي وو.

دا به د اسلم او رحمدل نیکبختي وګڼو که تصادف، چې دوه ورځې وروسته دغه آمر والي ته د خپلو کارونو په رپوټ کې په ویاړ د پاکستاني جاسوسانو د نیولو خبر ورکوي.

والي چې د لوړو زدکړو څښتن او کاري تجربه لرونکی افسر ؤ، په رڼا ورځ او عام بازار کې د جاسوسانو د غبرګ ګرځېدو او نیولو او د امر دې "خارق العاده" ځیرکتیا ته چې په لرې واټن کې د عادي خلکو منځ کې جاسوسان تشخیصولی شي د شک په نظر ګوري. د تورنو کسانو د حالت په باب له مالومات اخیستو وروسته، د موضوع د څېړلو لپاره یو پلاوي ګوماري. د تحقیق پلاوي له ګروېګنو وروسته د په جاسوسۍ تورونو دوه مزدورانو- اسلم او رحمدل- په بېګناهۍ والي ته خپل نظر وړاندې کړ.

والي د تحقیق او ګروېګنو د بهیر د څرنګوالي په اړوند د مالوماتو له ترلاسه کولو وروسته تورن کسان له دوسیې سره خپل دوتر ته وروغوښتل له اوږدو مخامخ خبرو وروسته یې له زندان نه د خوشې کیدو هدایت ورکړ. بیا د تورونو کسانو نیوونکی او د زندان آمر دواړه ورغواړي له نصیحت او توصیې وروسته یې خپلو تیروتنو ته متوجه کوي.

خو دواړو آمرانو د ولایت د دوتر نه له وتلو وروسته، پخپلو کې په ټوله لار والي وغنده او د مرتجع او انقلاب ضد اشراف زاده خطاب یې ورته کاوه. پای

# سره ټیکله

داسې ښکارېده چې نن لمر هم کنجوسي کوله او لکه د نورو ورځو په څېر يې خپلې زرينې وړانګې پدې بدمرغه خلکو نه وې لورولې. د ځمکې له مخ لا د ژمي سهارنيو لړو خپلې خړې پاغوندې نه وې ټولې کړې؛ نو ځکه په وړاندې واټن کې څه نه ليدل کېده. په ژمني سوړ سهار کې له کاروباريانو او اړمنو کسانو پرته نور خلک له کورونو نه وو را بهر شوي. يو نيم کليوال چې ځانونه يې په پټوانو او څادرونو کې پېچلي، او ځينو د ډېرو ساړو له امله لاسونه په تخرګونو کې نيولي او له نږدې کليو نه د لوی سړک په غاړه پروت بازارګي ته تلل را تلل.

په دغو کسانو کې د يو کليوال سترګې چې د بازارګي لخوا د کور په لور روان و، د دوی تر شا کوچنۍ ماشومې باندې ولګېدې چې زوړ ټيکرى يې له ځان تاو کړې دی او په کوچنيو ماشومانه قدمونو په کليوالو پسې څو قدمه واټن کې روانه ده. کليوال، نجلۍ وپېژندله چې ګل‌مکۍ نومېږي، ترې ويې پوښتل:

- « لورکۍ ته پدې ماشوم ځان په شنه سهار چېرته تللې وې؟»

نجلۍ چې له مسافرو نه د پاتې شويو سړو ډوډيو پنډوکي يې له پړوني لاندې نيولی و، وويل:

- «بابا مې ډېر ناروغ دی، زه مې ادې له مسافرو د پاتې شويو ډوډيو کټرو پسې سموار ته لېږلې ومه...»

د ماشومې خبره لا پوره له خولې نه وه راوتلې چې ناڅاپه د امريکايي زغره وال ګاډي نه د ماشينګڼ ډزو د سباوون چوپتيا ماته کړه.

په دغو وختونو کې چې به کله د امريکايي يرغلګرو د پوځي ګاډو قطار تېرېده د سړک پر سر هر لاروی سره چې به په لاس يا تر پټو لاندې

کومه غوټه وه دوی به ترې ډارېدل. دوی ته د افغان وطن پر انسانانو سرېبره ددې وطن کاڼي بوټي هم دوښمنان ښکارېدل.

د ګل‌مکۍ کونډه مور لالۍ په خپل کور کې د ډزو له اورېدو سره د«خدایه خېر!» نارې سره له ځایه چټکه پاڅېده. خپل بوډا خسر ته یې چې په غوږونو لږ دروند و، په جګ اواز وویل:

«ډزې دې واورېدې!»

په ملا کړوپ سپین‌ږیری غونچه‌ګل اکا د نږور خولې ته غوږ ورنیږدې کړ چې خبره واوري.

اکا د خبرې له اورېدو سره سم له کوره راووت. د بازارګي په لور په وارخطايي د امسا په مرسته روان شو. ده چې له ورایه د یوې ډلې خلکو ګڼه ګونه ولیده، خپل درانه غوږونه یې په ډېر غور له ګڼه‌ګوڼې راتلونکي شورځوږ ته ونیول. د بېوسۍ د ویرژلو نارو له اورېدو سره یې وار د واره خپله اووه کلنه لمسۍ سترګو ته ودرېده، چې څو شېبې مخکې یې مور د سړک د غاړې بازارګي یو سماوار ته له مسافرو مېلمنو پاتې شویو ډوډۍ پسې لېږلې وه.

دا کار به هر سهار له لمانځه وروسته غونچه‌ګل اکا پخپله کاوه، خو د ګل‌مکۍ له بده بخته غونچه‌ګل اکا بېګاه ټوله شپه د سختې تبې، د هډوکو درد او ټوخي له امله سترګې نه وې پټې کړې. د سهار لمونځ ته یې هم د پاڅېدو توان په بدن کې پاتې نه و، نو کونډې نږور یې خپله لور ګل‌مکۍ سماوار ته لېږلې وه.

غونچه‌ګل اکا که څه هم د کمزورتیا او بوډاتوب له امله په سختۍ سره په لار تلای شو خو قدمونه یې چټک کړل.

اکا د خلکو ګڼه‌ګوڼې ته ځان ورورساوه، وې لیده چې په وینو ککړه ماشومه پرته ده چې د بېوزلۍ د بدبخت ژوند پېټې یې له خپلو

وروستيو سلګيو سره له تنکيو اوږو يوځای کښته کړ.

غونچه‌ګل اکا په لومړي نظر ونه پېژندله. په بيا ځلي کتلو کې يې نا ببره داسې د بېوسۍ سوې او دردناکه چيغه له خولې ووته چې کاڼي زړونه يې ويلي کول. اکا د ګل‌مکۍ ټيکری وپېژانده چې تر څنګ يې په وينو ککړه **سره ټيګله** هم پرته وه.

پای

## رب دې چینار که (کړه) ...!

نتکۍ له هغه ورځې راهیسې چې د عزت الله مرکه یې کور ته ورغلې وه، په زړه کې گوړې ماتولې. ځکه چې هم یې کلیوال ؤ د کوچنیوالي راهیسې یې پېژنده، او هم عزت د نورو ژڼو منځ کې د نېک نوم او ښکلا له امله لکه الماس ځلیده. د نتکۍ خوښي هغه مهال نوره هم زیاته شوه چې د هغې دسمال یې ورکړ. نو بیا به یې په ویښه هم د خپلې ډولۍ او ناویتوب خوبونه لیدل. کله خو به یې د خیال نیلی دومره وځغلوه چې پخپله غېږ کې به یې د خپل ماشوم د تنکي بدن تودوخه احساسوله. له ځان سره به یې پخپل ذهن کې الاهو للوللو زمزمه کوله، د خوږو خیالونو په سمندر کې به لاهو وه چې عزت به ورغېږ کړ، له منگي ورته یو جام اوبه ورکړي. نتکۍ به په گیله منه ادا ورته وویل:

«نه گورې چې هلک مې غېږ کې خوب وړی دی.»

نتکۍ به د راتلونکي ژوند په خیالي جنتونو کې واده ته د پاتې وخت تنابونه رالنډول؛ خو هر کار پخپل وخت ترسره کېږي. آخر هغه وخت راورسېد چې د ځوانۍ او پېغلتوب خوب او خیال یې په حقیقت بدل شو. له عزت سره یې واده وشو، ژوند یې ښکلی رنگ او گبینی خوند وموند. دا رنگ او خوند هغه مهال زیات شو چې نتکۍ ته یوه ورځ د زړه بدۍ وروسته داکتر د هغې په نس کې د ماشوم زېری ورکړ.

نتکۍ چې د داکتر خبره واورېده، له ډېرې خوښۍ یې د داکتر شتون هېر شو، عزت ته ورغاړېوته وې ویل: «ډېر شکر دی، پاک خدای(ج) مې آرمانونه یو یو راپوره کوي.»

له یوې خوا نتکۍ د عزت د مینې په نښه ډېر پام کاوه. خو کله چې خواښې یې وربېښمینه ترور د هغې له امېدوارۍ خبره شوه په نتکۍ یې

تر خپل ځان هم ډېر پام ساته؛ ځکه چې د نتکۍ ماشوم به د هغې د یوازني زوي نښه او لومړنی لمسی وي. نتکۍ د خپلې امېدوارۍ خبر تر ډېره له خپلو سوېلیو پدې نیت پټ ساته چې خدای مکړه نېکمرغي یې له نظره نشي. که کومې یوې به ترې په دې باب وپوښتل، خبره به یې بل لور ته واړوله او خپلې ملګرې ته به یې دومره وویل چې خدای(ج) دې زما غوندې بخت او خوښي تا ته هم نصیب کړي.

یو مازیګر چې نتکۍ، د عزت له مور سره په کور کې په ګډه د ماښام لپاره د خوارړو تیارولو تابیا کوله او له دوتر نه یې د عزت د راتګ شېبې شمارلې، د سړک نه د دوی د کور په لور د رابېلې شوې کوڅې په سر کې توغندی ولګېد چې د شاوخوا ډېرو کورونو ښیښې یې ماتې کړې. د توغندي له بدغږه کړس سره نتکۍ د یا الله خبر! په ویلو له ځایه نېغ ټوپ کړ، لوڅې پښې او سرتور سر د کور انګړ ته ووته. لږ تم شوه غوږ ښتل یې له ګاونډیانو وپوښتي؛ چې په کوڅه کې شور او ځوږ د دوی د کور دروازې ته رانږدې کېده. هغوی لا نه وو رارسېدلي چې یوګاونډې زلموټي بل ته وویل:

«عزت الله کاکا دی، ګومان کوم ژوندی ندی.»

نتکۍ چې دا مهال دروازې ته رسېدونکې او تر شا یې وربېښمینې ترور هم ورپسې منډه اخیستې وه، د ګاونډې د خبرې له اورېدو سره بېهوښه او پر مځکه غورځېدله چې خواښې یې په غېږ کې ونیوله او په وسو وسو یې خونې ته ولېږدوله. په مخ یې ورته اوبه وپاشلې چې په هوښ شي.

نتکۍ په هوښ راغله او یوه بېدربغه چغه یې وکړه ویې ویل:

«مورې مړه دې شم. برباده شوم، میراته شوم د سر سیوری مې ورک شو.»

د عزت مور وربېښمینې ترور پوښتنې ته خوله جوړوله چې دا مهال د

کور دروازه په وارخطايي پرله پسې ژر ژر وټکېدله. په بيړه د انګړ دروازې ته ورغله، ګاونډيانو د عزت الله په وينو ککړ جسد په کور ور دننه کړ. د جسد له ليدلو سره يې مور هم بې‌هوښه شوه.

***

عزت ته خدای(ج) له ښکلې ځوانۍ سره ښکلي اخلاق ورکړي وو. د ښه خوي او نېک نوم له امله يې د چم ګاونډ د زړو او ځوانانو په زړونو کې ځای درلود. د دغه نيک نومي ځوان ناڅاپي مړينې د دی متل چې: «پردی غم له کنګل سوړ وي» ناسموالی زيات کړ. ځکه د عزت په مړينه تر ډېره د ده د ګاونډيانو په خولو خندا را نغله. ځينو ګاونډيو ښځينه و خو به د عزت په ځوانيمرګۍ سربېره، د نتکۍ د راتلونکي برخليک په باب هم په ډېرې خواشينۍ سره رنګارنګ خبرې کولې. چا به ويل چې:

«پېکۍ يې لا بېل کړی نه ؤ چې کونډه شوه، ځواني يې خاورې شوه، د عزت خو ورور هم نشته چې ورته په نامه يې کړي.»

ځينو به ويل:

«نتکۍ له عزت سره داسې لېونۍ مينه لرله چې ګومان نه کوم که زړه ته يې د هغه له مرګه وروسته هم بل څوک لار پېدا کړي.»

د عزت مور وربېښمينې ترور د خپل يوازني زوي په ژوند هم په نږور ډېر پام ساته، خو دغه پاملرنه هغه مهال لا نوره هم زياته شوه چې د عزت له شهادت دوه مياشتې وروسته د نتکۍ ماشوم وزېږېد. د خواښې او نږور دواړو په ويرژلي ژوند کې د ماشوم زېږد لکه په توره تياره کې د رڼا څرک و، چې د بورې انا او کونډې مور هيلې ورسره وتړل شوې.

***

نتکۍ چې کله خپل ماشوم زوي لومړي ځل په غېږ کې واخيست چا

ورته لا په غوږ کې اذان نه و کړی چې د یوې لنډۍ مانابلون یې د حافظې دروازه وټکوله. په نمجنو سترګو یې نوي زیږېدلي زوي ته کتل او دا لنډۍ ورته وویله:

«زما د سر سیوری خدای واخیست
رب دې چینار که چې دې سیوري ته کېنمه»

د همدې لنډۍ په بنیاد او د چینار د سیوري په هیله یې خپل ماشوم ته چینار نوم کېښود. دا لنډۍ به هر مهال د نتکۍ په خوله وه. که ماشوم ته به یې تې ورکاوه، که الاهو به یې ورته ویله او که د هغه زانګو به یې زنګوله؛ له ځان سره به یې په ویرژلي غږ همدا ټپه زمزمه کوله:

«رب دې چینار که چې دې سیوري ته کېنمه»

د کمکي چینار ملا ځمکې ته نه ورتله؛ تل به د مور یا انا په غېږ کې و. ډېر ځل د دوی کور ته راغلیو مېلمنو خپلوانو او ګاونډیو مېرمنو به ورته ویل ماشوم مو د غېږ خوند اخلي، بغلي به شي که کله یې د اړتیا له مخې له غېږ کښته کوئ بیا به ژاړي. خو ګواکې د چینار انا او مور دا خبرې په یو غوږ اورېدې او له بل یې وتلې.

په چینار د خپلې کونډې مور او بورې انا ځانګړې مینه، پاملرنه او پېرزوینه یوازې د هغه بدني ودې ته نه؛ بلکې د هغه سالمې روزنې او په لوړو زده کړو سمبالولو لپاره هم زیاته وه. نو د نتکۍ چینار به لکه چینار وده کوله. خو دا چینار بې ثمره نه و ثمر یې درلود. ښوونځی یې پای ته ورساوه، د کابل پوهنتون طب پوهنځي ته په ښو نمرو بریالی شو. داکتر شو او د کابل ښار په جمهوریت روغتون کې د رنځورو هېوادوالو خدمت ته وګومارل شو.

مور او انا یې د خپلو سترګو په وړاندې د ځوانیمرګ عزت نښه داکتر چینار د خپلو دردمنو زړونو یوازنی تسل باله. د دوی ذهن ته له ډېرې مودې وروسته د هوسایني او نېکمرغۍ احساس لار پرانیسته؛ د خپل

چینار ښاخونو کې د خیالونو ټال کې په ځنګېدلو به یې په شونډو موسکا راخپره شوه.

یوه ورځ د داکتر چینار انا له شونډو لاندې له ځان سره وبوګنېده، په دوعاګانو کې یې د چینار له امله د خدای(ج) شکرونه ادا کړل. دا لومړي ځل و چې؛ د ځوانۍمرګ عزت له شهادت وروسته یې په غم ځپلې څېره کې د خوښۍ نښې وځلېدې. نتکۍ ته یې مخ واړوه او په موسکۍ څېره او خوږه لهجه یې د خپل لمسي د کور ودانولو په باب ورته وویل:

- «زموږ د هیلو یوازنۍ ګل شکر وغوړېد، چینار مو داکتر شو؛ په شهید عزت خو خدای(ج) د خپل اولاد لیدل نه و لورولي، ښه به وي چې داکتر چینار لپاره د کورودانۍ لټه وکړو.»

د دې خبرې له اورېدو سره د نتکۍ ټنډه وغوړېده او د«شکر خدایه! چې چینار مو د واده شو.» چغه یې په لوړ غږ له خولې ووته.

خواښې او نږور د خپلو حافظو په تلخونو کې د خپلوانو او دوستانو په کورنیو کې د پېغلو نجونو په لټون بوختې شوې. دواړو وپتېیله چې ږومبی به پخپله خوښه د خپل چینار وړ پېغله غوره کوي، بیا به ورسره خبره شریکوي؛ د هغه له هوکړې وروسته به یې کورنۍ ته مرکه ورلېږي.

اوس نو د ورېښمینې ترور او نتکۍ نوې او له هیلو ډکه مشغولتیا پیدا شوې وه؛ چې داکتر چینار به دندې ته لاړ او نتکۍ به له اخلي‌پخلي وزګاره شوه نو له خواښې سره چې نتکۍ به ابۍ بلله، د پېغلو نوملړ تکراروه. کله ناکله به یې په نومونو کې یوې د بلې تېروتنه لکه په امام پسې تر شا ولاړو مقتدیانو غوندې سموله.

د ډاکتر چینار لپاره د مناسبې مېرمنې د پیدا کولو په باب له ورځو ورځو لټون پلټون او غور وروسته انا او مور یې دواړه د دوستانو کورنۍ کې په یوې پېغلې سلا شول. پریکړه یې وکړه چې سبا چې د پینځۍ ورځ ده،

چينار په روغتون کې د شپې نوکري هم نلري، کور ته په وخت راځي خبره ورته ياده کړي.

دواړو- خوابنې او نږور- شپه په خيالونو کې تېره کړه. سهار چې داکتر چينار دندې ته روانېده، وربېښمينې ترور ورته وويل:

- «زويکه! چې نن ناوخته نکړې په وخت کور ته راشه.»

چينار وويل:

«ښه ده اناجانې! په وخت به راشم.»

روغتون ته لاړ، خو مور او انا ته يې د وخت تنابونه اوږدېدل او هره شېبه به يې ديوالې ساعت ته کتل. کله خوبه يې په نظر کې داسې ورتله چې گواکې د گړۍ ستنې له حرکت ولېدلې دي. وخت پې نه تېرېده نن خو يې د پېغلو د نوملړ مشغولتيا هم پای ته رسېدلې وه. مور خو يې داسې ساه تنگه شوې وه لکه چا چې له ستوني نيولې وي.

په دغه ورځ د برېښنا د پرچاوۍ له امله د دوی په کور کې برېښنا هم نه وه. تلويزيون يې روښانه نکړ، نو وخت يې نور هم اوږدېده. نتکۍ خوابنې ته وويل:

- «ابۍ، دا وخت خو نن ببخي د مېږي په مزل روان دی، لکه له وړاندې تگ چې ډارېږي.»

خوابنې ابۍ لا ځواب ورکړی نه و چې د دوی د کور نوبتي برېښنا يې د خونې څراغ روښانه کړ. خوابنې ابۍ ځواب ورکړ:

- «لورې، وخت د پخوا په څېر روان دی، خو زما اوستا ورته تلوار دی. تلويزيون روښانه کړه د چينار بچي تر راتگ به پې وخت لنډ کړو.»

دواړو تلويزيون ته کتل چې لږه شېبه وروسته د تلويزيون په پرده

«بیړنی خبر» ولیکل شو.

په دغو وختونو کې به بیړنې خبرونه د ناوړه او ناڅاپي پېښو له امله خپرېدل. دوی چې له تلویزیو نه زیات وختونه پدې بڼه ویرژلي خبرونه لیدلي او اورېدلي وو؛ د دواړو غبرګ له خولې ووتل خدای دې خېر کړي. د تلوېزیون ویندوی د کابل ښار د صدارت څلورلارې ته نږدې د جمهوریت روغتون دروازه کې د یوې چاودنې خبر خپور کړ.

خوابنې او نږور دواړو ته د ځوانیمرګ عزت د شهادت پېښه یو مهال په ذهن کې وګرځېده. یوې بلې ته د تسل ورکولو او ویلو هیڅ نه درلودل، د دواړو له زړونو یو خدای(ج) خبر و چې په دغه شېبه کې پې څه تېرېدل او په کوم اور کې سوځېدل.

دواړو ته خپله هم ندي په یاد چې له ډېرې اندېښنې څنګه له کوره راوتلي او د جمهوریت روغتون مخ ته یې ځانونه رسولي دي. خو د هغه تکسي چلوونکی چې لا تر اوسه د پېښې په ځای کې ولاړ و یو کس ته ویل:

- «خدای(ج) دې له دې ماتم نه چې دوی ورسره مخ شوې دي هر انسان وساتي. له کومه ځایه چې مې دوی په ګاډي کې راخیستې ما هم تر دې ځایه ورسره سم ژړلي دي.»

د ده له خبرو وروسته مې په لمدو سترګو دا بیت په ذهن کې تاوېده:

«جنګ رانه وژلې، خورا ډېرې ځوانۍ تاندې دي
ګل نه شوې بلها بلها غوټۍ تر خاورو لاندې دي»

***

سبا ورځ چې خواښې او نږور له هدیرې نه کور ته راغلې، نور نو د دوی په سترګو کې اوښکې او ژبې په تالو کې وچې شوې وې. پر خپلوانو سرېېره د چم ګاونډ ټولو خلکو چې به هر څو ورسره په ویرنه او ساندو کې د

چینار د تاندې ځوانۍ او نېکو اخلاقو یادونه کوله او د غمشریکۍ په پار به یې تسل ورکاوه؛ د دوی له خولو غږ نه راوت. له دغه مهاله بیا د نتکۍ ذهن کې دا ویرنۍ ټپه را تاوېده خو د خواښې حالت ته په کتلو سره یې په ژبه نه راتله.

«چیناره! ســیورې دې خدای واخیســت
نور به په سرو غرمو کې چا ته ژوند کومه»

داپې د شهید داکتر چینار په باب وروستۍ ویرنه وه چې د ټپې په بڼه یې د ژوند په وروستیو شېبو کې د شهادت له کلیمې مخکې په خوله راغله.

خو سبا غرمه چې خپلوانو او دوستانو هدیرې ته د نتکۍ جنازه لېږدوله، خواښې یې د روغتون د جدي څارونو خونه کې پرته وه.

پای

# د مېرې ګلان

د مېرې ګلان مېره کې را وټوکېږي، غوټۍ شي، مړاوي شي او ورژېږي، نه د کوم مئين لخوا خپلې شهۍ ته ډالۍ شي چې د وربل زيب يې شي او يا يې لکه تاويز له ځان سره وساتي. نه د کوم خيالولي او ډولي ژني د پټکي يا پکول ښکلا او يا د کوم په زړه نري طالب العلم په کتاب کې د شهۍ د لاس نښه وچ شي.

زه په همداسې يو چاپېريال کې زېږېدلی يم؛ چې ډېر داسې د مېرې ګلان تر بوټيلو ندي رسېدلي، خزان وهلي، رژېدلي له سترګو پناه او له حافظو وتلي دي. ما د ماشوم‌توب او تنکۍ ځوانۍ خوږې شپې ورځې په داسې کلي کې تېرولې چې ټول کورونه او بامونه يې لکه د يو بدن اندامونه سره نښتي وو. کليوالو هم لکه يو تن او وجود د خپل هر غړي درد احساسوه او پې دردېدل.

موږ سره په نږدې ګاونډ او چم کې د ميرې دوه داسې د ګل غوټۍ وې چې کورنيو يې پرې نيکمرغه نومونه ايښودلي وو. زيات وخت پلرونه او ميندې خپلو اولادونو ته داسې نومونه غوره کوي؛ چې غواړي خپل اولادونه په هغه بڼه يا حالت کې وګوري.

خو د انسانانو هيلې او آرزوګانې يو څه، برخليک او واقعي ژوند بل څه وي او د هغو نومونو اپوټه وخېږي. دواړو "نيکمرغو" چې د کال يا يو کال نيم په توپير زما همزولانې وې، دغه راز يو برخليک درلود. موږ په يو چم او ګاونډ کې راسترېدو او د ماشومانه لوبو په مهال به لکه د يوې کورنۍ ماشومانو په خېر سره لوبېدو. دا نو هغه مهال و چې په ټول کلي کې چا راديو نه درلوده، او د تلويزيون خو هډو نوم لا هم چا نه ؤ اورېدلی. د تلوېزيون په نشتون کې خو د ماشومانو لپاره د کارټوني

فیلمونه او یا نور ځانګړي تفریحي پروګرامونه چې اوس‌مهال شته، د چا خیال کې هم نه ګرځېدل. نو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو سرګرمۍ او تفریح یوازې همدا لرغوني او دودیزې کلیوالي لوبې وې چې په کلیو کې به ماشومانو او تنکیو ځوانانو کولې.

ماشوم‌توب لکه د خوندور خوب لیدل تېر شي، د ځینو یاد د ځینو هېر شي. له ښه بخته ما ته پخپل کلي کې د خپل کُول له ماشومانو سره د وړکتوب او تنکۍ ځوانۍ د ټولو لوبو پېټووني، تودکانۍ، چیندرۍ، اله داد، کاکیچ، خُسی او نور لا تراوسه د خپل ماشوم‌توب د مهال د هم‌زولانو سره غبرګ د خوا‌ږو یادونو په سر کې رایادېږي.

هو، د کلي ماشومان ټول لکه د یو بڼ ګلان په یو چاپېریال کې یو د بل د سترګو په وړاندې غټېدل، ښایسته کېدل، خوشبویه کېدل او په بېلابېلو رنګونو یې کلي ته ښکلا ښښله. زما دوه "نیکمرغې" همزولانې که د کلې د ښکلا ملکې نه وې، خو بدرنګې هم نه وې؛ کږه وږه یې ښه برابر او ښیستوکې نجونې وې. د کلیوالو د هغه وخت د ژوند په منځنۍ کچه برابر ژوند یې درلود. دواړه د خپلو کورنیو د مینې په اوبو خړوبېدې، لکه ګلان لوئېدلې رنګ او بوی یې مونده.

زه چې له اوږدې جلاوطنۍ او پردېسۍ وروسته خپل کور او کلي ته تللی وم، یوه ورځ د خپل کلي په کوڅه کې د یو خپلوان کورته روان وم، دغه مهال مې په ذهن کې د ماشوم‌توب یادونه لکه د سینمایي فلمونو غوندې تېرېدل؛ چې هغه یوه همزولې نېکمرغه مخ ته راغله. دا چې د ژوند ستونزو او نهیلیو یې په مخ تر وخت د مخه ګونځې جوړې کړې وې او هغه ښکلې څېره یې له خپل عمر نه لس پنځلس کاله زړه ښکارېده ما په لومړي نظر ونه پېژنده. خو کله یې چې په ډېر پاک زړه لکه د یوې خور را سره روغبړ وکړ، زما نوم یې واخیست، ورته ځیر شوم چې وېې پېژنم. نو ما هم ډېره ژر وپېژندله چې دا هغه زما د همزولو نېکمرغو مشره یوه ده.

په لنډ وخت مې ترې د کورنۍ اورد دې د خپل ژوند د څرنګوالي او د دې د هم نومې نېکمرغې د حال احوال پوښتنه وکړه. وېې ویل:

«زموږ د حال بیان د پښو په سر سخت دی. بله ورځ موږ دواړه کور ته درځو، ستا سترې مه شي خو پر موږ حق دی. د ماشوتوب په خواږو یادونو به د څو شېبو لپاره د ژوند ترخه هېر کړو.»

په درېمه ورځ دواړه یوځای زموږ کور ته راغلې. راته جوته شوه چې دوېمې نېکمرغې خپل پېغلتوب لا تر مشرې هم زیات په ستونزو او تنګسه کې، په داسې بېوزلۍ او بېوسۍ کې تېر کړې و؛ چې هم ترې مور په ابدي سفر تللې وه او هم یې د پلار سیوری له سره کم شوی و . دوی له ما او ما له دوی ډېرې پوښتنې وکړې. زما له هرې پوښتنې سره به د دوی سترګې نمجنې او زما زړه به داسې زمولېده لکه کوم ظالم چې یې په بېرحمه منګولو کې کېکاږي.

له بد شامته چې د دې دواړو "نېکمرغو" د بخت په کرونده کې د نکریزو بوټي نه وو ټوکېدلي. دوی به د سرې ډولۍ او د ناوېتوب د سرو لاسونو په آرمان د ژوند پیټي له اوږو غورځوي. دا مهال مې د ذهن له تلخونو نه د کوم شاعر دا بیت راپورته شو:

«د غریبې پېغلې حسن راته داسې مالومېږي
له ګل چې د رېدي وي ټوکېدلی په مېرو کې»

ما په زړه کې ویل: «خدای مکړه، دا دواړه به هم لکه د "مېرې جل وهلي مړاوي ګلان" ورژېږي.»

پای

# ولېدې[۱]* چیناره...

له ډېرو کلونو وروسته زموږ د کلي په دغه ښېوزله کور کې ښادي راغلې وه او د کورنۍ د دويم زوي واده و. که د کلي کورونه خام او کوڅې يې تنګې وې خو د کليوالو زړونه پراخه او د محبت په تودوخه پاخه وو.

د دې کورنۍ د ورا په خوښۍ کې د کليوالو مېرمنو او نجونو له ګڼه ګوڼې ښکارېده چې په ښادۍ يې ټول کليوال خوښ وو. ډېرو کليوالو نجونو پخپلو چمبو او کليوالي دوديزو نڅاو ورا ډېره رنګينه کړې وه. زما له انده لامل يې د واده د زلمي دوه مشرې خوېندې وې چې د کليوالو په هره ورا او ښادۍ کې يې په خپلو سندرو او د خولې باجه ګۍ په غبرولو د وراو خوند اورنګ زياتوه، اوس نو کليوالو هم خپل دَين باله، چې د دوی په ښادۍ کې په اخلاص برخه واخلي. ځينو مېرمنو چې پخپله يې برخه نشوه اخيستې، خپلو پېغلوټو لوڼو ته يې پر ډولۍ د ښيندلو لپاره غوزان، مرخنۍ، پتاسې او نور خواږه د پړونو په پلوونو کې اچولي وو.

ما د چمبو او د خولې باجه ګۍ له خوندور ريتم سره لومړی ځل دا لنډۍ د زوم د مشرې خور په خواږه غږ واورېده چې ويله يې:

لستوڼي پورته کړئ ګډېـــږئ
د غريبانو ښادي کله کله وينه

دلته د زوم کور کې يې خوېندو او ځينو نورو سندربولو ښځينه و په خپلو چمبو او سندرو د کليوالو مينه ناک زړونه او ذهنونه نازول او د کلي په بله نږدې کوڅه کې د نارينه کليوالو يوې ډلې د ناوې راوړلو لپاره د ناوې کور کې له اوږو ډولۍ کښته کړه.

---

[۱]* ولېدې: ولوېدې

له لږ ځنډ وروسته د ناوې ورور خپله خور ډولۍ کې کېنوله او د ناوې وريندار په زرين دسمال کې تاوشوی قران‌شريف د ناوې لاس کې ورکړ، يو ماشوم يې هم ورسره د نېک فال په دود کېناوه.

څوانانو ډولۍ پر اوږو واخيسته او روان شول. د کوڅې په لومړي گوډپير کې يوه کليواله ترور د ډولۍ مخ ته راووته او د شيدو گيلاس يې د رڼا[1] په توگه ډولۍ ته وردننه کړ، ناوې د شيدو گيلاس ډولۍ کې ناست ماشوم ته ورکړ.

د زوم کور دومره نږدې و چې دويمې رڼا ته وخت پېدا نه شو او ډولۍ د زوم د کور په تنگه کوڅه کې راښکار شوه.

په کوڅه کې پېغلوټو نجونو او زلموټو هلکانو او ماشومانو چې په بې صبرۍ يې پر ډولۍ باندې د مېوو او خوږو ښيندلو انتظار ايسته د «ډولۍ راغله! ډولۍ راغله!» چغو شورماشور جوړ کړ.

د زوم د خوېندو چې د «ډولۍ راغله!» غږ تر غوږو ورسېد کشرې خور نازکو يې باجه گۍ له شونډو لېرې کړه او مشرې خور ته يې وويل:

- «سدرو، بله يې که!»

دا د دوی خپل‌منځي اشاره وه چې بل سروکی يا بله سندره پيل کړه. سدرو دا سروکی پيل کړ:

ولېدې چيناره!
په سر دې اوړي د توتيانو اوازونه

د چمبو منظمې درزا او د زوم د خويندو غبرگو غږونو چې د کلي فضا يې اختريزه کړې وه؛ دومره لوړ شول چې د کلي په وړاندې کوڅو کې يې د کليوالو روح تازه کاوه، او د دوی خوښي يې ترې محسوسوله.

[1] رڼا: ناوې ته په ډولۍ کې د راتلونکي ژوند د خوږېدو په هيله شيدې ورکول.

د ښادۍ او خوښۍ په دغه جوش کې ټولو هغو کلیوالو چې پر ډولۍ ښیندلو لپاره یې له راز راز بیلابېلو تازه او وچو میوو پلوونه ډک کړي وو د دویم پوړ د کمزورې برنډې سرته هجوم وروړ.

کوچنیو هلکانو او نجونو کوڅه کې د ډولۍ مخ ته مېوو نیولو په موخه منډې او څو نیمچه زلموټو د دې تنګې کوڅې له یو بام له څوکې نه د مقابل بام تر څوکې د ډولۍ پر سر څادرونه ونیول. بېلابېلو کلیوالو مېرمنو او نجونو ته به یې نارې وهلې چې د ډولۍ پر سر د دوی څادر ته مېوه وغورځوي.

د خوښۍ په دغه شېبو، د چمبو او غبرګو سندو په دغه سندریز شور ماشور کې، د ښځینه چغو او ژړاو اوازونه واورېدل شول، چا غږ وکړ:

- «ډولۍ ودروئ! ډولۍ ودروئ!»

دا مهال هغه کمزورې بلۍ لکه کېناستونکې الوتکه مخ په ځوړ روانه وه، خو په سرعت نه بلکې په ورو ورو. دغه ورو حرکت د واده په سندرو او نڅا اخته او راغلیو زیاتو نجونو او مېرمنو ته د ځان ژغورلو موقع ورکړه. خو هغه نجونې او مېرمنې چې د بلۍ پر سر وې څو تنه یې ټپي شوې.

د سندرو او نڅاو ځای دوعاګانو او شکرونو ونیوه. د زوم مور، خوېندو او د چم ګاونډ ټولو مېرمنو چې د بلۍ غورځېدل ولیدل ویل یې: « شکر خدایه! چې بلا وه برکت یې نه.»

سبا ورځ د واده پر کورنۍ سرېېره د کلي زیات شمېر هغو کورنیو چې لوښي یې په ډولۍ باندې د مېوې ښیندلو لپاره رالېږلي وې خیراتي حلواګانې ویشلې.

پای

## چغان ابۍ

د پسرلي موسم او د وري مياشتې وروستۍ شپه وه، او طبيعت خپله پېرزوينه لورولې وه. ټول کلی د شنو فصلونو او د کلي د بڼگيو د نارنج گلانو، له يوې نيمې باغچې د شپې ناوې (رات کې راني) گلبوټو او د بامو پر سرونو په کټيو کې د کشماليو خوشبويه وږمو غېږ کې نيولی و.

دا شپه چې د جومې وه د کلي خلک د يوې اوونۍ له کاره او زيار ستړي ستومانه د خوب په نيت خپلو کټونو ته ختلي وو. د کونړ دواړو (لوی او واړه) سيند په خپلو ياغی څپو د سيندونو تر منځ پروت کلي اوسېدونکو ته د شومه‌دم سمفوني غږوله. خو د دې شپې سمفوني پخواني ريتم نه درلود، ذهنونه يې نه آرامول. نه يوازې دا چې چا ته يې د آرامۍ احساس نه بښه؛ بلکې له خوبياولو سترگو يې هم خوب وړه. کليوالو يو ناڅرگند ويرژلی احساس درلود. په لامل يې نه پوهيدل، ځينو د پاخه عمر ښځو به ويل: «دا خو ډېره درنه شپه ده خدای(ج) دې په خېر سبا کړي.» شپه تر نيمې په اوختلو وه چې د ټوپکو او ماشيندارو ډزو شپنۍ چوپتيا ماته کړه.

په دغو ډزو«چغان ابۍ» چې شيبه مخکې د سترگو له پټېدو سره په ژور خوب ويده شوې وه. چغان ابۍ خوب کې د خپل لمسي الماس- چې د مړه زوي يوازنی نښه يې وه- واده ليده او په ډولۍ پسې روانو ملگرو او خپلوانو يې دومره ډزې وکړې چې ډولۍ د باروتو په لوگيو کې داسې ډوبه او له سترگو پناه شوه لکه په تورو وريځو کې پناه شوې سپوږمۍ.

«چغان ابۍ» له خوبه وارخطا پاڅېده، کلمه يې تېره کړه، له ځان سره

يې وويل: خدايه ته په هر څه پوهېږې! دا څنګه ګډوډ خوب مې وليد. لوټکی يې راوخيسته اودس يې وکړ او په لمونځغالی کېناسته له نفلي لمانځه وروسته يې خپلو بچو ته په دوعاګانو پيل وکړ، د سهار اذان ته يې غوږ اړولی و. خو له هيڅ کوم جومات نه د اذان غږ رانغی.

په دغه شپو ورځو کې د کليوالو غوږونو ته داسې اوازې رسېدلې وې؛ چې "مجاهدينو" ته له "پاکستان" نه نوې وسلې رارسېدلي دی. کلی له څو اونيو راهيسې د دولتي ځواکونو په محاصره کې و. د دوی له اجازې پرته ان د کلي خلکو ته هم له کلي د بهر وتلو او راننوتلو اجازه نه وه. له شپنيو ډزو کليوالو ګومان کاوه چې دا به هماغه "مجاهدين" وي چې له "پاکستان" ورته نوې وسله رارسېدلې ده او پر امنيتي پوستو ډزې کوي او له پوستو هم پر دوی ډزې روانې دي.

کليوالو کری شپه د سهار تر سپېدو پورې چې رڼا راخپرېده د ډزو له امله خوب ونکړای شو. سهار مهال د کلي په کوڅو او د کورونو شاو خوا کې شور او زوږ اورېدل کېده.

«چغان ابې »مخکې له دې چې د کور دروازې ته يې عسکر راورسېږي د خپل ځان د پوهولو په نيت دروازه پرانيزي. د دروازې له پرانيستلو سره سم يو وسلوال عسکر چې د غه لحظه دروازې ته رارسېدلی و، «چغان ابې» يو خوا ټېلوهله او له اجازې پرته يې کور ته ورننوتل. د «چغان ابې» څلور زامن او يو لمسی چې له کټونو لا نه وو پاڅېدلي د عسکرو په شور ماشور د خپلې مور خواته ځانونه ورسول.

په دې څلورو کې مشر زوي بختيار يې چې ښوونکی و، عسکرو ته په نرمه ژبه وويل:

- «ستاسو دنده د خلکو د امنيت ساتل دي که د خلکو رټل او ځورول؟»

له عسکرو سره راغلي یو پلېټه برېتور بریدمن په تنده او ترخه لهجه ځواب ورکړ:

- «ټوله شپه مو پر موږ ډزې کولې اوس نرم نرم غږېږې، موږ ته خپله دنده راښایې.»

بختیار استاد ورته وویل:

- «زموږ په کور کې هیڅ ډول وسله نشته؛ نه له چا سره دوښمني لرو او نه دومره شتمني، چې له غل غدو وډار شو، ټوپک وساتو. زه په لېسه کې ښوونکی یم او کشران ورونه او وراره مې څه پخپله او څه د خلکو په ځمکه کې دهقاني کوي. بل دا چې؛ ته نه ګورې زموږ د کور پر سر امنیتي پوسته ده او ټانک هم پکې ولاړ دی، که زموږ له کوره ډز وشي نو ټانک په هماغه لومړي ډز زموږ کور په کنډواله بدلوي.»

د بختیار استاد خبره لا نه وه تمامه شوې چې بریدمن له غاړې ونیوه او کش یې کړ ویې ویل:

- «دا خبرې بیا هلته زموږ قومندان ته وکړه. تاسو اشرارو سره باید د ټوپک په ژبه خبرې وشي.»

چغان ابۍ ډېرې نارې سورې او ژړاګانې وکړې، بریدمن او ورسره عسکر یې ببلابېل له زنې ونیول، خو دوی په پوره بې‌رحمۍ داسې ټېل‌وهله چې په ځمکه وغورځېده. نورو عسکرو یې له ورونو سره ورته چلند وکړ او ټوپکې یې ورته ونیولې، له ځان سره یې روان کړل.

د چغان ابۍ مخ چې د غورځېدلو په مهال په ډبره برابر شوی وو، وینې پرې بهېدلې؛ هغه د زامنو په سودا کې وه او خپلو وینو ته یې پام نه شو. د زامنو او لمسي تر شا په کمزور پښو په منډه شوه، خو پسې ونشوه رسېدلی. څو قدمه وروسته یې چې پر مخ د وینو بهېدو احساس

وکړ، پخپل تور څړوکي (پړوني) یې وینه پاکوله او روانه وه. او په چغو چغو یې ویل:

- «جلاده په پخپلو بچو دې خدای داسې وژړوه چې یو خښېږي بل سلګۍ درته وهي.»

خدای ښه پوهېږي چې څو ملیونه مېندو او مېرمنو به سور جلاد ته دا خبرې کړې وي.

«چغان ابی» په لار کې له نورو ښځینه کلیوالو له ژړاو او فریادونو وپوهېده چې نور کلیوال هم عسکرو له ځان سره بوولي دي. «چغان ابی» چې تر څو د کلیوالو د راغونډولو ځای ته ځان رساوه، د سور جلاد افسران او عسکر له کلیوالو ګرد چاپېر ولاړ وو. هیچاته یې د ورنیږدې کېدو اجازه نه ورکوله.

د کلي په کوڅو او کورونو کې د ښځو او ماشومانو ژړاګانې او کوکارې لکه په غرونو کې د غبر پژواک تاوېدې راتاوېدې او د کلیوالو غوږونه یې ځورول. د ماشیګڼو او ټوپکو له ناځاپي پرله پسې ډزو سره ځینې سارایي مرغۍ او ښارونکې له شنو ونو، او توتکۍ د کورونو له دېوالونو او منډوونو په شورماشور له ځالو والوتې. دا مهال نو نرینه کلیوال سوري ټټرونه پخپلو وینو لیت پیت پرځمکه پراته وو. له دغه ډله ییز چړاو وروسته د «چغان ابی» د سترګو چینې او ستونی دواړه وچ شول. د ژوند تر پایه یې په سختۍ خبرې کولای شوې او سترګې به یې له ډېره سوزه سرې شوې خو اوښکې ترې نه راوتې.

پای

# ړنده ګوته

په لومړني ښوونځي کې زما يو ډېر نېک‌خويه ټولګي‌وال کشمالی نومېده. کشمالی په خوله خوږ مينه‌ګرکی انسان و. نو له همدې امله زموږ ډېری ټولګي‌والو به له مينې کشمالی‌ګل، خو ځينو به د قد د ټيټوالي او د غرمو وهلي رنګ له امله د کشمالي غوډلی باله. زموږ په ښوونځي کې د ټولو زده‌کوونکو په پرتله له ښوونځي نه د ده د کور واټن زيات و. خو کشمالي‌ګل له درس او زده‌کړو سره دومره مينه درلوده چې د کور او ښوونځي تر منځ د واټن له زياتوالي سره به يې بيا هم ښوونځي ته تل په ټاکلي وخت ځان رارسوه. کشمالی که په قد ټيټ خو په همت دنګ او په پښو دومره غښتلی او چټک و ، چې خپل منزل ته به تر نورو ډېرو لوړقدو زده‌کوونکو ژر رسېده.

دا هغه مهال و چې زموز هېواد د بيرته پاتې هيوادونو په ليکه کې و او کمزوري اقتصاد له امله يې افغان ولس په ټوليزه توګه او د کونړ خلکو په ځانګړې ډول بېوزله ژوند درلود. ډېرو وګړو به په مړه ګېډه خواړه نه خوړل، بهتره ده ووايم نه يې لرل. د پوښاک خو حالت تر دې هم بدتر و. ډيرو کمو کسانو به دوه جوړه جامې درلودې، زياتو خلکو چې يوه جوړه جامه به يې درلوده د کاليو پريمينځلو په ورځ به له کوره بهر نه وتل، خپل څادر به يې له ځانه تاووه او ميرمن به يې ورته جامه پريمينځله. د پښو پيزار خو به په لوکس شيانو کې حسابيده، چې په کور کلي کې به کم شمير خلک ترې برخمن وو. کوم غريب چې به لرل نو هغه به د کلکې او بې‌رنګه څرمنې داسې څپلۍ وې چې د نرموالی په خاطر يې به د واده يا خيراته د غوړې وازګينې ښوروا له خوړلو وروسته غوړ لاسونه پخپلو څپليو راښکل چې پستې شي.

ځينو بېوزلو خو به چې له غره د سون لرګي راوړل، او د غرونو ځيرو

تیګو به ورله ایبله پښې ژوبولې نو له پلالې (پروړې) به یې د شپې لخوا څپلۍ ډوله پیزار جوړ کړ، چې سهار غر ته د تګ په مهال به یې په پښو کول. دغه د پروړو څپلیو به ایله‌بیله یوه ورځ غر ته د تګ راتګ دوام لرلی شو.

د کشمالي کورنۍ هم دومره بېوزلې وه چې خپل زوي ته یې د پېزار اخیستلو وس نه درلود. نو ځکه به خوارکی کشمالی اوړی او ژمی ایبله پښې ښوونځي ته روان و. د اوړی په سوزنده لمر کې به غرمه له ښوونځي نه کور ته د تګ وخت کې، پر سړک پراته کاڼي لکه انګار سره شوي ول. د کشمالي پښې به دغه ټکنده غرمه کې د کاڼو سکروټو دومره سوزولې؛ چې د سړک پر سر هر لښتي کې به یې پښې په اوبو کې ډوبې او یخولې، چې پدې توګه تر بل لښتي پورې د تودوخې زغم ولري. بیا به نو له پښو چالاک کشمالی نور هم چټک شو، او د سړک ډبرې او تاوده کاڼي به یې په سترګو نه ورتلل، د پښو ګوتې به یې کله له یوې او کله له بلې تیګې سره لګېدلې. د ټپي شوې ګوتې پر وینو به یې خاوره واچوله چې وچه شي او تګ ته دوام ورکړي.

پرون ورځ بیا هغه ورځ وه چې کشمالي ټپي ګوته کور ته ورسېد. مور خوراکۍ یې له سر تر پښو له نظر تېر کړ، چې ټپي ګوته یې ورله ولیده نو په غوسه یې ورته وویل:

- «بچی! زمونږ د خوارانو له مکتب سره څه دي، خو ته سرټمبه پخپله خبره مئین یې. په لار هم داسې روان یې چې خپلو پښو ته نه ګورې هره ورځ دې ګوته له یوې کمرې سره لګېدلي وي. د دې ښۍ پښې دا غټه ګوته خو دې بیخي رنده ده، هره ورځ په یوه کمره خامخا لګېږي.»

مور یې ورته له خواږو ورکولو مخکې د پښې ټپي ګوته ورپاکه کړه، وینه یې لا نه وه ودرېدلې. مور یې یوې ریښکۍ ته اور واچوه او د کشمالي

ټپي ګوته يې پې وداغله، زاړومبۍ يې پرې کېښوده او په يوه ريښکۍ وروتړله. کشمالی يې په ټنډه ښکل کړ ورته وېې ويل:

- «زويه، دا ګوته دې ړنده شوې هره ورځ لګيږي. احتياط ورسره کوه.»

کشمالی چې به تل له مورږ مخکې په ټولګي کې ناست و؛ نن له مورږ لږ ناوخت ټولګي ته راننوت، څکه زمورږ د ټولو پام ورواوښت. ما چې د ناوخت راتګ به باب پوښتنې ته ځان جوړوه، بل ټولګيوال ترې و پوښتل:

- «کشمالی ګله د پښې ګوته دې ولې تړلې ده؟»

هغه ورته وويل:

- «دا ګوته مې ړنده شوې ده.»

پای

## بې اوبو سېلابونه

په لره پښتونخوا کې د وروستيو سېلابونو په مهال مې د يو دوست د کور کهول د احوال اخيستو تيليفوني پوښتنه وکړه. ما وی خدای مکړه چې د سر او مال زيان نه وي ورته رسېدلی.

هغه چې يو اګاه او په ولس مئين انسان دی او له هرډول زورزياتي، ناروا او بې عدالتۍ نه کرکه لري، د هر بېوزله او مظلوم انسان په درد دردېږي. سياسي او غېرسياسي دوکې او تګې ښه په زغرده غندي؛ په ځواب کې راته وويل:

- « ستا کور ودان چې زموږ خيال ساتې؛ خو زه فکر کوم ته لکه چې يوازې د اوبو د سېلابونو له امله زموږ په باب اندېښمن يې؛ نورو بې اوبو سېلابونو ته دې پام ندی که څنګه؟!»
- کوم نور سېلابونه؟ بې اوبو سېلابونه لا څنګه وي؟
- «ياره ته خو د "پاکستان" په باب په ډېر څه خبر يې، چې د لوی شېطان ناجأيزه اولاد ده. له هماغه لومړيو شېبو راهيسې چې له يوې خوا "پاکستان" د وخت د ستر سامراج برتانوي استعمار د مصنوعي القاح نه رامنځ ته شو، له بل پلوه ورسره سم د انګريزي قانون په اډانه کې پاکې، صداقت او عدالت باقاعده په خړسېلاب لاهو شول. درپه زړه يې کړه چې څنګه د هند د لوی وچې سامراج ځپلی ولس د بېلابېلو باورونو لرونکو، هندوانو او مسلمانانو د آزادۍ غوښتنې غورځنګونه پياوړي او له انګرېز نه يې خپلواکي ترلاسه کړه. د هند نيمه لويه وچه آزاده شوه خو لوی شېطان خپل ناجأيز بچي ته د ده د ناولتيا پوښلو په موخه د"پاکستان" نوم ورکړ.

او د دین او مذهب په نامه یې د هند په لویه وچه کې د نفاق او دوښمنۍ تخم وکره. د پېړیو په اوږدو کې په یو هیواد، یوه سیمه او یو کلي کور کې اوسېدلي ولسونه یې د مذهب په نامه له یوبله په کرکجن ډول جلا کړل.

یاره! له هماغه مهاله دلته سېلابونه جاري شوي دي. د فساد او فحاشۍ سېلابونه، د انسانانو یو پر بل د بې باورۍ سېلابونه، د مذهبي افراطیت سېلابونه او په وردیو (یونیفورم) کې د دهشتگرۍ او د پښتنو او بلوڅو قوم‌پالو مشرانو د هدفي وژنو سېلابونه او داسې نور د کرکې او دوښمنیو زېږوونکي سېلابونه.

د انگرېز له ځای‌سناستي لاسپوڅي "قائداعظمه" راوروسته تر دې دمه، زمامداران یې د خپلو ناروا گټو د لارې خنډ، پر قام او ولس مئین د سر سړي په نښه کړي، له منځه وړي دي او وړي یې. دلته انساني حقونه، عدالت، د ولس گټو ته ژمنتوب او د ولسونو یو په بل باور ټول همدا بې اوبو سیلابونه له منځه وړي او یا یې داسې گرداوونو کې ایسار کړي دي؛ چې وتلی ترې نشي.

دلته د پښتنو او بلوڅو د خودارادیت حق او مدني حقونه وخت په وخت د خړپوښو پوځیانو (د وردیو) د دهشت او د مذهبي تندلارو د "تکبیر" په سیلابونو لاهو کوي.

د" پاکستان" د واکمنو په قاموس کې د پت او عزت په نوم کوم لغت نشته. دوی د خپل کرغېړن ژوند د دوام لپاره پر ایمان او انسان معامله کوي. په ډالرو ځان او ایمان دواړه پلوري. دوی د خپل پلندر پلار په منډ پل ږدي. نن درسره په درواغو د "دوستۍ" تمثیل کوي، سبا دې رښتیني دوښمن وي. تا ته خو پته ده، د ډگروال یوسف د «خاموش سرباز» کتاب کې - چې ماته دې هم د لوستلو لپاره رالېږلی و.

کښلي دي چې ځنګه يې د افغانستان د تباهۍ لپاره د ”مجاهدينو“ په نوم ځو لاس‌پوځي د آي.اس.آي په غېږ کې وروزل. بيا يې خپله خاوره د هماغه طالبانو په خلاف چې د ”پاکستان“په مدرسو کې روزل شوي ول، د امريکايي يرغلګرو په واک کې ورکړه.»

ياره! دا سېلابونه خو د خړو اوبو له سېلابونو او توپانونو خورا زياته خونړۍ«سونامي»[1] ده. له بده مرغه موږ پښتانه له خپلو بې اتفاقيو او ناپوهيو له امله نه سره يو شو او نه ددې جوګه چې د دې بې بارانه سېلابونو مخه ونيسو.»

ما ورته وويل:

« د نهيلۍ پر ځای د خپلو ولسونو د يووالي لپاره د متقابل باور د رامنځته کولو هڅې بايد بې سترګيا دوام ولري. د بشريت تاريخ ته په کتنې سره باور لرم؛ هغه ورځ خامخا رارسېدونکی ده چې خلک پخپله آګاهۍاو همت دا مصنوعي«بې اوبو سېلابونه» له سرچينې وچ کړي.»

پای

[1] سونامي: د سمندر يوه غټه او تباه کوونکې ځپه ده.

«مخ بدرنگ ښه دی، نه پټ بدرنګ!»

## په تبۍ تور مخونه

د سهار رڼا لا د ځمکې مخ ته نه وه را کښته شوې، د دې جنګ ځپلي او نیم شړ کلي - چې له نیم زیات کورونه او تاک‌بڼونه څه د بهرنیو سرو پوځونو د توپونو ، څه هم د سیالو تنظیمونو په خپل‌منځي جګړو کې د توغندیو د ډزو له امله په کنډوالو بدل شوي ول - لا د ژمنیو لړو په غېږ کې پټ وو. له ناروغانو او ځینو د پاخه عمر لرونکو پرته نور ډېری کلیوال په خواږه خوب بیده ول.

صوفي چې تش د رېږې اوږدوالي له امله به یې قومېنو او کلیوالو صوفي باله، خو نه له صوفي‌توبه خبر ؤ نه د مسلمانۍ په اصولو برابر. دې په خپل کلي کې د خپلو قومینو منځ کې اوسېده، خو سره لدې یې هم د سیال تنظیم د ټوپکوالو نه د خوندیتوب احساس نه کاوه. په ورځ کې به بیده او د شپې زیاته برخه به ویښ ؤ. صوفي له مشر ورور یاقوت اکا سره چې د ټوخي له امله به کرۍ شپه بیدار ؤ، یوځای اوسېده.

پدې شپه یاقوت اکا له هغه شریت نه چې یو کلیوال له ښار نه ورته راوړی ؤ، له ماښامنۍ خوړلو وروسته د یوې کاچوغې پر ځای دوه ډکې کاچوغي تر ستونې تېرې کړې. نو نن شپه د ده آرام خوب او د ټوخیو نشتون ، د کلي شاوخوا د "مجاهدینو" له پوستو هم نه د ډزو کوم غږ راته او نه د خطر د علامې په توګه د رسام مرمۍ د کلي د پاسه لیدل کېده. نو د دې چوپتیا له امله د صوفي سترګې هم درنې شوې وې او داسې بیده و چې؛د خوب خرهار یې له خونې بهر اورېدل کېده. خو لکه د صوفي په برخه چې د شپې خوب نه وي رسېدلی، نن شپه د ده د خوب لړۍ د کوڅې لخوا د ده د کوټې د دیوال ټکولو وشلوله. دا د ده او سرګروپ تر منځ د نږدې خطر یوه نښه وه.

صوفي لکه فنر پخپل ځای ټوپ کړ، ورسره چينايي ټوپک ته يې لاس کړ، وار د واره يې د کوټې ديوال له د ننه خوا وډبوه سرګروپ ډاډه شو چې صوفي خبر شو نو لاړ.

صوفي له ډېر ډار او وارخطايي نه، پرته لدې چې ياقوت اکا ويښ کړي تر څو له احتمالي خطر ځان پټ کړي، ځان په يوه منډه خپل پټن‌ځای ته ورسوه.

***

د ځمکې له مخ د شپې تيارې خپله شړۍ ټولوله، د سباوون رڼا لا پوره نه وه خپره شوې چې يو نيم کليوال د سور لښکر شين سترګې د کلي په شاوخوا او نږدې کوڅو کې وليدل.

کلېوالو مېرمنو او پېغلو د دې خبرې له اورېدو سره سملاسي د دې لپاره چې بدرنګې او خيرنې مالومې شي؛ د تبيو او ديګونو د لوګيو په تورکو او سکرو هم خپل او هم د پېغلوټو نجونو مخونه تورول پيل کړل. خيرنې او زړې جامې يې هم خپله واغوستې او هم يې لونړو او خويندو ته.

د نوربي (نور بي‌بي) انا په کور کې يوې ښاري ميلمنې چې له کابل نه د خپلې يوې لور سره راغلې وه او د خپلې ښکلا لپاره يې زيات زيار ايستلی ؤ، او پوره سينګار توکي يې کارولي ول، له کوربنې انا پوښتنه وکړه:

- « انا! دا د کور مېرمنې او نجونې ولې خپل مخونه توروي او په لوی لاس ځانونه بدرنګوي؟»

نوربي انا ميلمنې ته وويل:

- «زموږ نارينه چې هر وخت له جومات راشي، د جومات د نوي ملا د خولې خبرې کور کې ټولو ته وايي. دا نوی ملا چې له پاکستان نه راغلی دی ډېر غټ عالم دی. له هره لمانځه

وروسته د روسانو په باب ډېرې خبرې کوي. ملا وايي روسان په خدای (ج) باور نلري نه کتاب لري، نه د خپل او نه د بل چا د ناموس او پت څه خيال ساتي. وايي چې څوک بې خوښ شي بې ناموسي وراړوي. نو چې کلي ته د دوی د راتګ اوازه شي، د کلي ښځينه خيرنې، زړې او شلېدلې جامې اغوندي او ځانونه بدرنګوي.لورجانې! مخ بدرنګ ښه دی نه پت بدرنګ.»

پای

## د ګرګر[۱] د ژوند وروستۍ شپه ورځ

ګرګر چې څه موده مخکې یې د یوې دروهې له لارې واک غصب کړی و. د خپل ایګویزم او ځان غوښتنې د تندې کېنولو په لړ کې یې خوښېدل چې تل له نورو لوړ وي. نو د خپلې استوګنې لپاره یې هم یوه داسې تاریخي ماڼۍ غوره کړه چې د کابل ښار په یوه هسکه غونډۍ پرته وه. پخپل ذوق او سلیقې یې د دې تاریخي ماڼۍ د بیارغونې او په عصري ډول د ادلون بدلون هدایت ورکړی و. انجنیرانو هم داسې بیارغولې وه چې د مستبد د ځان غټې لیدنې تنده یې تر یوې کچې کېنوله.

ګرګر چې د واکمنۍ د ترلاسه کولو لپاره یې پر ډېرو وژنو سرېېره خپل لاربښود او مرشد هم وژلی و، د شپې آرام نشو بیدېدلی، تل به یې ډاروونکي خوبونه لیدل.

تېره ورځ هم د هېواد له بېلابېلو سیمو نه د ناآراموونکو رپوټونو له اورېدو - چې د پخوانیو ټولواکمنو په څېر ځانګړی کس به ورته لوستل- ډېر غوسه او ستومانه کړی و، د دې تاریخي ماڼۍ د خوب په خونه کې چې له لوړبیه فیشني توکو نه په ګټېې سره یې رغولې وه، د ناز پر پالنګ پرېوت.

بیا هم لکه د هرې شپې غوندې لټ په لټ واوښت را واوښت، خو خوب یې له سترګو تښتېدلی و. د ماښامنۍ په ترخه څښاک یې چاره نه وه شوې، له بستر پاڅېد او خپلې مېرمن ته یې د کنګل د ټوټو د راوړلو وویل. مېرمن یې هم د طلایي ویښتانو لرونکې ځانګړې ښځینه

---

[۱] * ګرګر: مستبد

چوپړۍ نه چې ګواکې په پخلنځي کې به يې د اخلي‌پخلي کار کاوه او د ګرګر دوست بهرني هېواد پرې لوروليې وه، د ګنګل ټوټې وغوښتې، د خوب خونې ته يې راوړې. له الماری يې د چکي کريستال ګيلاسونه او د امريکايي «جک دانيل» ويسکي بوتل د کنګل له ټوټو سره پر ميز کېښودل.

ګرګر چې په امريکا کې د زده کړو له مهاله ورسره روږدی و، دوه ډک ډک ګيلاسونه په ډېر اشتياق په دې تمه چې ژر خوب ورشي په سر واړول. شپه وروسته يې سترګې درنې شوې؛ بيده شو. خو لکه د نورو شپو ډاروونکو خپسيو په خوب کې پسې واخيست. د ده د زورواکۍ د مهال څارګرو ادارو کې د ده د مخالفينو د بې‌رحمانه شکنجو او وژنو خپسيو به له ستوني نيوه. د خپل لارښود د لاس مچولو او بيا په شکنجه د هغه د وژلو بهير به يې لکه د يو مستند او ډاروونکي فيلم په څېر په خوب کې ليده.

***

تر يوې ډېرې ناآرامې شپې وروسته له خوبه پاڅېد. ويې پتېيله چې نن د شپنۍ ناآرامۍ د هېرولو او ځان آرامولو په موخه بنډار ډوله سياسي ميلمستيا جوړه کړي. غوښتل يې په يو غشي دوه مرغۍ ښکار کړي؛ له يوې خوا به د خپل همېشني عادت له مخې د واک او ځواک د وړاندې کولو او سياسي حريفانو ته د سوز ورکولو په موخه په نوې رغول شوې مانۍ کې د يوې ځانګړې مېلمستيا ناټک ننداړې ته وړاندې کړي او له بل پلوه به د «مستي او راستي» د ګړنې په اډانه کې دوی تر دې کچې مست کړي چې غېر ارادي يې د زړه خبرې په خوله راشي. نو په دغه ورځ يې د لومړي ځل لپاره د خپلې ډلې ټېلې ځانګړي مشران "ملګري" مېلمانه کړل.

زورواک ګرګر که څه هم چې کوربه و، خو د خپلې ځان‌غوښتنې او

انانیت گروپ د راضي کولو په نیت د ډوډۍ میز ته تر مېلمنو وروسته راغی. ټولو میز ته ناستو ته يې د امریکايي موسکا په بدرگه په کبرجن انداز ښه راغلاست ووایه.

گارسونانو چې لا د مخه میز تر نظر لاندې نیولې و، مېز ته د کوربه له کېناستلو سره سم په اروپايي ستایل په سپینو دستمالونو کې نیولو بوتلونو سره رانږدې شول. کوربه غاړه تازه کړه او وېې ویل: "ملگرو"!

د ملگرو له ویلو سره يې په زړه کې وروگرځېدل چې څومره تېرایستونکی ويی(لغت) دی - له خوراک مخکې مې درته د داسې څښاک بندوبست کړي چې له زړونو زنگ لرې کوي، او له هر ډ ول گرومو او سیاسي خیرو او رټو يې پاکوي.

د کریستال د طلايي رنگه مورگو لرونکي گیلاسونه وجنگول شول او د "انقلاب" د لابریا او افغان - شوروي د دوستۍ په لا ټینگښت د سلامتۍ شعارونه په کوربه پسې تکرار شول. د مېلمنو لخوا هم د جامونو جنگولو په بدرگه شعارونه ورکړ شول.

د خوړلو په مهال، کله چې هغه میلمه ملگري چې میلمستیا گواکې له بهرني سفر نه هېواد ته د هغه د بېرته راگرځېدو په ویاړ شوې وه، د سوپ له خوړلو ډډه وکړه. نو کوربه په زیات تکبر خپلو مېلمنو ته مخ راواړوه، په ټوکه يې وویل:«تاسو تاریخي وږو![1] ته مې زموږ د "انقلاب" د حامي او ملاتړي د نړۍ د ستر زبرځواک د «نامتو خواړه پخوونکي»[2] په لاس ځانگړي خواړه داسې چمتو کړي، چې گومان نه کوم تر اوسه

[1] * تاریخي وږي: د همغه مېلمه د خولې خبره وه چې گواکې دا مېلمستیا يې په ویاړ جوړه شوې وه. هغه یوه ورځ خپل یو ملگري ته ویلي و:«ما گشنه گان تاریخ هستیم ما را که هروقت دیدی، نان بته!»

[2] ** د گرگر مانۍ کې د طلايي ویښتانو لرونکې بهرنۍخواړه پخوونکې وه.

به مو خوړلي وي.

د خبرو په ترڅ کې یې د سترګو په اشاره شین سترګی خواړه ویشونکی ګارسون پوه کړ چې د ده د سوپ غاب ورته ډک کړي. شین سترګي هم د ورسپارل شوې استخباراتي دندې پر بنیاد په کوربه ګرګر د سوپ پوره پېرزوینه وکړه.

د خوارو په بهیر کې هیواد ته د «سرو شین سترګو» وسله والو راتلو او د کوربه د ماڼۍ د امنیت نیولو ته په اشاره، د انقلاب د نه ماتېدو او تضمین خبرې د مېلمنو په ولولو او احساساتو بدرګه کېدې. شپېبه په شپېبه د ځښاک شوق او د انقلابي خبرو تودوخه زیاتېده. څومره چې ګیلاسونه یو په بل پسې تشېدل، هومره به سرونه هم درنېدل. له یو مېلمه پرته چې سوپ یې نه و خوړلی د نورو سرونه دومره درانه شول چې پاڅېدو کې د نورو مرستې ته اړ شول. دوی چې پخپلو پښو ماڼۍ ته راغلي وو، ځینو ګنګس او ګول او ځینو د نورو په مرسته تر خپلو ګاډو ځانونه ورسول. کوربه ګرګر هم د مېز له سر نه د نورو په مرسته د خوب تر خونې ورسول شو.

***

دا مهال د ماڼۍ په پوړیو کې د دوست هېواد هغه «شین سترګي وسله وال» چې د ډوډۍ په مېز د انقلاب ساتونکو او تضمینوونکو په توګه په ویاړ یادېدل او په سلامتۍ یې جامونه کړنګېدل، له ماشیګڼو سره د ماڼۍ په پوړیو کې هر لور ته په ډزو کولو راختل. په ډزو کې د ګرګر پر یو زوي سریېره د یو لوړ رتبه چارواکي مېلمه مېرمن هم ووژل شوه.

«شین سترګو» پخپلو لاسو کې د ګرګر انځور نیولی و او پسې ګرځېدل. کله چې د ګرګر یو زوي او مېلمنه مېرمن په ډزو کې ووژل شول، د ګرګر لور د شین سترګو یرغلګرو لاس کې انځور ته پام شو، ګومان یې وکړ

چې د ماڼۍ بهرني ساتونکي دي او پلار به يې ژغوري؛ نو چغې يې کړې: «ډزې مه کوئ ! پلار مې دلته دی.»

د ګرګر لور ګومان وکړ چې دا کسان يې د پلار بهرني ساتونکي دي او د پلار د ژغورنې په نيت يې ماڼۍ ته راننوتل. دا يې هډو په خيال کې هم نه ګرځېده چې دا د ساتونکو په جامه کې بهرني وسله وال به يې پلار وژني.

پای

## «زه خو د ګاډي کرایه نلرم!»

"قومندان" چې مخابره کې ګرېده، خپلې خبرې په دې خبرې پای ته ورسولې: «هو، سمه ده، ساتل يې ندي په کار "رخصتوم" يې.»

مخابره يې بنده کړه، په څنګ کې ورسره ولاړ "چريک" ته يې وویل: «ورشه هغه لوی"ملحد" راوله.»

"قومندان" هغه کس يادوه چې پرون مازيګر د ده ټوپکيانو د پروان - کابل د لوی لارې پر سر له ګاډي کښته کړې و او له بدني تالاشۍ وروسته يې په يوه تورتمې خونه کې اچولی و.

قومندان نه غوښتل چې ميلمانه يې د مخابرې په خبرو پوه شي، نو د مخابرې خبرو ته د بل رنګ ورکولو په باب، له فکر کولو مخکې يې د نسوارو دبلي پرانيست، په ګوتو يې له نسوارو غوندارې جوړ کړ او د پاسنۍ شونډې لاندې يې وتپومبه.

له لږ ځنډ او قدم وهلو وروسته د ميلمنو خواته کېناست. د وزې پچو ته ورته چونډۍ يې له خولې راويست، د خونې کونج ته يې ګوزار کړ، په لمدو نسوارو ککړې ګوتې يې په توشک وموږلې ويې ويل:

- «زموږ امير انجنير صيب يوه ورځ په پېښور کې ما نه زموږ په سيمه - د قره باغ شاوخوا او پروان کې د مخالفو تنظيمونو د سرګروپانو او حکومتي مامورينو په باب پوښتنې کولې، په خبرو کې يې دا هم وويل چې: «زه لا د انجنيرۍ فاکولتې ته نه وم تللی او "جهاد" مو هم نه و پيل کړی چې دا د پروان اوسنی مستوفي هغه وخت د خلق ګوند له نورو "ملحدو" مشرانو سره د دغه ګوند د جوړېدو لپاره کار کاوه.»

"قوماندان" له خپلو خبرو دوه موخې لرلې؛ غوښتل یې مېلمنو ته وښايي چې ورسره بندي مستوفی غټ "ملحد" او په خدای بې باوره معرفي کړي. بل دا چې د ده د برخلیک به باب پرېکړه دې پخپله کوي.

"قوماندان" لا خبرې نه وې خلاصې کړې چې په عمر پوخ مستوفي یې تړلي لاسونه راوست. قوماندان نه یوازې دا چې د شپې په شکنجه ورکولو یې پوره خبر و، بلکې د شکنجې ورکولو امر ده پخپله ورکړی و. ځان ناخبر اچوي وایی:

- «د مستوفي[1] صېب لاسونه مو ولې تړلي دي؟ ځورولی خو به مو نه وي ؟»

مستوفي چې کرۍ شپه د شکنجو، بېخوبیو او د "جهادي چریکانو" د جوارګرۍ په پیسو د شر شور- دا چې له یوبل به یې تر سبا د سرک سر ته د ګاډو د تالاشۍ په موخه د ختلو تر مهاله پیسې پور اخیستې - د خپل نامالوم برخلیک د اندېښنو له امله په تیاره خونه کې سترګې نه وې پټې کړې. پوهېده چې دا هر څه د دې خیرن ,قوماندان" په امر ورسره شوي دي. خوله یې لدې امله چې ټوله شپه چا یو ګوټ اوبه هم نه وې ورکړې وچېده خبرې هم سمې نه شوې کولای، شکایت یې ونکړ، ویې ویل: «ډېره آرامه شپه مې تېره کړه.»

"قوماندان" وویل:

- « دا هلکان ناپوه دي، د چا په قدر نه پوهېږي، که ځورولی یې چې جزا ورکړم. نور دې نه ساتو رخصتوم دی.»

مستوفي وویل:

- « جزا مه ورکوه!»

---

[1] د ا کیسه د پروان کابل په لار د شهرالله شهپر د شهادت رښتینی انځور دی.

"قومندان" خپلو ټوپکیانو ته مخ واړوه ویې ویل:

- «مستوفي صیب د پاخه عمر خاوند دی. د مشرانو قدر په کار دی نور یې مه ساتئ، ورسره لاړ شئ، رخصت یې کړئ!»

مستوفي چې میاشتنۍ تنخواه یې اخیستې وه، کور ته په دولتي ګاډي کې نه، بلکې په لایني ګاډي کې ناست و، کله چې یې له ګاډي راکښته کړی و. په بدني تالاشۍ کې یې ترې ټولې پیسې او د لاس ګړۍ اخستې وه. جیبونه یې تش ول، نو "قومندان" ته یې وویل:

- «ماسره خو د ګاډي کرایه نشته.»

"قومندان" په وتلو برندو سترګو ورته وکتل، له جیب نه یې څو سلګون راویستل، ویې نه شمېرل ورته ور یې کړل، او یو ځل بیا یې خپلو ټوپکیانو ته وویل:

- «دا صیب رخصت کړئ.»

مستوفي د ټوپکیانو په بدرګه لاړ. له تګ وروسته یې ناستو مېلمنو کې یوسپین ږیرې وویل:

- «شکر الحمدالله چې د "مجاهدینو" قومندانانو کې تا غوندې نېک او د خدای او رسول په لار برابر قومندانان هم شته. د زړونو مالک خدای(ج) دی. که ملحد وي، خدای به ورسره حساب وکړي. خو تا ښه وکړل چې په عزت دې رخصت کړ خدای به یې اجر درکړي.»

"قومندان" په زړه کې د سپین ږیري په خوشباورۍ او ساده ګۍ وخندل.

څو دقیقې وروسته له وړاندې تاک‌بڼ نه د کلاشینکوف د ډزو غږ واورېدل شو.

ماښام خړه لګېدله چې مېلمنو سپین ږیرو له "قومندان" نه د تګ

اجازه واخیسته او لاړل. ټوپکیانو هغه مستوفي ته ورکړي سلګونان د "قومندان" په لاس ورکړل.

له دې ورځ وروسته د مستوفي مېرمن او زوي په کراتو د پروان ولایت ته د هغه په لټون پسې تلل راتلل، خو د مړ یا ژوندي څه پته یې ونه لګېده.

پای

# په جګړه کې مینه

کلیوال د ماخوستن له لمونځ وروسته له جومات نه کورونو ته په لار پخپلو کې د تاکونو د سېزني کال قرغنې او په حاصلاتو د ناوړه اغېز په اړوند خبرې کولې. د جومات لار د "مجاهدینو" د قرارګاه تر څنګ تېره شوې وه، د چرسو چلمانو د لوګیو لوخړې دومره زیاتې وې چې که کوم لاروی هلته تم شوی وی نو لوګیو نشه کاوه.

سپین ګل اکا چې د سپینو خبرو له امله به یې کلیوالو ویل:«خوله یې په سر پورې نده. یوه ورځ به ورته له خپلې خولې وریښه وي.» د کلیوالو خبرې پرې کړې ویې ویل:«دوی مور ته اسلام ګڼي، له "قومندانه" تر "چریکه"[1]*یو یې هم جومات ته نه و راغلی. خو د چکه‌پاو او ترو چیغو او د چرسو لوګیو یې ټوله کوڅه په سر اخیستې ده.»

کلیوالو لا د سپین ګل اکا خبرې ته کوم غبرګون نه و ښودلی چې د "مجاهدینو" د قرارګاه دیوال ته نږدې د هاوان ګولۍ را پرېوته، داسې مالومیده چې له کلي وړاندې شمال لخوا د"مجاهدینو" پر مورچلو د هاوان توغندیو ډزې پیل شوې.

کلیوالو ګومان کاوه، چې حکومتي ځواکونه له"مجاهدینو"پر حکومتي قطار د تېرې ورځ د حملې غچ اخلي. خو د کلي "مجاهدین" شکمن ول. ځکه چې حکومتي عملیات به له ځینو ځانګړیو عملیاتو پرته ډېری د شوبلو په بدرګه او زیاتره په ورځ کې له څو خواو کیدل. ځینو"مجاهدینو"ویل حکومتي ځواکونه دي نو باید خپلو پټنځایونو

---

[1] * د چریک ګړنه به کلیوالو هغو پېمخو لغړزنو هلکانو ته کاروله چې "جهادي" سرګروپانو به له ځان سره ساتل او ټوپک به یې هم ورپسې ګرځوه.

ته ځانونه ورسوو. ځینو ویل چې شوبلې ورسره نشته او حمله یوازې له یوې خوا ده، نو دا به د رقیب تنظیم د کسانو برید وي. ځکه د تنظیمونو د خپل‌منځي جګړو بریدونه به زیاتره د شپې او غلچکي وو. بل بیا ویل که د هغه بل تنظیم د ډلګۍ برید وي نو دا هاوان له کومه شول؟ پاکستان خو لا تر اوسه"انجنیر" ته دا وسله نده ورکړې نو بیا دوی ته یې څنګه ورکړه.

د توغندیو په باب لا د کلیوالو خپلمنځي خبرې روانې وې چې؛ له یو تاک‌بڼ نه د مخالف تنظیم د ټوپکیانو غږ واورېدل شو چې یو بل ته یې د دې کلي د "قومندان" شېردل او اکرم‌خان د کورونو د محاصرې لار ښودله.

زیات وختونه د شتمنۍ او ځواکمنۍ تنده د شخړو او جګړو لامل وي، خو دا غلچکی برید د دوه مئینو له مینې سره د یو غماز د حسادت او غمازۍ پر بنیاد کېده.

پېښه لدې ځایه پیلېږي چې د "قومندان" سیف الله لور پري‌ګل چې په نږدې کلیو کې یې د زیاتې ښکلا ستاینه کېده او همزولو نجونو به ربښتینې پري بلله؛ د دې کلي له یو لوستي ځوان میرویس سره مینه درلوده.

مېروېس چې به کابل پوهنتون کې له زدکړو نه لږ هم فارغ شو؛ د خیال نیلي به یې وار د واره د پري‌ګل په کلي کې ګرځېده. د دغه مینې په لړ کې به دواړو مئینانو کله نا کله د کلیوالو له سترګو پټ‌پناه سره کتل او د وصال په شپېو کې به یې د راتلونکي په باب د زړه خواله کوله او له ګډ خیالي ژوند به یې خوند اخیست.

د دوی لیدل کتل تر ډېره پټ پاتې نه شول، د پري‌ګل په ځینو همزولو نجونو سرېېره د پلار یو لغړزنی "چریک" قندآغا چې پري‌ګل یې خوښېده هم پدې اړیکو خبر شو. قندآغا چې اوس د سیف‌الله د

ځانګړې پېرزوینې له امله سرګروپ هم و، خو د پريګل پلار ته يې د خپل بايللي حيثيت په پام کې نيولو سره، له ډاره د هغه د لور د غوښتنې مرکه لېږل لا څه چې تشه یادونه هم نشوه کولای. قندآغا پدې پوهېده چې پريګل هم د خپل پلار لغړزنی "چريک" چې نورو ټوپکوالو به په غياب کې د قنديګل په ښځينه نوم یادوه، د ځان سيال نه ګڼي. خو سره لدې هم پدې خامه تمه و ، چې ګوندې یوه ورځ به د "قومندان" سيفالله زړه پرې ورحمېږي. نو هڅه يې کوله چې په مختلفو لارو د پريګل پام ځانته واړوي. خو هغې ورته هډو د نارينه په نظر نه کتل.

د پريګل پلار د ميرويس د کلی له "قومندان" شيردل سره تنظيمي اختلاف او ژبنی توپېر درلود، چې له امله يې د ميرويس کورنۍ هم نه خوښېده. دوی هم د دغه ړانده ژبني تعصب او د سيفالله د ناوړه کړو وړو امله د ميرويس لپاره د پريګل په مرکه لېږلو کې زړه نازړه ول. خو رښتيني مئينان د دودونو، ژبنيو توپېرونو او جغرافيوي پولو څه خيال نه ساتي.

د پريګل او ميرويس مينه هم هغه رښتيني مينه وه چې پريګل د ميرويس لپاره د رواجونو مزي وشلول او پر ژبني توپېر او تعصب يې لاړې تو کړې.

***

پريګل چې به هر پنجشنبه د ميرويس لار څارله، نن مازيګر يې هغه ليدلی و چې له پوهنتون نه کورته راغلی دی. ماښام خړه کې يې د مور بوقره پر سر کړه او له کوره ووته. لومړی په مخالف لوري لاړه او بيا يې کوڅه کې د ميرويس د کلي په لور لار بدله کړه. د ميرويس کلي ته د رسېدو په مهال کليوال د ماښام لمانځه په جمه ولاړ ول. بې لدې چې د چا پام ورواوړي د ميرويس په کور ورننوته.

له لمانځه وروسته ميرويس او پلار يې اکرم خان استاد کور ته راغلل ګوري چې پريګل د ميرويس له مور او خويندو سره په خبرو اخته ده او د خپل راتګ لامل بيانوي.

کله چې دوی خونې ته ننوتل ښځينه ودرېدې، پريګل د ميروېس له پلار اکرم خان اکا حيا وکړه، پړونی يې مخ ته ونيوه. د ميرويس مور د پريګل د راتګ د لامل ټوله کيسه ورته وکړه.

اکرم خان اکا چې متقاعد ښوونکی و، د پاخه عمر کليوالو به معلم صيب او ځوانانو به استاد باله. هوښيار سپين ږيری او د کليوالو له درناوي برخمن و، د پريګل پر سر يې لکه د يو مهربان پلار لاس کېښود او ورته وې ويل:

- «لور جانې! ښه کار دې ندې کړې، دا له کوره تېښته بد نوم لري. د ځوانۍ پدې عمر کې احساسات پر عقل غالب وي، او مئينان خو ړانده وي د احساساتو پر بنياد پرېکړې کوي. داسې احساساتي تصميم ناوړه پايلې لري. په هر صورت اوس شوی کار دی، په عقل او حوصله به يې چاره سنجوو. ته چې دلته راتلې چا خو نه يې ليدلې؟»

پريګل وويل:

- «نه اکا چا نه يم ليدې د لارې په بدلولو او پټه د مور په بوقره کې راغلم.»

اکرم خان اکا:

«ښه ده چې چا نه يې ليدلې که ليدلې يې وای نو هم ته نوم بدې کېدې، هم دې کورنۍ. دا کار پدې وخت کې؛ چې ستا پلار له ټوپک پرته په بله ژبه نه پوهېږي ستا لپاره ښه نه تمامېږي. لورجانې، همدا اوس به تا پټ په پټه سملاسي

کورته ورسوم. څو چې د ماخوستن لمونځونه کېږي ته به خپل کور کې ناسته یې.»

پريګل چې له میرویس سره د ګډ ژوند لپاره پر ځان دومره غټ خطر منلی و، وویل:

- « اکا جانه! زه بې میرویسه ژوند نه غواړم. تاسو چې هر څنګه کوئ پلار ته مې قناعت ورکړئ چې زه هم انسان یم. لور یې یم، نه یې دوښمنه یم نه مینځه. ما ته دې پخپله خوښه د ژوند حق راکړئ. »

اکرم خان اکا:

- «لورجانې زه نه وایم چې له میرویس لاس واخله. زه به ستا په پلار دومره جرګې وکړم چې ستا سو واده ته راضي شي.»

پريګل د اکرم خان اکا له ډېرو خبرو او ژمنو وروسته له هغه سره بېرته د خپل کور په لور روانه شوه. میرویس غوښتل چې پريګل بدرګه کړي او له پلار سره ملګری شي، خو پلار یې اجازه ورنکړه.

د پريګل د پلار کور ته نږدې د میلمستون مخکې یې ګڼه ګونه وه. اکرم خان اکا له پريګل سره هلته مخه ښه وکړه او خپله ژمنه یې بیا تازه کړه وې‌ویل:

- «لورجانې! که زه ژوندی وم ستا سره کړې وعده به خامخا ترسره کوم.»

- پريګل: « ستا سیوری دې خدای(ج) زموږله سره نه اخلي.»

پريګل چې څنګه پټه له کوره راوتلې وه، هماغه یې لدې چې د چا ورته پام شي کور ته ننوته. خو یوکس چې پريګل به یې تل تر نظر لاندې ساتله او په دغه ورځ یې میرویس خپل کور ته پر لار لیدلی و چې له ښاره راغی، نو د پريګل د څارنې لپاره یې دوه سترګې څلور کړې وې.

هغه د سیف‌الله هماغه نازولی "چریک" قندآغا و، پرې‌ګل یې د مور په بوقره کې هم پېژندلې وه چې د میرویس کلي ته روانه وه.

قندآغا دا ساعت له خدای غوښته چې د "قومندان" سیفو غوسه، (سیف‌الله به له "جهاد" مخکې کلیوالو سیفو باله) میرویس او د هغه کورنۍ ته راوپاروي. نو نېغ په نېغه د هغه څنګ ته لاړ. سیفو ته چې د چیلم له اوږده کشونو وروسته به یې د لوګي لوخړې له خولې ایستلې او ورسره ناستو کسانو به د «نوش نوش، غم فراموش!» به غږونو بدرګه کاوه، ورنږدې شو او په غوږ کې یې ورته د میروېس کلی ته د پرې‌ګل د پټ تګ خبر ورکړ. سیفو چې به د چیلم له هر کش وروسته ټوخېده د دې خبرې له اورېدو سره داسې اوږد ټوخي شین کړ چې خوله یې خبرې ته نشوه جوړولی.

قندآغا ژر د اوبو ګیلاس ورکړ. اوبه یې وڅښلې، اوږده ساه یې واخیسته، خو له ډېرې غوسې یې رنګ سور شو. له ځان سره وایي د اکرم زوي به په شېردل ډاډه وي؛ چې زما بدو ته یې زړه ښه کړې دی.

پرته لدې چې کورته نه ننوځي، وګوري لور یې په کور کې شته که نه، په غوسه کې تصمیم نیسي. خپلو کسانو ته د میروېس پر کلي د یرغل او د شېردل د قرارګاه او اکرم خان اکا د کور د محاصره کولو امر کوي.

سیف‌الله غوښتل شېردل او کسان یې بوخت وساتي چې د اکرم خان مرستې ته ورنشي. وایي د شېردل پر قرارګاه د نوي ترلاسه شوي هاوان مرمۍ هم وروتوغوئ چې وارخطا شي، ګومان به وکړی چې حکومتي عسکرو پرې حمله کړې ده، ځانونه به پټن‌ځایونو ته رسوي؛ تاسو همدغه وخت دربشودل شوي ځایونه محاصره کړئ.

یو تن سرګروپ یې وایي:

- «وروستی ځل چې هغه پاکستانی "ملا" راغلي و، او تاسو دواړه - قومندانان یې پخلا کړي یاست، موږ بیا دا څو میاشتې

د یو بل پر کسانو ډزې نه دي کړي او نه مو یو بل ته کمین نیولی دی. هغوی خو زموږ خلاف کوم کار ندی کړی، څنګه څه خبره ده؟»

شېردل په غوسه وویل:

- «ضرور نه ده چې ته په هرڅه پوه شې، زه چې څه وایم هماغه وکړئ.»

د پريګل پلار د میرویس په کلي د یرغل لپاره د هاوان ډزې پیل کړې او ورپسې یې خپل ټوپکیان ولېږل او یو ځل بیا یې ورته وویل:

- «د هاوان له ډزو سره به شېردل او کسان یې ګومان وکړي چې د حکومتي عسکرو برید دی، نو خامخا ځانونه پټنځایونو ته رسوي. تاسو به له دغه فرصت نه په استفادې د کوڅو د دېوالو په پناه کې د هغوی قرارګاه او کورونه محاصره کړئ. کسانو ته به یې له پټنځایونو او قرارګاه نه د راوتلو څه چې د سر راایستلو وخت هم نه ورکوئ. دوه ډلې شئ، یوه ډله د شیرو کسان مصروف وساتئ او دویمه ډله د اکرم معلم کور باندې چاپه واچوئ. د معلم کور ته ګروپ کې به قندآغا هم درسره وي. هلته چې کوم کسان درته قندآغا وښودل هماغه به له ځان سره راولئ.»

سیف‌الله یو مهال په کلیوالي ښوونځي کې د اکرم خان استاد شاګرد و، چې د ډېرې غېرحاضرۍ او بد اخلاقۍ له امله یې له ښوونځي ایستلی و. د استاد او استادۍ هیڅ درناوی یې نه درلود.

د هاوان له ډزو وروسته چې کلیوالو د کومو کسانو غږونه په کوڅو کې اورېدلی ول، شیردل ته یې خبر ورکړ؛ چې دا د هاوان ډزې حکومتي ندي. دا د مخالف تنظیم د کسانو دي چې د کلي په کوڅو کې یې په

خپلو کې یو بل ته ستا او اکرم‌خان معلم د کورونو د محاصرې لار ښودله.

شېردل نه پخپله پټن‌ځای ته لاړ او نه یې وسله وال. خپل کسان یې سملاسي دفاعي مورچو ته ولېږل او پخپله له څو کسانو سره په قرارګاه کې چې د کور څنګ کې یې وه پاتې شو؛ چې د کور او قرارګاه دواړو ساتنه پخپله وکړي.

د سیف الله د کسانو هغه ګروپ چې قندآغا ورسره و، داکرم خان کور ته د شپې له تیارې نه په ګټنې سره د کوڅو د دیوالونو په پناه کې ځانونه ورسول. خو هغه ډله چې د شېردل د قرارګاه او کور لپاره ګومارل شوې وه د قومندان شېردل په خبرېدو سره په کوڅه کې رسوا شوه. شېردل او کسانو یې پرې هوایي ډزې وکړې چې وډار شي او وتښتي؛ خو هغوی چې پر پاکستان ورکړیو وسلو سره ببره یې د خپل تنظیم لخوا روسي وسلې هم ترلاسه کړې وې او پخپلو وسلو ډاډه ول مخامخ په قرارګاه او د قومندان په کور پراخه ډزې کوي.

د شېردل وسله والو چې په دفاعي مورچلو کې ول هم پرې مخامخ ډزې پیل کړې. د سیف الله کسانو کې ډېر ژر دوه کسان ټپیان شول، نورو یې پرته لدې چې د کوڅې له ټېټو دیوالونو سر راپورته کړي ډزې کولې او په شا تلل. د شېردل کسانو کې چاته زیان ونه رسېد.

له قندآغا سره تللي وسلوالو چې د اکرم خان له کور تاویدل، ویې پتېیله چې دروازه وروټکوي او د مېلمنو په پلمه ورننوزي، او که چا دروازه ورخلاصه نکړه نو بیا به یې د ماتولو بندو بست کوي او یا به پر دیوالو د ورختلو څه چاره سنجوي. د اکرم خان استاد پام د هاوان او کلاشینکوفونو پرله پسې ډزو د خپل کور ځارلو ته اړولی و. د خپل کور مخ ته چې وسله وال کسان ولیدل؛ له خپل پخواني پنځډزي سرپوښ سره خپلې مانۍ ته چې د کوڅې خوا ته دیوال یې د تیرکش په

اندازه ډېر سوري لرل چې د شنو ممیزو وچولو لپاره تر ګټنه کېده وخوت، او میرویس ته یې وویل دروازې ته لاړ شه پوښتنه وکړه چې څوک دي؟ او پدې شپه کې څه غواړي؟

قندآغا په یوه تېګه دروازه په شدت ټکوله چې میرویس د دروازې له شا پرې غږ وکړ:

- «څوک یاست؟ څه غواړئ؟ »

قندآغا وویل:

- «مجاهدین یاستو اوس ناوخته ستاسو کلي ته راورسېدو. شیردل‌خان ته ورتللو خو د هغه قرارګاه د حکومتي ځواکونو لخوا محاصره شوې او جګړه روانه ده. موږ ته هم خطر پېښېده هلته ورنغلو، دروازه ژر خلاصه کړه، له خطر مو وژغوره! »

میروېس چې قندآغا یې ښه پوره پېژنده د غږ له بدلون سره سره یې بیا هم وپېژنده ورته ویې ویل:

- «مېلمه د خدای دوست دی، خو پداسې شرایطو کې موږ په تیاره شپه کې چاته دروازه نه پرانیزو. ښه ده چې جومات ته لاړ شئ، هلته شپه تېره کړئ.»

قندآغا ګومان وکړ چې ګواکې ویې نه پېژنده بیا یې د دروازې د پرانیستلو ټینګار وکړ، خو میرویس یې تمه غوڅه کړه ورته ویې ویل:

- «زه دې ښه پېژنم ته څوک یې؟ او ولې اوبه خړول غواړې؟»

قندآغا چې د میلمنو په نوم پلمه یې رسوا شوه په غوسه وویل:

- «چې پېژنې مې نو بیا زموږ د قومندان لور چې دې راتښتولې ده ژر یې راوسپاره.»

قندآغا پدې خبره هغه راز رسوا کړ چې سیف‌الله یې رسوا کول نه غوښتل، او خپل یو کس ته چې د شیردل پر قرارګاه یې د برید د لامل پوښتنه کړې وه، په ډېره غوسه ویلي و:

«ضرور نده چې ته په هرڅه خبر شې.»

اکرم خان تر دې دمه په ماڼۍ کې ټوپک په لاس ناست و او د خپل کور مخکې وسله وال یې څارل، غږ وکړ:

- «تور مه لګوئ، دلته هیڅ پردۍ زنانه نشته. د سیف الله نوم مه بدوه د هغه لور به پخپل کور کې وي.»

اکرم خان استاد چې دروند اوپوه سپین ږیری و او په دې نېږدې کلیو او سیمه کې په سلونو شاګردان روزلي ول، پر خپل کلي سرېېره د سیمې ډېرې لانجې او شخړې یې په سوله ییزه توګه حل کړې وې د خلکو له زیات درناوي برخمن ؤ. خو قندآغا دومره بې حیا او سپین‌سترګی ؤ، چې د هغه سپین ږیرتوب او مشرولۍ هیڅ خیال یې ونه ساته ورته وېې ویل:

- «درواغ مه وایه، په کور کې دې کېنولې خو له ډاره منکرېږي.»

میروېس چې له هیچا نه یې تر دې دمه د خپل پلار په وړاندې سپوره خبره نه وه اوریدلې، د دروازې له شا وایې:

- «قندي ته خو ډېر سپک انسان یې! بالکل په خبره نه پوهېږې، تاسو خو څو کسان راغلي یاست همدلته د دروازې مخ ته په کوڅه کې ودریږئ یو کس مو لاړ شئ سیف‌الله ته ووایئ، لومړی خپل کور کې د خپلې لور پوښتنه وکړي، که نه وه یا یې هلته درک ونه لګېد نو بیا دې د خپل باور وړ کومه ښځه راولېږي، چې زموږ کور ته راننوزي او ټول کور کونج په

کونج ولټوي.»

قندآغا چې هم يې شخړه جوړول غوښتل او هم يې د میرویس خبرې د ځان سپکاوی باله. د کلا په دروازه ډزې وکړې.

اکرم‌خان استاد لومړی میروېس ته غږ کړ چې کوم زیان خو ندې ورسېدلې. خو د کلا د دروازې تمبې ډبلې وې او هم میروېس د د تمبو شاته نه، بلکې د دېوال شاته خوندي ولاړ و. استاد له مانۍ نه کوڅه کې پر وسله والو خطا ډزې وکړې او غږ يې پې وکړ:

- «که په خبره نه پوهېږئ چې ستاسو ژبه درسره وکاروم.»

د سیف‌الله په ټوپکیانو کې د منیر په نوم یو تن چې د اکرم خان استاد شاګرد تېر شوی و، خپلو ملګرو ته وويل:

- «دا خبره خو سمه ده تاسو دلته د کور دروازه څارئ موږ دوه کسان به خپل قومندان ته دا خبره ورسو چې استاد بیخي منکر دی. وايي چې زما کور ته نه ستا لور راغلې ده او نه کومه پردۍ زنانه. تا ته چې هرچا څه ویلي ټول درواغ دي. دغه کس که هر څوک وي هم دې شرموي او هم درته لانجې جوړوي. اکرم‌خان اکا دا هم وویل چې سیف الله ته ووایه؛ ته خو ما پېژنې چې داسې کار هیڅکله نه کوم چې د چا بې‌عزتي پکې وي.»

مخکې لدې چې منیر خپل قومندان ته ورسېږي، د سیف الله کوچنی زوی يې د پلار لیدو لپاره مېلمستون ته راوتلی و. د ماشوم یو چاکلیت په خوله کې و او یو يې لاس کې نیولی و. پلار يې ترې پوښتنه وکړه:

- «ماخوستن شو، ته لا نه يې بیده شوی؟ دا چاکلیت چا درکړل؟»

- هغه وویل: «خور مې راکړل.»

- قومندان: «کومې خور دې؟»
- زوي: پري.

پري‌ګل به د کور خلکو پري یا پرو بلله.

سیف الله په بیړه پاڅېد کور ته ننوت. مخامخ د پري‌ګل کوټې ته روان و چې ګوري؛ پري‌ګل د خپلې مور څنګ ته ناسته ده او دواړو ته د چایو پیالې مخکې پرتې دي.

سیف الله په خپل تصمیم باندې چې په غوسه کې یې نیولی و، ډېر پښېمان شو، چې ولې یې د قندآغا په خبره باور کړی. خو «اوبه له ورخه تېرې وې».

سیف‌الله په کور کې هېڅ ونه ویل یوازې له پري‌ګل نه یې وپوښتل:

- «نن کلي کې د کومې خورلڼې کور ته تللې وې؟»

پري‌ګل د پوښتنې په لامل پوهېده او باور یې درلود چې هیڅا له کوره د وتلو وخت کې نده لیدلې؛ پلار ته یې وویل:

- «نه،آغاجان نن ټوله ورځ کور کې وم، ببخي له کوره نه یم وتلې.»

سیف‌الله نور هم پښېمانه شو، په پټه خوله یې قندآغا ته ډېرې سپکې کنځلې وکړې.

سیف‌الله لا د کور دننه له خپلې مېرمن او لور سره ناست و، چې د کور دروازه یې وټکول شوه. د خپلو ټوپکیانو بې‌ځایه لېږلو او د شېردل په قرارګاه د برید کولو د ناوړه پایلو په اندېښنه کې پخپله دروازې ته ووت. منیر د اکرم خان استاد کور د محاصرې ټوله کیسه ورته په شد او مد وکړه او د استاد د خولې ځواب یې ورته بیان کړ.

د اکرم خان استاد خبرو د سیف‌الله د غوسې پر اور نور تیل هم

وپاشل. دې خبرې يې د سر په گنبد کې انگازې کولې: « تاته چې هر چا څه ويلي ټول دروغ دي. دغه کس که هر څوک وي هم دې شرموي او هم درته لانجې جوړوي.»

له سيف الله لار ورکه شوه، چې دې رسوايي ته څه پرتوگ وگنډي. وار د واره يې وويل:

- «پر ما دې زر لعنته شي چې د يو ک..نې په خوله مې باور وکړ. لور مې پخپل کور کې ناسته ده او ما.... خو خبر له قندي سره به بيا گورم چې څه ورسره وکړم. اوس په منډه لاړ شئ، خپل کسان راواپس کړئ، چې د اکرم معلم نوره بې عزتي ونکړي.»

منير به لا د اکرم خان استاد کور ته نه و رسېدلی چې، د شيردل پر قرارگاه بريد کوونکو له خپلو دوه ټپيانو سره د سيف‌الله قرارگاه ته ځانونه راورسول. د دې حالت په ليدلو سره سيفو نور هم زغم او حوصله بايلله، د ليونې سپي په څېر يې له خولې لاړې بادېدې او قنداغا ته يې کنځلې پيل کړې.

منير چې د استاد اکرم خان کور ته ورسېد، له استاد نه يې بښنه وغوښته او له ځانه يې دا خبره زياته کړه چې «قومندان پخپل کار پښېمانه دی. چا چې ورته دروغ ويلي دي ، د هغه جزا به ورکړي.»

د سيف‌الله کسان بېرته خپلې قرارگاه ته روان شول. قنداغا په لار کې له منير نه تپوس وکړ چې:

- « قومندان ولې پښېمانه دی، ته څه وايې چا ورته دروغ ويلي دي چې جزا به ورکړي؟»

منير د قومندان سيفو له کنځلو پوه شوی و چې ټوله لانجه د قندي د هغه خبرې سره پيل شوه چې قومندان ته يې په غوږ کې کړې وه؛

ګواکې خبره یې نه اوري هیڅ ځواب نه ورکوي.

کومه خبره چې سیف‌الله یې له رسوايي ډارېده او رسوا شوه نو ځمکې ځای نه ورکوه او په بې صبرۍ د قندآغا راتګ ته منتظر و، چې نه یې غوښته په هغې رسوايي یې اوس پر خپلو کسانو سربېره د اکرم خان استاد ګاونډیان هم خبر شوي ول.

دوی چې خپلې قرارګاه ته ورسېدل، سیف‌الله بې له ځنډه پر قندآغا لومړی پخپله د کلاشینکوف په کنداغ په وهلو پیل وکړ، بیا یې خپلو وسله والو ته وویل تر هغو یې وډبوئ چې پخپله مرګ وغواړي.

سیف‌الله د خپل هوس نانځکه په مرګوني ډول وډبوله. قندآغا له ډېر درده د خلاصون لپاره رښتیا هم په مرګ راضي شو. تر سهاره یې په زګېروبو کې دا یوه خبره له خولې وتله: «د خدای لپاره په مرمۍ مې ووژنۍ، نور د درد زغم نلرم.»

شېردل چې د اکرم خان استاد پر کور له ډزو خبر شو د شپې یې هیڅ کوم غبرګون ونښود. اکرم خان استاد چې په کلي او سیمه کې د یو هوښیار، پتمن او خېرخواه سپین ږیري په توګه د خلکو له زیات درناوي برخمن و. له هر تنظیمي قومندان یې زیات اعتبار درلود، نو ځکه شیردل که څه هم په ظاهر ورته درناوی درلود خو په زړه کې یې ورسره حسادت او کینه درلوده. د همدې حسادت له امله د شپې د استاد پر کور د ډزو په مهال ځان بې خبره او بې پروا وساته.

سهار یې خپل یو کس د استاد کور ته ولېږه او د شپنۍ پېښې د لامل په باب یې د مالوماتو په نیت سباناري ته راوباله.

اکرم خان استاد چې د شېردل په نیت پوهېده چې د خواخوږۍ په خاطر نه، بلکې غواړي سیف‌الله ته وښايي چې د شپنۍ پېښې په وړاندې به استاد اکرم خان او شیردل ګډ غبرګون لري. نو د سباناري بلنه یې په خوږه ژبه د ناروغتیا په پلمه و نه منله.

***

استاد چې د ”مجاهدینو“ د قومندانانو زورزیاتی، چورچپاول او بداخلاقۍ ورمعلومې وې، نه غوښتل چې د خپلولۍ اړیکې ورسره ولري. خو له پري‌ګل سره ژمنې پر ذهن بوج اچولی و.

استاد د یو روښانه‌اند لرونکي پلار په توګه له میرویس نه له پري‌ګل سره د هغه د مینې او اړیکو په باب زیاتې پوښتنې او ګروېږنې وکړې. د هغه د مینې په حقیقت له پوهېدو وروسته یې په بېړه تصمیم ونه نیوه. په سرو مغزو یې د لارې چارې په باب فکر کاوه؛ چې څه ډول به سیف‌الله راضي کوي. خو شېردل زغم نه درلود. سیف‌الله ته یې د تېرې شپې د برید د لامل په باب له غرمې وروسته څو کلیوال ولېږل. شېردل کلیوالو ته وویل: «که سیفو د شپنۍ ډاکې له امله معذرت ونه غواړي ځواب ته دې سترګې په لار وي.»

سیف‌الله چې د لور کیسه یې نه یوازې د ده د خپلو کسانو په مشغولا بدله شوې وه، بلکې د کلیوالو غوږونو ته هم رسېدلې وه. کلیوالو به د اکرم خان استاد په کور د شپې د ډزو لامل د ده لور بلله. سیف الله چې هم شرم ورواوښت، هم یې له شېردل سره دوښمني تازه شوه او هم یې ګواکې بې ثبوته د اکرم خان استاد سپکاوی کړی و، سخت پښېمان و، د شرم او پښېماني غوسه یې د قندآغا په مرګوني وهلو سړه کړه.

خو سره لدې هم د شیردل کسانو ته غټ درواغ وایي: «ماته مې یو سرګروپ - مقصد یې قندآغا و- داسې خبر راوړ، چې شېردل خپلو کسانو ته ویلی دي چې نن شپه پر موږ برید وکړي. زموږ کسانو د دغه برید د مخنیوي په موخه برید وکړ، خو کله چې ماته پته ولګېده زما د سرګروپ مالومات ناسم و؛ نو سخته جزا مې ورکړه، خو له شېردل خان سره به پدې باب پخپله هم خبرې وکړم.»

اکرم خان استاد له څو ورځو وروسته سیف‌الله ته د هغه یو کلیوال ورولیږه چې غواړي ورسره وگوري.

سیف الله پدې فکر کې شو چې ښایي د ده له کسانو به د شکایت لپاره راځي. لیږل شوي کلیوال ته يې وويل:

- «اکرم استاد ته ووایه ته چې له چا نه د شکایت لپاره راځې؛ هغه ته ما داسې سخته جزا ورکړې ده، که تاته مې سپارلی وای تا هغه جزا نه ورکوله. که بیا يې هم غوښتل چې ماسره وگوري سبا مازیگر دې راشي.»

اکرم خان استاد پدغه ورځ د دواړو کلیو څلور خیرخواه او هوښیار مشران د غرمنۍ خواړو لپاره خپل کور ته وروبلل. دې مشرانو هم گومان کاوه چې ښایي د سیف‌الله د کسانو لخوا د استاد پر کور د تېرې اوونۍ د ډزو مسئله به وي، ځکه دغه خبره اوس په دواړو کلیو کې د خلکو منځ کې یادیده. خو استاد له سیف‌الله نه هیڅ شکایت او گیله ونکړه، بلکې په دغه اړوند يې د یو سپین ږیري د پوښتنې په ځواب کې وویل:

- «تاسو ته مې ځکه د راتلو زحمت درکړ، غواړم له سیف‌الله سره د خپلوۍ پیوند جوړ کړم، د هغه لور د خپل زوي لپاره وغواړم. پدې توگه په اینده کې د دوښمنۍ مخه نیول کېداي شي.»

مشران پخپلو غوږونو بې باوره شول، چې گوندې په خبره سم پوه نشول که څنگه؟ ځکه د اکرم خان استاد غوندې یو دروند او پوه کس چې په شاوخوا کلیو کې د خلکو له پوره درناوي برخمن دی، ولې له بدچلند او بدنام لاروهونکي تنظیمي"قوندان" سره خپلوۍ ته زړه ښه کوي. خو استاد د هوښیار مشر په توگه د خپل یوازني زوي د رضایت لپاره؛ له هغې یوازې د خپلې خوښې ټوکر اخیست او د هغې‌وال

له کړو وړو سره یې کار نه درلود. له بل پلوه یې پدې خپلوۍ د دوښمنۍ او هغو کلیوالو د خبرو مخه نیوله چې په دواړو کلیو کې د میرویس او پري‌ګل د پټې مینې په باب کېدې او د استاد پر کور د ډزو لامل یې باله.

په همدې ماښام استاد او مرکچیان د سیف الله کور ته لاړل.

سیف الله ګومان وکړ چې استاد د شکایت او ګیلې لپاره ورغلی، نو د ناپوهۍ له امله یې د غرور احساس وکړ. ذهن کې یې وګرځېده چې پر هم زه یم او وړ هم زه. د دې پرځای چې تر اوسه ده باید له استاده معذرت غوښتی وای، استاد ده ته سپین ږیري د شکایت کولو لپاره راوستلي دي. خو خبره داسې نه وه.

د مرکچیانو له ډلې خیرمحمد اکا چې زړور او په خپل قوم او کلي کې د پوره ملاتړ لرونکی و، وویل:

- « سیف‌الله خانه، تاته خو دا ښه مالومه ده چې اکرم خان استاد زموږ کلیو کې نیک نوم لري او د خلکو له پوره درناوي برخمن دی. نه یوازې دا چې شخړې او جنجالونه یې نه خوښېږي، بلکې د خلکو لانجې یې هم تل په ښه توګه حل کړې دي. اوس هم تېره اوونۍ چې ستا کسانو یې پر کور بې لامله ډزې وکړې، د دواړو کلیو خلکو انګېرله چې استاد به خامخا د قومندان شېردل سره یوځای د غچ اخیستلو بندوبست کوي. خو دې له شېردل سره غاړه نه شو. ځکه چې د دوښمنیو ختمول غواړي نه زیږول. دی پر خپل کور ډزې ستا د کسانو ناپوهي بولي او زړه ته یې نه نیسي. نو ځکه یې موږ دلته له ځان سره به ښه نیت د یو نیک او شرعي کار لپاره ستا کور ته راوستلي یاستو.»

سیف الله وپوهېده چې استاد یې حیا کړې ده، د لور د ورتګ د تور

لګولو په باب یې څه ندي ویلي. په زړه کې خوښ شو څنګ ته پروت بالښت یې ځان ته نږدې کړ، د غاړې تازه کولو لپاره یې د چای ګوټ وکړ. خیرمحمد اکا ته یې مخ واړوه ویې ویل:

- «اکا تا ته به هم په یاد وي چې زه هم یو وخت د اکرم استاد شاګرد وم، زما له قلم او کتاب سره جوړه نه وه او که خدای را ته ټوپک په برخلیک کې لیکلی و. هر څه چې و، خو له شپږم وروسته مې پرېښود. پښېمانه نه یم، شکر دا دې هرڅه یې قلمه خدای راکړي دی. استاد رښتیا هم ښه سړی دی. خو ستاسو په مقصد پوه نه شوم.»

سیف‌الله هغه څوک نه و چې په نیمه خبره پوه شوی وای، نو خیرمحمد اکا ورغبرګه کړه:

- « خبره دې سمه ده. خدای خپل هر بنده ته د هغه د حال سره برابر هغه څه ورکوي چې ور یې بولي. تاته یې وسلې او د وسلو له لارې پیسې درکړې؛ خو ډېر داسې څه شته چې نه یې دي درکړي - د خېرمحمد اکا مقصد سړیتوب او عقل و - موږ د دواړو کلیو دا سپین ږیري د استاد په ښه نیت چې زموږ هم خوښ شو دلته راغلو. له تا نه غواړو چې زموږ خوله خوږه کړې او د استاد زوي میرویس لپاره د خپلې مشرې لور دسمال راکړې.»

سیف‌الله داسې ژورې سترګې لرلې چې د ګڼو او بېرو وروځو لاندې پوره نه ښکاره کېدې، سترګې برندې کړې او اکرم خان استاد ته یې په ځیر ځیر وکتل. له یوې خوا د استاد پر کور د ډزو پېښې په اړوند د کلیوالو ګونګوسیو او خبرو د ده د غوږ دروازه هم ټکولې وه، له بل پلوه دا هم ورته سخته وه چې هم د شیردل سره دوښمني وپالي او هم د دواړو کلیو درانه او اعتبار لرونکي مشران خپه او مخالف اړخ کې ودروي. له

یوې شیبې چوپتیا وروسته یې وویل:

- «سمه ده، تاسو د عزت خلک یاست. تل مو خیر غوښتی دی، زه به په دې خبره سوچ وکړم. »

خو له مرکچیانو بیا هم خېرمحمد اکا چې د خپلولۍ خبره یې یاده کړې وه، وویل:

- « ندې دي اورېدلي چې: «په ښو کې تلوار په بدو کې تأمل» ته خپل رضایت وښایه که دسمال اوس نه راکوې خوله را خوږه کړه، د کور د ښځینه و رضایت به مېرمنو ته پرېږدو.»

سیف‌الله په خپل ځای نبغ کیناست، وې ویل:

- «اکا تا ته زه داسې سړی ښکارم چې گوندې د ښځې خولې ته گورم. دا دې په مخته پرتو چاکلیټو مو خوله خوږه کړئ، بیا به گورو.»

خیرمحمد اکا هم له پرتو چاکلیټو موټې ډک کړ او نورو مرکچیانو ته یې هم ورکړل، ویې ویل:

«دا د قوموندان سیف‌الله د ژمنې خواږه درواخلئ.»

سیف‌الله چې د شېردل په کور د غلچکي برید د غچ له ډاره یې د شپې خوب نه درلود د مرکچیانو د تگ په مهال خېرمحمد اکا ته وویل:

- «تاسو خو په دواړو کلیو کې د جرگو مرکو مشران یاست. تل مو د دواړو کلیو د خلکو پر سر کله زما او کله له شیردل سره ښکاره مخالفت کړی دی، ښه به دا وي هغه ستونزه چې د یو ناسم پوهاوي له امله زما او د شېردل ترمنځ پېدا شوې ده د جرگې له لارې حل کړئ .»

***

راتلونکې اوونۍ په دواړو کلیو کې د سیالو تنظیمي"قومندانان" سیف‌الله او شېردل کسانو د جرګه مارو مشرانو د هرکلي لپاره د خواړو دېګونه پخول. د اکرم خان استاد کورنۍ د میرویس د کوژدې لپاره چمتوالی نیوه. خو په دریم کلي کې یوې کونډې مور چې د خپل یوازني زوي قندآغا د مرګوني او ژورو ټپونو د درملنې توان نه درلود، پر خپلې بېوسۍ يې د اوښکو پر ځای وینې تویولې.

پای

## په وینو ککړه جغرافیه

بېگاه شپه د دوی د کوڅې د برېښنا نوبت و، پېغلوټې زینب تر ډېر ناوخته بیده نشوه. په توشک ناسته وه او خپلې کوچنۍ تنگې خو خورا تېزې او ځیرکې سترگې یې له درسي کتابه بلخوا نه اړولې. کوچني ورور یې جعفر به تر هغه وخته چې لا نه و بیده شوی د خور کتابونه او کتابچې گډوډولې. زینب به چې په کتاب لوستلو بوخته شوه جعفر به یې کتابچه او قلم راواخیست او پخپلو تنکیو لاسونو به یې پخپل ذهن کې زېرمه شوي انځورونه د کږو وږو کرښو په بڼه په کتابچه کې انځورول. کله ناکله به یې دا کرښې په کتاب کې هم ایستلې چې له امله به یې زینب ډېره خپه کېده، خو کوچني ورور ته به نه په غوسه کېده.

نن شپه بیا هم د جعفر مزاحمت جاري و. زینب څو ځل خپلې مور فاطمې ته غږ وکړ چې جعفر له ځان سره واخله. خو مور یې چې په پخلنځي کې له روژه ماتي پاتې ککړ لوښي پرېمینځل، وزگاره نه وه. هسې د زینب د خوښۍ لپاره به یې ځواب ورکړ چې دا دې درځم د خوب وخت یې دی بیده کوم یې.

فاطمه د جعفر له زېږد یوه اوونۍ وروسته کونډه شوې وه. همدا دوه اولادونه ورته د خپل شهید مېړه نښه پاتې وو. دې به د ښځینه کالیو گنډلو په وسیله د خپلو بچو نفقه پیدا کوله، خو لور یې ښوونځي ته لېږله.

زینب چې سبا یې ازموینه درلوده، په دغه شپه تر پېښنمي بیده نه شوه. سره لدې چې مور یې ورته د روژې میاشت په پیل کې څو ځله ویلي و:

- «لورجانې! ته لا کوچنۍ یې او روژې درباندې فرض شوي

ندي، مه يې نيسه.»

- خو زينب ويل:
- « مورجانې ثوابي به يې نيسم او د خپل شهيد پلار اروا ته به يې ثوابونه ښنم.»

کله چې مور يې د پېشنمي خواړه راوړل، زينب د کتابونو کڅوړه څنگ ته کېښوده د روژې په نيت يې له مور سره پېشنمی وکړ.

شاگردان که هر څومره لياقت هم ولري خو ازموينې ته تل اندېښمن وي. زينب هم د ازموينې په اندېښنه کې بيده شوه. سهار يې مور له خوبه پاڅوله چې ښوونځي ته لاړه شي. د تگ په مهال يې بېرته راستنه شوه، کوچنی ورور جعفر يې داسې جوخت په غېږ کې ونيوه لکه ډېر وخت چې يې نه وي ليدلی او يا په کوم اوږدمهاله سفر درومي. په دواړو اننگو او سترگو يې ښکل کړ. مور يې ورته وويل:

- «ټول وخت ترې شکايت کوې چې کتابونه در له گډوډوي، کرښې پې کاږي، چغې وهې چې ستا لخوا يې وړاندې کړم خو اوس دې زړه نه کېږي چې ترې جدا شې.»

زينب د ځواب پر ځای د مور لاسونه ونيول او ښکل يې کړل. مور يې پر سر لاس کش کړ او دوعا يې وکړه:

- «لورجانې خدای(ج) ټولې ارزوگانې ترسره کړه زموږ د بېوزلو سترگې خو تا ته غړيږي.»

***

ماسپښين د ښوونځي د رخصتېدو وخت راورسېد، فاطمې د تل په څېر د خپلې لور د راتلو لارې څارلې شېبه په شېبه به يې سترگې دروازې ته اړولې.

د زینب د ورځني راتګ وخت ډېر وځنډېده، مور يې جعفر په غېږ کې واخيست د کور دروازه يې کولپ کړه او د ښوونځي په لور روانه شوه. په کوڅه کې يې خلک وليدل چې همدې لور ته په وراخطايي منډې وهي. په دغه ګڼه ګوڼه کې يې د زينب د يوې ټولګيوالې په مور سترګې ولګېدې. ورنېږدې شوه، مخکې لدې چې فاطمه ترې د وارخطا منډو د علت پوښتنه وکړي هغې ورته وويل:

- «د چاودنې غږ دې واورېده که نه؟»

فاطمې چې د کاليو ګنډلو د ماشين د آواز له امله يې د چاودنې غږ اورېدلی نه وايي: «خدای دې خېر کړي، چې ښوونځي کې چاودنه نه وي شوې!»

دواړه مېندې په چټکۍ د ښوونځي دروازې ته رسېږي. هلته د خلکو ګڼه ګوڼه او د امبولانسونو ځوروونکي آوازونه وو. امنيتي کسانو چا ته د نيږدې ورتګ اجازه نه ورکوله. طبي کارکوونکو ټپيان او شهيدان امبولاسونو کې روغتون ته لېږدول. د ښوونځي دروازه په وينو ككړه او د انسانانو د غوښو پوټي ورپورې نښتي ول.

د امبولانسونو له تګ وروسته د شاګردانو د میندو او پلرونو د ژړا او فريادونو په بدرګه له يو بل نه او له ژونديو پاتې زده کوونکو نه د خپلو اولادونو پوښتنه کوله چې د فاطمې سترګې پر ځمکه د زينب د کتابونو په شلېدلې كځوړه ولګېدې چې هغه د جغرافيې کتاب چې بېګاه يې لوسته په وينو ككړ پروت دی. ورمنډه يې کړه داسې کوکې يې له خولې ووتې چې په غېږ کې نيولی جعفر يې وډار کړ او په چغو سر شو.

يو ګاونډي دا دواړه ميندې او د يو بل شاګرد پلار په ګاډي هغه روغتون ته ورسول چې شهيدان او ټپيان ورلېږدول شوي وو.

سبا په ټکنده غرمه کې د برچي دښتې مړستون د نويو قبرونو منځ کې فاطمې جعفر په غېږ کې نيولی او په وينو ككړه او په اوښکو لمده

جغرافیه يې لکه د ګلانو ګېډۍ د زينب پر قبر کېښوده.

پای

# نرمې خبرې، کاڼی زړه

حاجي جبارخان د انګرېز د ښکېلاک لخوا زموږ پر هېواد تحمیل شوې سرحدي کرښې ته نږدې سیمه کې چې حکومتي اداره پکې لا نه وه جوړه شوې، ډېر کلونه ملک و. د دولتي ادارو د نشتون او کمزورۍ له امله ځايي خلکو خپلمنځي لانجې د جرګو له لارې حل کولې.

جبارخان ملک نه یوازې په خپل کلي کې د جرګه‌مار، میلمه‌پال او زړه سواند قومي مشر په توګه پېژندل شوی و؛ بلکې له خپل کلي او ولس سوا نورو کلیو او قومونو کې هم د ستونزمنو لانجو او شخړو د حل لپاره جرګو ته بلل کېده. له موټي اوږده ږیره کې یې، چې په وهابي سټایل یې پاس شونډه مکمله خرئیلې وه سپین ویښتان د تورو په پرتله زیات وو.

جبار ملک چې نن سهار له لمانځه وروسته له جومات راوته، د سترګو لاندې یې د ریدي‌ګل ګلابي لټون کاوه، خو هغه د ده شاته ولاړ و او د کلیوالو د ځپلیو له منځه یې د جبار ملک ځپلۍ چې پېژندلې یې راپورته او د پښو مخ ته یې ورته کېښودې. ملک دغه مهال ولید او ورته ویې ویل نن د سباناری مهال راشه هم به سباناری ما سره وخورې هم به زما حجامت وکړې.

ملک جبار لومړی له ریدي‌ګل سره سباناری داسې وخوړ لکه د یو قدرمن میلمه سره. خو د خوراک په مهال به یې په غلچکي ډول وار وار ریدي‌ګل ته کتل او له خپل زوي ستارخان سره به یې پخپل ذهن کې پرتله کاوه.

ریدي‌ګل د خدای(ج) په دې پراخه دنیا کې د سر سیوری نه درلود له خپلې عمر خوړلې بېوزلې مور سره به د یو او د بل کور کې په یوه کوټه

کې اوسېدل او د کلیوالو په کلېن به یې ګوزاره کوله. خو خدای(ج) پې د ښایست او هنر پېرزو کړې وه. په ګلابي‌توب سرېبره به یې په ودونو او خېراتو کې داسې خواږه پخول چې کلیوالو به یې تل ستاینه کوله. د کلیوالو ځوانانو شپنیو بنډارونو ته یې په سېتار غږولو ځانګړې خوند او رنګ ورکاوه او په ټوکوټکالو ویلو کې به یې له بیان سره بدني ژبه په داسې مهارت کاروله چې ورسره ناست کسان به له خندا چپه شول.

د جبارخان ملک زوي ستارخان ته خدای ډېر څه ورکړي ول. د پلار د شتمنۍ له امله په نعمتونو کې ډوب و، خو عقل یې د عمر په پرتله ډېر کمزوری و. عقلي ځنډ یې درلود چې له امله یې کړه وړه د ماشومانو غوندې وو.

جبار ملک ته د ریدي‌ګل او خپل زوی د پرتله کولو په مهال به یې هغه پېښه لکه د فلش بیک په ذهن تکرارېدله او د ړانده ناموسي غیرت له امله یې ریدي‌ګل ته وویل:

- « که غوارې ژوندی پاتې شې، نو ته او مور دې تر نن مازیګر باید دا کلی پرېږدئ.»

ریدي‌ګل چې له ملک سره په خپل ژوند کې دا لومړنی سباناری په ظاهر په خوړه فضا کې کړی و د ملک خبرې ډېر حیران کړ. وې ویل:

- «حاجي بابا، زه خو ستاسو نوکر او ستاسو کلي کې ستاسو خدمتګار یم. ما کومه داسې ګناه کړې ده چې دومره سخته جزا راکوئ؟ «شنې شپې»[1] دي، درمندونو ته یوازې یوه میاشت پاتې ده. تا ته خو ښه مالومه ده چې زموږ ژوند په کلېن چلېږي، بابا د خدای په خاطر د دې فصل کلین پورې

[1] *شنې شپې: یوه ګړنه ده، د هغه وخت لپاره کارول کېږي چې په زیاتره کورونیو کې غلې دانې خلاصې یا کمې شوې وي او نوي فصلونه نه وي رسېدلي.

خو مې مه شره. »

ملک وويل:

- «د گناه او خطا پوښتنه مه کوه، بس زه چې څه وايم هماغه وکړه، کندکېږې دې راټولې کړه او نن د ماسپښین لمانځه کې له کليوالو سره مخه ښه وکړه، د مازيگر له لمانځه مخکې بايد تا څوک په کلي کې ونه ويني، دا زما خبره به بل چاته څه چې ان خپلې مور ته هم له خولې نه باسې. ،که کليوالو هرڅومره درته وويل چې پاتې شه، خبره به يې نه منې نه به پاتې کېږې، او ورته ووايه چې حاجي ملک هم راته ډېر وويل خو څم نوره مې دلته گوزاره نه کېږي. دا دې د ژوندي پاتې کېدو يوازنۍ لار ده.»

ريدي‌گل د ملک له کوره ووت، خو په ټوله لار نه پخپله گناه پوه شو او نه په لار. خو چې کورته ورسېد رنگ يې الوتی او خوله يې وچه وه. مور يې ورته «ستړی مه شې» وويل. خو بې لدې چې د مور ځواب ورکړي د منگي په لور يې منډه کړه، گلابيتوب د اوزارو کوچنۍ ټيمي صندوقچی يې پر ځمکه وغورځوله، د منگي پر سر پروت کټوري کې يې اوبه راواخيستې او په تادۍ يې وڅښلې. مور چې يې د زوي الوتی رنگ او وارخطايي وليده، ويې ويل:

- «اخ، زويه ځار دې شم څه درباندې شوي دي؟»

ريدي‌گل چې نه يې غوښتل مور يې په حال خبره شي وويل:

- «مورجانې! هيڅ خبره نده گرمي ده، تندې راخيستې وم.»

خو کوټې ته ننوت، سلگيو ونيو او د مور له سترگو پناه يې په خپله بې‌وزلۍ او بې‌وسۍ خورا زياتې اوښکې تويې کړې.

هغه مهال چې ریدي‌ګل په کور کې د مور له سترګو پټ د خپلې بې‌وسۍ ټپونه په اوښکو مینځل، جبار ملک د کلي هغه مشران خپل کور ته وروغوښتل چې د ده خبره به یې د قراني ایت غوندې منله. ملک رابلل شویو کسانو ته وویل:

- « ربدي ګلابي نن سهار یو سخته سپین سترګي وکړه؛ را ته ویې ویل: نور د کلیوالو کار نشم کولای، پدې کلېن مې ګوزاره نه کېږي. ما چې هر څومره ورته وویل کلې مه پرېږده سترګې یې پاستر کړې وې زما خبره یې نه منله. تاسو یې ورسره وګړېږئ که په خبرو وي او که په زور کم تر کمه دومره یې معطل کړۍ چې مور کوم بل ګلابي پیدا کړو.»

له پخوا وختونو داسې دود دی چې ملکانو او خانانو به پر عامو خلکو د خپل روب ساتلو په موخه څو تنه بدماشان له ځان سره ساتل. د کلي د مشرانو له تګ وروسته جبار ملک دغه بدماشانو ته وویل چې:

- «ریدی نور د کلیوالو خدمت پرېږدي نن ماسپښین په جومات کې له خلکو سره خدای پاماني کوي. تاسو به داسې شرشور او انډوخر جوړ کړئ چې ګلابي له انډوخر نه ژوندی پاتې نشي.»

د ماسپښین له لمانځه وروسته ریدي‌ګل پخپل ځای زړه نازړه ودرېد او په لوړ آواز یې له کلیوالو نه دوعا او بښنه وغوښته.

د کلی هغه کسانو چې جبار ملک یې غوړونه ور ډک کړي ول، په یو وار غبرګون وښود ویې ویل:

- «زمونږ د کلیوالې نمک دې سترګې ونه نیولې. بې لدې چې مونږ دې خبر کړي وای چې د بل ګلابی غم مو خوړلی وای، د کلیوالو له خدمت نه تښتې. بل به داسې کوم ځای وي چې له مونږ به دې ښه وساتي. تا د حاجي صیب جبارخان غوندې

خېرخواه او زړه سواند ملک خبره هم نه ده منلې، نو پرتا زړه سېزل هم ندی په کار.»

دغه مهال نو د ملک د بدماشانو وار راورسید چې ریدي‌گل ته يې هم سپورې ستغې وويلې او هم يې پرې گوزارونه وکړل. خو خوارکي ریدي‌گل د هیڅ یو گوزار مقابل گوزار هم ونکړ. یوازې چغې يې وهلې چې:

- «ما هیڅکله هم د کلیوالو بې‌احترامي نه ده کړې. تاسو له حاجي ملک بابا نه پوښتنه وکړئ، زه ډېر مجبور یم چې له کلي کډه کوم.»

خو د ده چغې او نارې سورې لکه د مړي غږ چا نه اورېدې. ریدي‌گل د ملک د بدماشانو له لغتو لاندې ساه ورکړه . د ځوانیمرگ ریدي د سیتار د بانډار مینه والو او انډیوالانو هم د خلکو د راپارولې غوسې مخه ونشوه نیولې. دومره يې وکړل چې د ریدي مړې يې ور له مورته ورساوه. د مور د ویرژلي حالت د انځورولو لپاره يې دا قلم لا څه د دنیا قلمونه او رنگونه بسنه نه کوي.

تر څو جبارخان ملک ته د هغه یو کس د ریدي‌گل د وژلو خبر رارساوه، د هغه په ذهن کې د تېرې اوونۍ د یوې ورځ یوه صحنه د کوک خلاص شوي گرامافون د ستن په څېر په یوه کرښه ورو ورو تاویده. ملک تېره اوونۍ د خپلې کلا په ډیوډۍ کې ریدي‌گل داسې مهال لیدلی و چې د ده د نږور زرینې مخ ته يې لاس ور تېر کړ، سره له دې چې زرینې يې لاس ټیل وهل. خو د ملک په زړه کې يې د کینې او غچ اخیستلو اور بل کړ.

جبار ملک داسې سړی نه و چې د پېښو په وړاندې چټک غبرگون وښيي. په دغه ورځ يې هم خپله پښه ونیوله او ځان يې د ریدي‌گل او زرینې له سترگو پناه کړ. پوره دوه اوونۍ يې ریدي‌گل او خپله نږور دواړه

وځارل، خو نه بيا د ملک نرور له ريدی سره مخ شوه او نه ريدي کومه تېروتنه وکړه. خو د ريدي دا تېروتنه واروار ملک جبار په خپل ذهن کې ارزوله. د عمر په پرتله د خپل زلمي زوي ستار د کمزوري عقلي ودې او ماشومانه عادتونو په بنياد دې پايلې ته ورسېد چې ګواکې د زرينې ورسره لار ده که نه يو ګلابې څنګه جرأت کوي چې زما ناموس ته کوږ نظر وکړي. له همدغې شېبې وروسته يې دواړو ته د جزا ورکو پريکړه وکړه.

د جومات ملا د مازيګر د لمانځه په مهال د کلي خلکو ته وويل:

- «د مړي معطلول ګناه لري، ښه ده چې ژر يې خاورو ته وسپارئ.»

حاجي جبارخان ګواکې د کلي د يو ”خېرخواه“ مشر او ملک په توګه د کفن ټوټه هم د خپلې مېرمن په لاس ورولېږله. د ملک مېرمن د ريدي ګل مور ته د کفن ټوکر ورکولو او تسليت ويلو په ترڅ کې د ملک خواخوږي هم څرګنده کړه.

***

د ريدي ګل له وژلو وروسته، سبا مازيګر کله چې لمر خپلې وروستۍ وړانګې د کلي له بامونو راټولولې، جبارخان ملک د خپل دوه پوړه کور بام ته وخوت. د بام له سره يې لاندې خپل غولي ته واروار کتل. نرور يې د نغري خوا ته ولاړه وه، د ماښام لپاره يې د خواړو تابيا کوله. خواښې ورغبرګ کړ زرينې لورکۍ په کټۍ پسې اور کم کړه چې چرګ درنه خوړين نشي چې د ملک بابا دې خوړينه غوښه نه خوښېږي. د ملک مېرمن د خپل زوي په خاطر د نرور ډېر خيال ساته. ستار ته هم زرينه ډېره ګرانه وه؛ خو نه د بالغ انسان غوندې. ده د عقلي څنډ له امله خپلې مېرمن ته لکه د ماشومانو د لوبو د ملګرې په توګه کتل. سره لدې چې له واده يې پوره يونيم کال تېر شوی و، خو زرينه لا پېغله وه.

جبارخان ملک د بام پر سر خپل کټ د بلې غاړې ته کش کړ. غټ بالښت ته یې تکیه وکړه، خو آرام یې ونه موند. په اندېښنو کې ډوب شو. ملک دا ځل د یو بل قتل اراده کړې وه، هغه هم په خپل کور کې پخپل لاس، نه د نورو په لاس. په سړه سینه او آرامه لهجه یې د بام له سره نږور ته غږ کړ:

- «زرینې لورکې د ښځلو اوبه راته راوړه!»

زرینې وویل:

- « باباجانه دروړم یې!»

خواښې ته یې غږ کړ:

- «ابې چرګ پوخ دی، اور مې ترې لرې کړ خو ورته ګوره چې پیشوګان دیګ چپه نکړي.»

ترڅو زرینې اوبه وروړلې، ملک په کټ کې بالښت ته داسې تکیه وکړه چې مخ یې د خپل غولي په لور و. که نږور یې اوبه ورکولې نو خامخا به د بلې څنډې ته نږدې ودرېده.

زرینې اوبه راوړې او هماغه ځای کې د بلې په څنډه څنګه چې د ملک زړه کې و ودرېده او ویې ویل:

- «حاجي بابا، اوبه واخله!»

د حاجي ملک پر سترګو د وینو پردې راوښتې وې، بې لدې چې له لاسه یې اوبه واخلي؛ ټېل یې وهله له بامه یې کښته ګوزار کړه.

پر غولي ماښامنۍ خړه خپړه شوې وه د خواښې او کوچنیو اولادونو شورماشور جوړ شو. ملک غږ کړ:

- «ویې نه خوځوئ چې کوم ځای به یې درنه ژوبل شي. دادی زه درځم.»

ملک له بامه را کوز شو د مرۍ رګ یې ورله وکوت ژوندۍ وه، خو ده پخپله غېږ کې داسې ونیوله چې د چا ورپام نشي. ورمېږ یې په ډېر زور داسې ورته تاو کړ چې مات شو، نور یې د ژوند وروستۍ شېبې او سلګۍ وې.

د زرینې د پلار کورنۍ ته یې په همدې ماښام خبر ورکړ چې له بامه را غورځېدلې ده. هغوی په همدغه ماښام د ملک کور ته په بیړه راغلل. چم ګاونډ او کلیوال هم خبر شول چې د جبارخان ملک نږور له بامه غورځېدلې او مړه شوې ده.

د ملک زوي ټوله شپه د زرینې د کټ تر څنګ په ژړا او سلګیو تېره کړه. هدیرې ته د جنازې د وړلو په مهال یې په کټ کې منګولې ښخې کړې وې او نه یې پرېښود چې څوک یې له ځایه پورته کړي.

د واده له یونیم کال تېرېدو وروسته بیا هم زرینه لا هماغه د ګل ناسپړل شوې غوټۍ وه چې خپل پېغلتوب یې ګور ته وېوړ.

د زرینې پلرنۍ سبا د هغې جنازه خپلې هدیره کې خاورو ته وسپارله، او د فاتحې پر ټغر د جبارخان ملک سره څنګ په څنګ کېناستل.

موده تېره شوه خو کلیوال د ریدي ګل ګلابي د وهلو په مهال دې خبرې چې «تاسو له حاجي ملک بابا نه پوښتنه وکړئ، زه ډېر مجبور یم.» په شک کې اچولي وو. نو د ریدي ګل بې‌رحمانه وژلو او په سبا یې د نږور له بامه غورځیدلو لامل یو باله.

پای

## مات رباب

له اوږدې مودې کورنیو جګړو او بدامنۍ وروسته په هېواد کې د امنیت د ټینګښت نه په ګټنې سره، موږ څو ملګرو وپتېیله چې د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته ګډ سفر وکړو. د سفر اړین توکي مو په ګاډي کې له ځان سره واخیستل. لومړی مو د خوست ولایت په لور سفر پېل کړ.

په لویو لارو کې د نویو واکمنو د امنیتي کسانو په پوستو کې له خورا ښه چلند سره مخامخېدو. دا مو هم لیدل چې د سپرلیو په کوم ګاډي کې چې به ښځینه ناسته وه، هغه ګاډي ته به یې له حیا سر هم نه وردننه کاوه.

موږ لا پخپلو کې د لویو لارو ساتونکو د نیک چال چلند په اړوند خبرې کولې چې په یو بل پاټک کې یو ږیره ور وسله وال چې د خپلو ملګرو په پرتله یې ږیره او څڼې اوږدې وې، راته د ګاډي ودرېدو لاس وښوراوه.

ګاډی مو د سړک یوې څنډې ته ودروه، همدغه څڼه ور زموږ یو تن ملګري ته چې ږیره کې یې سپین لګېدلي او تازه یې لنډه کړې وه وویل:

- «ګوره د مرګ استازی درته رارسېدلی خو ته لا اوس هم ږیره کې ګوتې وهې.»

زموږ ملګري ځواب ورنکړ. مخ یې هغه لورته واړاوه چې یو ښکلی ځوان په وینو ککړه خوله او شلیدلی ګرېوان په ژړغوني حالت له ځایه پاڅید. رباب یې له ځمکې پورته کړ، د رباب شلېدلي تارونه یې په خپلو ګوتو داسې ونازول لکه مئین چې د خپلې شهۍ ویښتان نوازش کوي.

دا ځوان سلیم نومېده چې ژوند یې له دغو تارونو سره ژور پیوند درلود. ده به په خپلو فنکارو ګوتو په دغو بېساه تارونو کې ساه اچوله او

داسې جادويي غږونه به يې ترې ايستل، چې هم يې د اورېدونکو روح تازه کاوه او هم پرې د ده د بېوزلۍ د ټپونو څړيکې ارامېدې.

د ټنګ ټکور په باندارونو کې به ځينو د ده د رباب په نغمو کې خپل دردونه هېرول، ځينو ژبو به بيا د خيال نيلۍ دومره ځغلولې و چې له خپلې شهۍ سره به ناست وو، د رباب د نغمو په بدرګه به يې راز او نياز کاوه.

بل به بيا د رباب په وچ لرګين کندول د پاسه له غځېدلو تارونو د دغه راز خوږو نغمو ايستل پر ربابي سليم خان د لايزال ځښتن[ج] پېرزوينه بلله چې فلزي تارونو ته يې ژوند ښښه، او په وچ لرګي او تارونو کې د دغه راز خوږو غږونو شتون به يې لکه په ګل کې پټه خوشبويي د پاک رب د خلقت کمال باله.

خو له بده مرغه داسې کسان هم شته د کوم څه په ارزښت چې نه پوهېږي؛ نو هغه له منځه وړي. د له منځه وړلو د دليل لپاره خپلې ناپوهۍ، ړوند باور او کينې ته د دين او مذهب جامه اغوندي.

دلته د سليم خان په مخ ټپونه د څو امېږو او ړوندباورو وسله والو کار دی؛ چې اوس په لويه لار کې د مات رباب او سليم خان څنګ ته ولاړ دي.

هغه کس چې زموږ ګاډي يې ودراوه، ملګرو يې ملاصيب باله. ده ته له نورو ملګرو ځان هوښيار ښکاريده او پدې ګومان و چې موږ به ورته د دغه کړني له امله شابسی ووايو.

ملا چې پاسنۍ شونډه يې نرۍ او له کښتنۍ يې ډېره لنډه او تر غاښونو يې نه رسېده، کله چې به يې خبرې کولې داسې ښکاريده لکه په پرانيستې خوله چې ګړيږي. که څوک به ورته ښه غوږ او ځير نه شو په خبره يې سم نه پوهېده. موږ ته هم چې کله مخامخ ودرېد، زموږ ملګري ته يې چې د ږيرې په باب څه وويل. هغه يې هم په خبره سم نه ؤ پوه

شوی، خو موږ گومان وکړ ښايي د ربابي د دغه ويرژلي حالت د ليدو تر اغېز لاندې دی هم ډارېدلی وي ځکه يې ځواب ورنکړ. خو وروسته يې موږ ته وويل چې د ملاصيب په پرانيستې خوله د لفظونو د ناسمې ادايني له امله يې په خبره و نه پوهېد، ځواب يې ورنکړ.

ملاصيب د اځل په لوړ غږ ا وپه غوسه وويل:

«موسيقي حرامه ده او لدې لارې چې کومه نفقه تر لاسه کېږي هغه هم حرامه ده. موږ د منکراتو او د مفسدينو د فساد خپرولو مخه نيسو.»

ملا لدې خبرې وروسته زموږ تائيدي ځواب ته منتظر و، خو موږ نه د تائيد او نه د رد ځواب ورکړ.

سليم خان چې يې د سپرلۍ له يو گاډي له خپل رباب سره راکښته کړې او گاډی ترې تللی ؤ، په مخ يې لا وينې بهېدلې. موږ په گاډي کې له ځان سره واخيست چې تر روغتون يې ورسوو. تر شا مو واورېدل چې ملا خپلو ملگرو ته وويل:

- «دا راته هم فساد خوښوونکي ښکارېدل.»

پای

## «...موسکا دې له زړه نده!»

د جلاوطنۍ په لړ کې په دنمارک کې د پتمن د اوسېدو نهمه او د پناه غوښتنې د منل کېدو درېمه میاشت وه. دې سربېره پر دې چې د خپل ټاټوبي له تودې غېږې محروم شوی ؤ، تر شا ترې کورنۍ او ماشومان هم پاتې ول. پتمن له افغانستان تر د نمارکه پر اووه هیوادونو راتېر شوی و. په ځینو هېوادونو کې په واورینو ځنګلونو کې پر غرونو راوښتی او په شپو او ورځو یې د لارې تنابونه نغاړلي ول. خو په هیڅ هېواد یې د وطن مینه نه ماتېده. د ده پردېس زړه دوه درنو دردونو ځوراوه، د وطن د مهربانې مور له غېږ جلاوالی او ځنګل قانونه هېواد کې تر شا پاتې کورني نامالوم برخلیک. که تن یې دلته ؤ خو اند او خیال یې هیڅکله هم له خپل ټاټوبي سره اړیکه نه وه پرېښې. په لار به روان ؤ، لکه بایللی جوارګر تل په سوچ کې. خو له بایللي جوارګر زیات ځورېده، ځکه چې جوارګر پېسې بایلي، ده وطن بایللی ؤ.

د دنمارک هیواد د منل شویو پناه غوښتونکو د قانون له مخې باید منل شوی پناه غوښتونکی په اوونۍ کې درې ورځې دنمارکي ژبې د زدکړې کورسونو کې ژبه زده کړي او دوه ورځې د پراکتیک (عملي کار) په نوم په کارځایونو کې کار وکړي. پتمن هم په دغه لړ کې په یوه کارځای کې پراکتیک درلود.

دلته د بهرنیو کډوالو د ورځنیو چارو د څارلو او ستونزو د حل لپاره په کمون[١] کې یو کس ګومارل شوی وي. دغه کس باید وخت په وخت د کډوال له زدکړو او کارځای کې د کار له څرنګوالي ځان خبر کړي. نو وخت په وخت هم د ښوونځي له ادارې مالومات اخلي او هم په

---

١ *د ښاروالۍ ناحیوي اداره

کارځای کې د کار له پاژوال او کډوال سره ګډه ناسته کوي. په دغه ناسته کې د کډوال په اړوند د کارځای له مشر نه د مالومات اخیستلو په ترڅ کې د کډوال نظر هم د راتلونکي لپاره د هغه د پلان او په دنمارکي ټولنه کې د جذبېدو په اړوند پوښتي.

***

په دغه ورځ پتمن په دغه راز یوه درې کسیزه کتنه کې ناست ؤ. د دې ناستې دوه ګډونوال دنمارکۍ مېرمنې پيیه او کریستینا وې. هسې خو هم دنمارکیان د لوړ کولتور او تهذیب لرونکي دي، زیاتره یې له خپل مخاطب سره د موسکا په بدرګه، په پسته او نرمه ژبه خبرې کوي؛ خو پيیه چې د اړوند کمون د کارېدلو یا دویم لاس توکو د دې لوی پلورنځي چې پتمن پکې د کتابونو د راجستر او پلور په برخه کې پرکتیک درلود مشره وه. پيیه په وزن درنه یا د د اکترانو په اصطلاح اضافه وزن وه، خو زړه سوانده او مهربانه مېرمن وه. کله چې به خوني ته د ننه شوه نو د خونې فضا به د مهربانۍ خوندورنګ واخیست. له ټولو کار کوونکو سره یې چلند صمیمي ؤ. ان دا چې د هغوی د شخصي ستونزو په حل کې به یې په ورین تندی ورسره مرسته کوله.

کرستینا نرۍ لوړه مېرمن وه، په لومړي نظر داسې مالومېده چې ګواکې له موسکا سره نابلده او د خندا وی خو یې هډو په شخصي قاموس کې نشته. چا ته د خیر رسولو عادت یې هم نه درلود. دواړو مېرمنو د خپلې دندې له مخې د پتمن په اړوند هر اړخیز مالومات درلود خو سره لدې یې د تېر ژوند، دنمارک ته د راتلو لامل، دلته له اوسېدو رضایت، د دنمارکي ټولنې په اړوند نظر او بېرته خپل هېواد د تګ د ارادې په باب او دې ته ورته زیاتې پوښتنې چې وار وار له پناه غوښتونکو په بېلابېلو لیدنو کتنو کې کېږي، وکړې.

پتمن چې د عمر له مخې له دواړو مېرمنو سره ښايي همزولی یا د یو

کال نیم په توپیر مشر یا کشر ؤ، خو زدکړې یې له دواړو سوا وې. دوه نیمې لسیزې د خبریالۍ مسلکې تجربه یې هم درلوده، هرې پوښتنې ته مناسب ځواب ورکړ. د کتنې په وروستۍ شېبو کې مېرمن کریستینا پتمن ته مخ واړوه، وېویل:

- «که تاسو څه ویل غواړئ؟ مهرباني وکړئ!»

پتمن چې په دنمارک کې یې د اوسېدو نهمه میاشت وه او پدې موده کې یې د دې ټولنې د کولتور په باب لږ و ډېر مالومات درلود او د دنمارکیانو له ورځنې چلند سره اشنا شوی ؤ، خپلې خبرې په پوښتنه پېلوي، وایي:

- «غواړم د ځان په باب ستاسو په نظر پوه شم؟»

کریستینا بې له خندېه وویل:

- «ما خو تر اوسه یوازې دوه ځل له تا سره کاري کتنې درلوده. ښه ده چې د دې پوښتنې ځواب ستاسو د کارځای مشره پییه درکړي.»

پیې رښتیا هم دکریستینا په پرتله پتمن زیات پېژنده او وار وار یې ترې په هېواد کې د پاتې کورنۍ او اولادونو په باب پوښتنې هم کړې وې. تر ډېره د پتمن په دننې درد او اندېښنو هم خبره وه. له پتمن نه په موسکا وپوښتل:

- «له کومه اړخه؟»

پتمن ځواب ورکړ:

- « تاسو ته بهتره مالومه ده چې د نړۍ په ختیز او لوېدیز کې ملتونه له یو بل سره د مذهبي باورونو او دودونو له پلوه ډېر توپیرونه لري. په دنمارک کې زما د اوسېدو په موده کې راته جوته شوه چې زموږ.او ستاسو په کولتور کې دغه توپیرونه کله

کله محسوسېږي. ډېر څه چې موږ ته ښه نه ښکاري، دنمارکیان یې ښه ګڼي او یا یې په وړاندې بې تفاوته دي او یا برعکس. مثالونه یې ډېر دي خو نه غواړم چې ستاسو کاري وخت پې ونیسم. ښايي له ما پخپل ورځنیو کړنو کې داسې څه شوي وي، چې د کوم همکار د خپګان لامل شوی وي. نو غواړم چې زما تېروتنې راته وښایاست چې بیا یې تکرار نکړم.»

پیې وویل:

- «ما له همکارانو سره تر اوسه ستا په چلند کې داسې څه ندي لیدي چې د چا د خپګان لامل دې شي. ته زما له انده یو مهذب انسان یې. کله چې کارځای ته راشې له ټولو همکارانو سره د سلام او روغبړ په مهال دې همېشه موسکا پر شونډو وي. دا ستا د عالي شخصیت او تهذیب ښه بېلګه ده چې زموږ د ټولو خوښېږي. خو داسې ښکاري چې دا موسکا دې له زړه نه وي.»

پتمن وار د واره ځواب نه ورکوي. د پیې لدې پوښتنې سره په ذهن کې پخپل وطن کې د زدکړو او مسلکي کار د ښو وختونو، خوږو خاطرو، د کورنیو جګړو له امله د خونړیو پېښو او د جلاوطنۍ له دردونو یوه انځور کاږي. پر دغه انځور شوې تابلو سرېره د پردېسې بې هویتۍ درد لکه پر ټپونو د مرچو دوړول یې ستونی ورډکوي. سترګې یې غبر ارادي نمجنې کېږي. زیاته هڅه کوي چې ورسره ناستې دواړه مېرمنې یې په حالت پوه نشي، خو الوتي رنګ او د سترګو نم یې د مخ داسې ویړلی انځور د دوی مخ ته ږدي چې پییه سملاسي وایي:

- « زه د خپلې پوښتنې له امله بښنه غواړم، که ځواب درته ستونزمن وي مه یې وایه.»

پتمن د خپل حالت د قابو کولو لپاره له مخته پرتو اوبو نه ګیلاس کې

اوبه راخلي او څښي يې. له دواړو سره د سترګو اړيکه ټينګوي، چې ګواګې خبرو ته يې پام راواړوي. خو پيې ته وايي:

- « زما په اړوند ستاسو له تعارف منندوی يم. نه غواړم چې ستاسو پوښتنه بې ځوابه پرېږدم. ما ته د پوښتنې نه ځوابول د پوښتونکي په وړاندې يو ډول بې تفاوتي ښکاري. زه د هيڅ چا په مقابل کې بې پروايي نه کوم او ستا غوندې مهربانې او مهذبې مېرمن په وړاندې خو هيڅکله هم نه. خو که د اورېدو حوصله يې لرئ غواړم زما د موسکا په هکله ستاسو شک ته قانع کوونکی ځواب درکړم؟»

پيېه په سترګو کې کريستينا ته داسې وکتل لکه هم‌غږي چې يې غواړي، وايي:

- «که ته غواړې موږ يې د اورېدو حوصله لرو.»

پتمن بيا هم له اوبو يو ګوټ کوي او خبرې پيلوي:

- «تر هر څه لومړې بايد ووايم چې د خپل ټاټوبي پرېښودل امتياز نه بلکې ستره جزا ده. وطن له ډېر مجبوريته پرېښودل کېږي، نه له مستۍ. که لنډ ووايم؛ زه پخپل هېواد کې نه ډېر شتمن وم او نه ډېر بېوزله او نيستمن. نه مې ډېر د لوړې کچې ژوند درلود او نه مې له چا نه د ژوند مخته وړلو لپاره مرسته غوښته. په خپله مياشتنۍ تنخا مې د خپلې کورنۍ اړتياوې پوره کېدې. په حکومتي ادارو کې مې د خپلو زدکړو په برکت مسلکي کار کاوه، پخپله دنده راضي او له همکارانو سره له د يوې کورنۍ غړي خوښ هم وم. خو له بده مرغه په هېواد کې مو د کورنۍ جګړې اور بل شو. دا چې جګړه ولې، د چا يا کوم بهرني هېواد لخوا پر افغانانو وتپل شوه دا اوږد بحث او زموږ د خبرو له سکالو بهر دی. خو دا ويل اړين بولم چې

د سولې او جګړې په ټولو حالاتو کې ما لکه بل هر افغان له ماشومتوبه تر دې دمه خپل هویت او پېژندګلوي درلوده.
په ماشومتوب او تنکۍ ځوانۍ کې د کلیوالو همزولو د لوبو ملګرې وم. په ښوونځي او پوهنځي کې د زدکړو په مهال د ځینو ټولګیوال او له ځینو سره مې په یو ښوونځي او پوهنځي کې زدکړې کړې وې. له مسلکي زدکړو وروسته په بیلابیلو ادارو کې کارونه کړي دي. په دغو ټولو وختونو کې مې پر خپلو خپلوانو او کلیوالو سربېره له ډېرو کسانو سره دوستۍ او پېژندګلوۍ درلودې، چې له امله ما خپل پېژند او هویت درلود. اوس ما په جلاوطنۍ کې نه یوازې وطن بایللی، بلکې هویت مې هم بایللی دی. اوس که له سهاره تر ماښامه هم په ښار کې وګرځم نه راته کوم همزولی پخپل نوم غږ کوي، نه کوم کشر د لالا غږ.. نه مې کوم همکار مشوره راکوي او نه یې رانه غواړي. نه مې هغه د باندار ملګري دلته شته چې د اوونۍ په پای کې به مو ګډې ناستې درلودې. دلته مې هډو څوک پېژني هم نه. له وطن او هویت دواړو محروم یم. نو تاسو ووایاست! چې په داسې ژوند کې به څه خوښي شتون ولري؟ د زړه له خندا او موسکا لپاره لامل به څه وي؟!»

پای

# د مور ناپایه مینه

د جلاوطني د ترخې پردېسۍ یو تر ټولو ډېر ځوروونکی درد و رنځ دا هم دې، چې پر نورو ډېرو محرومیتونو سربېره، پردېس کس د مور له ورځني چوپړ او لاس ښکلولو هم محروم وي.

د څو ترخو او زړه ماتوونکو پردېسو کلونو له تېرېدو وروسته مې د مور او پلار د زیارت کولو هوډ وکړ. مور او پلار دواړو خپله مینه زما په زړه کې داسې تازه کړه چې په پاخه عمر مې بیا د ماشومتوب احساس وکړ. د همدغه پېزوینو او د میني د بیا محسوسولو د تندې له مخې مې د دوی زیارت او دُعا د خپل ژوند لپاره لکه ساه اړینه بلله، او کال په کال به مې د دوی په لیدو د زړه توان او د سترګو نور زیاتوه. خو زما له بدمرغۍ خدای(ج) مې له سر نه د پلارجان د محبت سیوری واخیست، دغه پېرزوینه او مینه نیمګړې شوه، اروا دې ښاده وي.

خو له نېکه مرغه لا تر اوسه د مور له لازواله او ناپایه مینې خړوبیږم. که د خپل روغتیایي حالت او پردېس ژوند د بېلابېلو ستونزو له امله هر کال د مور له دُعا بې نصیبه شم نو بیا تر هغو چې نه مې وي لیدلې د ژوند خوند مې پیکه وي. نو د مور زیارت مې پر ځان فرض ګڼلی دی. د دغو لیدنو په لړ کې له مور سره د مخامخ وروستۍ لیدنې د خدای پامانۍ شیبې - د مور د بې کچې او ناپایه مینې ډالۍ د ژوند تر پایه راسره وي.

زه چې خپل هېواد ته د مورجان د زیارت لپاره تللی وم ؛ له مور سره د څو اوونیو په ګډ ورځني ژوند کې سره لدې چې د خپلو درملو خوړلو لپاره د نورو مرستې ته اړ وه، خو سهار او ماښام به یې له مانه چې د زړه د ناروغۍ درمل مې خوړل، پوښتنه کوله:

- «زویه درمل دې وخوړل که نه؟ قضایي پکې مه راوله، خدای مکړه چې تکلیف دې زیات نشي. دا پوښتنه یوازې یوه پوښتنه نه وه؛ دا د مور د زړه ټوله مینه، ویره، دعا او ژوند ؤ.»

**ما مې د مور لـــــه مینې ځار کړې**
**تبه زما وي خوله د دې وتلې وینه**

په دغه ورځ کله چې لمر د غرونو تر شا ورو ورو مخ پټوه او خپلې زرینې وړانګې یې ټولوې، مور مې له ما سره مخامخ په توشک ناسته او په کمزور سترګو یې ماته په ډېر ځیر کتل. سترګې یې هیڅ بل خوا نه اړولې. د مورجان د دغه حالت په کتو، ما هم جرأت ونکړ چې څه ووایم او د خیال نیلی یې له ځغاستې راوګرځوم. د مور له چوپتیا او ځیر ځیر کتلو سره زه هم له ارادې پرته د جلاوطنۍ ترخو شیبو په خپله لمن کې ونغاړلم، یوه شېبه یې له ځان داسې پردی کړم چې هډو پوه نه شوم چې مور مې څنګه زما مخ ته دومره نږدې ناسته ده. څکه مور مې د امسا په مرسته پاڅېدای شوه، ما یې نه له ځایه پاڅېدل ولیدل او نه ورسره څنګ ته امسا. خو مور مې زما خوا ته په ناستې راښویدلې وه. پخپلو کمزورو سترګو یې زور واچوه چې زما مخ روښانه او په غټو سترګو وګوري. ویې ویل:

- «خدای(ج) پوهېږي که لیدل مو سره بیا وشي. ته چې بیا کله راځې زه به د تورو خاورو مېلمنه یم.»

د مورجان عمر مې له نهو لسیزو اوړي، لاسونه یې کمزوري، پښې یې د دردونو تر بار لاندې سترې وي، خو زړه یې لا هم د مور زړه دی؛ هغه زړه چې د خپل اولاد د درد لپاره تر خپل درده ډېر ځوریږي. هغه به په سختۍ له بستره راپاڅېده، د لاس د لرګي په مرسته به یې څو ګامه اخیستل، خو کله چې به زه د سهار له لمانځه وروسته بیا بیده شوی وم، مور به مې د هغه خونې دروازې ته کتل چې زه به پکې بیدېدم. چې

زه به له خونې راووتم، د هغې په سترو سترګو کې به ناخاپه د ژوند یوه رڼا وځلېده. داسې به ښکارېده لکه د عمر ټولې سترياوې يې چې زما د مخ په ليدو هېرې شوې وي.

ما چې به څومره خپلې مور ته کتل هغومره به مې د هغې ناپايه مينه لکه د لمر د وړانګو تودوخه پر خپل بدن محسوسوله. او پدې ټکې مې باور پخېده چې ښايي مور به کله ناکله خپله ساه هيره کړي، خو د زوي د ټوخي اواز او د درد زګېروی به يې هېڅکله له غوږه ونه غورځي. ځکه مور هغه ونه ده چې هيڅکله نه غواړي اولادونه يې د مينې له سيوري بهر پاتې شي؛ هغه د خپلو اولادونو د ارام لپاره شنه پاتې کېږي، که څه هم خپله له د ننه ورو ورو وچېږي. داسې ميندې د وخت په کتاب کې نه زړېږي.د هغوی مينه د سپينو وېښتانو، رنځېدلو هډوکو او کمزورې بدن تر شا هم هماغسې ځوانه پاتې وي؛ لکه د دعا هغه تود لاس چې د اولاد پر سر ايښوول شوی وي.

خو د مخه ښې په مهال چې کله له کوره راوتم مور مې په خاموشه نمجنو سترګو راپسې ګوري. غږ يې نه اورېدل کېده، خو د زړه غږ يې تر آسمانه پورې ما د مجبورې پردېسۍ د ختمېدو په دعاو بدرګه کوي او تر شا مې د اوښکو ډک جام راپسې پاشي. له ځان سره وايي: «خدايه، زما د عمر پاتې سلګۍ هم زما د زوی په ژوند ورزياتې.»

خو زه بيا وايم:

**خــدايــه!بې مــوره ژونــد رانــکــړې**
**بې موره ژوند خو د بدبختو خلکو وينه**

سترښښتن(ج) دې د مور د نشتون درد نه راکوي.

پای

**د لیکوال په اړوند**

محمدصفر خواریکښ د کونړ ولایت په اسدآباد کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې تر پنځم ټولګي د عمراخان په منځني ښوونځي کې او شپږم ټولګي یې په کابل کې د رحمان بابا په لیسه کې پیل او په ۱۳۴۷ل کال کې له دغه لیسې فارغ شو.

د کابل پوهنتون کې یې د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې د لیسانس لاسوند واخیست.

په ۱۳۵۴ل کال کې یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو ریاست کې دنده پیل کړه.

په دوام یې د «کهول»، «پکتیا»، مجلو، «د ثورانقلاب»، «حقیقت انقلاب ثور»، «انیس» ورځپانو او د ژورنالیستانو اتحادیه کې مسلکي دندې ترسره کړي دي.

له ۱۳۶۷ل - ۱۳۶۹ل د ننګرهار ولایت مرستیال والي و.

د هیواد په رسنیو کې له مقالو، سرمقالو او سیاسي تبصرو له خپرېدو سربېره یې تر دې دمه د قلمي زیار پایله په دې ډول ده:

**چاپ شوي کتابونه یې:**

۱. افغانستان له هورا تر تکبیره
۲. دنمارکي - پښتو سمندرګي
۳. د ټولې نړۍ متلونه له دوه سوه ژبو ۹۰۰۰متلونه او ګړنې- ژباړه
٤. پردېسې څرېکې - شعري ټولګه
٥. د هیلو کر - شعري ټولګه
٦. د روڼ اند نقش- ژباړه
۷. د معاشرت اداب - نالیکلي ټولنیز قوانین
۸. د مور ناپایه مینه- همدا د کیسو او کیسه ګیو ټولګه

**ناچاپ کتابونه:**

۱. سور څڅوبې - شعري ټولګه
۲. مینه عبادت دی - شعري ټولګه
۳. وختونه او ویرونه- شعري ټولګه
٤. ما به رڼا کرله - شعري ټولګه
٥. ولسي کیسې او کیسه ګۍ